پوهاند دوکتور زیار

پښتو شعر څنګه جوړېږي؟

(سیلابوتونیک)



بندو بست دپښتو شعر ماپیداکړ
گڼه شعر دپښتو، غیـــر سیال
(خوشال)

پوهاند زیار دیوه ژبپو هانـــد، ادبپو هاند، او د ۳۳ کلنی مخینـــی شاعر او لیکوال په توگه تر خپلـــو اوږدو څیړنو وروسته دی پایلیـــته ورسید چی دهری ژبی او بیا پښتو پویتیکس او فو نیتیکس (شعرپوهه او غږ پوهه) سره نه شلید و نکـــی اړ یکی لری او په دی توگه دپښتـــو شعر رغښت سیلا بو تونیك (څپیز څجیز) دی، نو دادی دلومړی څـــل لپاره د همدغه سیستم ددودونو او دویونو (قواعدو او قوانینو) پـــــه را ایستنه بریمومی اوزړو ببولالوته دپای ټکی ږدی. څنگه چی دی شعـــر «موزونه او دقیقی» نه، بلکی«موزونه او مخیله »وینا بولی، نو «نـــوی آزاد شعر » رښتینی شعر گڼیاودرغښت مخبیلگه یی ولسی آزادشعر (لنډی، سرو کی ...)، نه ارو پایی هغه .

دغه کتاب دژبو اوادبیاتودپوهنځی دادبی فنونو، عروضو او قافیی اوڅه ناڅه متنپوهنی دتکسبږ کرنو ځای نیولای شی .

پښتو به لمبیج:

پښتو شعر څنګه جوړیږي؟

(څېړنه - څېړنه)

PROPERTY OF ACKU 3182

پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

غویی، ۱۳۶۹

هغوی ته چې د شعر پر ازادۍ باور لري

کتاب: پښتو بد لمیچ: پښتو شعر څنګه جوړېږي ؟

لیکوال: پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار .

خپرندوی: د اطلاعاتو او کلتور وزارت .

پراله پسی ګڼه : ۳۷۶

چاپ نیټه : غویی، ۱۳۶۹ ـ می، ۱۹۹۰

چاپ شمیر : ۲۰۰۰ ټوکه.

چاپځای: مونو ټایپ ـ دولتي چاپخونه .

یادښت

که څه هم دا به یوه ښنده (مبالغه) وي چې «اصیل شعر» تر دویم نړیوال جنګ را وروسته منځته راغلی دی، مانا داچې د زرګونو دانتهوو، ګویټه وو، پوشکینانو، فردوسیانو، حافظانو، خوشالانو او رحمانانو زیرندویي (ایجادګري) دي هیڅ پرهیځ او هیرپرهیرو ګڼل شي څکه وسهال د تیر مهال او او ستر مهال تر منځ یو پول دی او له منځه تللو سره بي هرڅه له منځه ځي مګر دا به هم کورته بي سرو بوله وي چې دانساني تولنې په تولیز بشپړ تیایي بهیر کې د شعر او سنې پرمختللې نړیوال دریځ له پامه وغور ځوو. پرزړو او زړو لارو بسیاپاتي شو او پرهما غوزړ وپاتي شونو بیا بیا شخوند ووهوچې پیږي پیږي پري د بي‌شمیر و«ناظمانو» ژامي او ښتي دی.

نن سبا «شعر په ګره، کیمنکلي او آهنګینه ژبه، د فکر و خیال عاطفي ترون» یاد د غه پیژند (تعریف) د نوښتګر اسماعیل خو یي په‌خپله ژبه «شعر ګره خورده‌ګي عاطفي اندیشه وخیال است دَر زبان فشرده و آهنګین» بلل شوی دی او په دی دول څلور ګوني رغښتي او بنسټیزرغنده توکونه (متشکله اجزا) لري: فکرخیال ژبه آهنګ (وزن).

په دی تو که پښتو شعر په دغه رښتینه مانانه یوازي په تیر مهال کې بلکې تراوسه هم لاسم هدوزیږیدلی نه دی، خو بیا هم له نو رو ژبو تو لنو سره په پر تلېزه تو که ښا یي له تیر مها

تر وسه‌ها له پوري د ریښتیني پښتو شعر استازي د لاس گوتو له شمېره تیرې ونه کړي .

ننني ادیبوهان او کره کتونکي د «نظم» او «شعر» تر منځ یوه ټاکلې بریدلیکه کاږي او توپیر دي بس نه راوړي چې شعر (موزونه او مقفی وینا) ده ، ځکه هغه شه چې تر دغه سرلیکه لاندې راځي ، تش (نظم) دی او بس . له بده مرغه په پښتو کې تر بلې هرې یادې ژبې پر شعر باندې د نظم پله ډېره درنه ده او دا چې د شعر پر دغه ناځېرجو لیز (شکلي) ارخ ، یا په بله وینا نظم باندې ولې دومره زور اچول شوی دی ، غبرگون یې همدا دی چې پښتو نظم پر سیلاب او تبون پاشلی او خچ ولاړ دی او دا څرگنده ده چې د نږدې گاونډي او خپلواني ژبې (پارسي) پر خلاف ور باندې عربي متریک (عروضي) سیستم په زوره تپل شوی نه دی. نو له دې کبله دا هیښنده (حیرانوونکې) نه ده چې په دې ورو ستیو کلو کې د پښتو نظم جوړونې بازار ډېر تود شوی دی او په تیره بیا چې ورته د انقلاب له برکته د خپروونې او ما دې امداد یني لیاره له هره پلوه آواره شوې ده . ډیر ناظمان پیاد دي لپاره چې دیرش څلویښت او یا ان پنځوس کاله د شاعرۍ (!) مخینه لري او د چاپېره د خوځو چاپي او ناچاپي دیوانونو یاغونډونو (مجموعو) څښتنان دي ، نو د نوي او آزاد شعر پلویان همې پیښا و وان بولي او د تیرو فرهنگي ویاړونو د پرېښو لو تور پرې تپي . له دوی باید داپوښتنه وشي چې آیا دوی پخپله په ریښتیني مره د خوشال ، رحمان ، شیدا او حمید شعري هنري آرونه (ضوابط) خوندي ساتلي دي ؟

که دوی خپلو نظمونو ته په دې شعر وایي چې هیواد پالنه انقلاب ، سوله او نورې ورځنۍ سکالووې (موضوع گاني) یې پکې

را نغښتې دي، نو بیاهم سخت تیر وتلې دي ، ځکه هغه څه چې نظم
پر شعر بدلوي ، هغه یې هنري رغښت دي او دغه رغښت یې د تخیل
او تصویر پرته بل څه نه شي کیدای ، دا به هم ورسره ومنو چې
دوی نظمونه به هم لیودیر انځورنیم (لکه تشبیه ، مجاز ، استعاره
کنایه . . .) ولري ، مگر څه راز انځور ؟ آیا شونډې له لال ، مخ
له گلاب، سترگې له بادام ، وروځې له لیندې او بانه له غشیو سره
هر نکوو یا استعاره نوو څپن انځوریز نوښت او ارزښت هماغسې
ساتلي دي او دومره خوند او را کښون پکې پاتي دي چې د عاطفي
او ولولیز ټرون جاج (مفهوم) سمبال کړای شي ؟ تر دې کچې چې
که په یوه پیپلي یا آهنګیني وینا کې یوازې په تخیل ، تصویر او
تمثیل بسنه وشي او په فکري منځپانگې پسې یې سرونه گرځول
شي ، بیاهم د شعریت پوړې ترلاسه کولای شي ، البته دپا خبره شعر
د شعرلپاره ، مگر په سرچپه ډول که یوازې دا بل (ژ ب ـ اندیز) ارخ
یې په پام کې ونیول شي او دغه بل (هنري) ارخ له پامه وغور
ځول شي ، بیا نو گرد سره شعر گنل کیدای نه شي . همدا خبره ده
چې ځینو پخوا نیو ادیبو ها نو شعر یوازې « موزون او مقفی ـ
کلام » نه ، بلکې « موزون او مخیله کلام » بللی دی .

دا چې په دغه ځیرنه کې د پښتو د شعر پر آهنگ (وزن) خبرې
شوې او د لومړي ځل لپاره سیلا بو توپیکې دو دونه او دویونه
(قواعدا وقوانین) یې را ایستل شوي او مخ ته ایښوول شوي دي
په دې مانا نه ده چې زه بیا هم د نا ظمانو د لا پراخیدنې لپاره لمن
وهم ، بلکې په دې موخه چې یو خوا را تپل شوي عربي عروض او
قافیه له ذهنو نو څخه پاك كړم او بل خوا د نوي او آزاد شعر
د منځته راتگ ودې او غوړید الپاره لاره چاره آواره کړم او تول په

دي باوري کرم چي «پښتو نظم» دومره گران کار نه دی او لانیاد مړیی په تقلید گران هم دی خو بیا هم باید پری دسی بیځایه ازرژي و نه لگول شي بلکي تول زور او ځواك او هلی ځلی د «پښتو شعر» لپاره پر کارروا چول شي. هن که څوك غزل بول وکړای شي ، دقافیي اوردیف په زندان کي دننه دننه او سنی پښتو شعر له کرغیړ نتیا (ابتذال) او انحطاط وژغوري، موږ به هیڅکله ورته د آزاد شعر سنگرونه نیسو . مگر په ضرولو ستر گو لیدل کیږي چي او سنی غزل یاد اقتفاء او تقلید په گردلو لو غړن دی او له دی سره دابتذال خواته روان دی او یا هم دنوښتگرانه غزل په نامه در تل شوی فورما لیزم خواته ورنژدی کیږی. ځینی ناظمان دخپلی شاعری دزبا دلپاره دالاسوند وراندی کوی چی سندرغاړی یی شعرونه په پوره خوند بولی ، بې له دی چي فکر وکړی، هغه خوند د ده په شعر نه ، بلکی په موسیقی پوري اړه لری ! له دی کبله پر دی ټینگار کوو چی له او سنی بدانکړ او کرغیړ نتیا څخه د پښتو شعر د ژغور لپاره یوازی او یوازی «نوی آزاد» شعر دی او بس . «آزاد شعر» به په رښتیا سره د پیړیو پیړیو او بیا په تیره له اوسنی ابتذاله «آزاد» او «نوی» وی.

. . . آزاد شعر دی هماغه :
چي ترگونډو لاندی نه کړی
دمهملو بې ماناوو
کرغیړنو تکراری. شانی لفظونو
دبی کچه ناآشناوو
او یو دوله پورو پیوندو . . .
خپل رښتینی اولوښینی

ښکلا پېژاو هنري جوهر هېڅکله . . .

نو،

په راشي ،د نظمونو جوړوونکو،

داو لړو او ورستو لړو پېښو نکو !

دړي وړي کړي ورونه

دجولېزو بې ښ ستو ښکلا گانو

دغزلو او بولو

ددوېزو ،څلوريزو . . .

اواوړد واوږد وښدو دزندانونو

دزګه ما نا، مضمون ودښکلا په هاند وهڅه...

PROPERTY OF ACKU

۱ ــ څپرکی

د شعر څلور ګوني رغنده توکونه

(ژبه ـ وزن ـ خيال ـ فکر)

۱ ـ ۱ : شعر، په ګړه ښکلې او آهنګينه ژبه د خيال وفکر عاطفي ترون ته وايي ، په بله وينا : شعر د احساس واقعيت او تخيل ښکلې او رنګينه څرګنده ده چې آهنګ (وزن) لري او لوستونکي او اوريدونکي ترې خوند اخلي . شعر د هنر څورا لوړ ډول (نوع) دی تر ټول هر ډول هنر يې د ګر ليو ډېر په ښکلې ژبه ټيږند و په هر څه کې دغو توکوله لامله چې د څرګندنې وسيله يې ده ، لنډ ، ژورکه او محدود دی .. . شعر په داسې ويونو څرګندونه کومې چې هم ګوډي او هم منظره او هم ځانګړی افاده شوی تصور ، همدا څېره ده چې شعر د نورو هنرونو توکي (عناصر) په خپل ځان کې رانغښتي دي ... (نوستوه ۲۷ ـ ۲۷۶ مخونه د پيليمسکي په اخځ) . په دې توګه د ښه او روښانه څلور ګوني رغنده توکونه (متشکله اجزاء) ژبه ، آهنګ يا تول (وزن) ، انګېر (خيال) او اند (انديښه) د شعر دمستي جاج لګوونکي او بيا څېره د شعر ماڼۍ پر دغو څلورو ستنو ولاړه ده .

۱-۱: ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهېدنې د ټولنیزې اړتیا له مخې د دوی د ګډه له پېژکار او ګډ ژوند په بهیر کې را منځته شوې ده، له ځان خبرۍ (خودآګاهي یا شعور) سره همهاله او همغاړې (همنشاء) ده دا مانا چې انساني ځانخبرۍ د ژبې غوندې د دماغي پوهاني اړتیا زیږنده ده او لا په رښتیني توګه شعور لومړی ځلې ځان د ژبې په جامه کې را څرګند وي او رښتیاپنه (تحقق) مومي (کاسپر-وو کل ۱۳۲). ژبه د یوې ټولنیزې د نده یې (کسبي) او څه ناڅه د تړوني «اتفاقي» پدیده ده توګه له ټولنې سره سمه او پاللېږه وده او بشپړتیا مومي او مړګ و ژوند یې هم د ور پورې تینګ غوټه دي. همغسې چې انساني ټولنې له خورا ساده ګۍ څخه مخ پر پرمختیا او بشپړتیا یون کړی دی، د هغې ورسره ژبې هم همدغه بهیر وهلی دی. لومړی بڼه یې هسې د لاس، سرو، ګوتو، سترګو، وروځو، برو، شونډو، څاپړو ژبې، اوږو او نورو غړو څخه ځوني او نغښتې (اشارې) وې. بیا یې چیغو پړو څوړونو، چغو پغو او شور ماشور ته لوړتیا موندله او په پای کې یې ټاکلو او ټلیو (مرتبو) وییزو او اوریزو نوموتونو (قابل تسمیه) توکو ته، یا په بله وینا ښوا او سیوالو (نومونو یا وییونو) ته وده وکړه چې همدغو نومونو یا وییونو، په بله وینا ښوا او سیوالونو سره بیا یو له بله پر له پسې او اوډلي (منظم و مرتب) اړیکې پیدا کړل مانا دا چې رغاونیز (ساختاري) دودونه او دوبونه (قواعد او قوانین) یې و موندل او پر یوه ځونداله (سیستم) بدل شول، یا په ډېره ساده وینا، پښوییز (ګرامري) شول او له دې سره د پوهونې او پوهېدنې (کامونیکیشن) یوه غوره ترینه او انساني ترینه وسیله وګرځېده.

ګڼه یا معیاري ژبه په دې مانا چې یوه بو ازینې لیکنۍ بڼه ولري او د بلابېلو ګړدودو (لهجو) یوه ګډه امتیازي وکړي. غوره پوهنیز

(فونولوژیکي)، ګرامري (مورفولوژیکي) او نحوي له پلوه (نحوي) څېړلونه (واریښتونه) یې سره یو (توحید) شوي وي او په ویې پانګه برخه کې هره ګړدودي (لهجوي)، زړه (ارخاییکه)، نوي رامنځته یا خپلسي (نیولوګیستي) او پردي پلوه (دخیله) پانګه یکې پهیوه برابر ګډون ګهلري او په دې توګه یوه یوازېنۍ کره ټولیزه ژبنۍ پانګه ترهراړوند ګړدوده ډېره پراخه او رنګارنګ وي. کښکلي (فشرده) داچې ترو سې وسې یې د جولي (لفظ) او مانا ترمنځ انډول په پام کې وي اولا زیاته هڅه په دې کې وي چې په لږه جوله کې ډېره برخه را څرګند کړشي. ښکلي دا مانا چې دګړنۍ ژبې غوندې له هغو توکو ډډه وشي چې سپکتیا (رکاکت) او کرغېړنتیا (ابتذال) لري، او دچا خبره (ادبي) وي. آهنګینه (موزونه) داچې تول وتال ولري او له موسیقي سره اړخ ولګولای شي، که څه هم قافیه اوردیف چې د آهنګینه والي کم رغنده توک نه، یلکي، دوهمې څېرمه (تفنني) سرپاري ښلل کېږي، ونه لري. په دې وروسته کرښو کې د شعر په دغه بنسټیز رغنده توک «وزن» یا تول «لږ څه زیاته رڼا اچوو:

۱ - ۲!: تول (وزن، بحر، ریتم rhythm دورته (مشابهو) توکونو او ډېرا ړخیزو ناورته څېړلونو (واریښتونو) سره په واریز (بالنوبه) ډول د بیا بیا غبرګون (تکرار) یو لهپلهاړخ بدلونې تهوايي. په تودېز ډول (تول) یوه داسې هنري قانونمندي ده چې په تولونرونو کې له لږو ډېرپیاوړي پتوب سره د بیلابېلو لاروڅخه رښتیانه موسې او را څرګندېږي، تول دځای او مهال یوه ډېر تولځېزه (کمپلکسې) هماهنګي ده یا په بله وینا داو دوه پهتوګه دځای او مهالي یوونونو (یونتونو) د ننه څو څون او د مهالي ینو پر له پسې والي (توالي) دی په خپله ژوند هماهنګ (موزون-ریتمیک) سازمان موندلی، د سازی

په توګه وایو: شوروځي هماهنګي، د ټال هماهنګي او د کار هماهنګي یا وایو: یو شان د ژوند د ریتم په څېر نه اورېدل کېږي. ریتم د نورو هنرو غوندې په ادب او بیا په ځانګړي ډول په شعر کښې یو رغنده، تنظیموونکی او اغېزښندونکی توکی دی چې د انسان ژبنی بڼې ته یو ډول راسخته کوي (قاموس الفنون ۱۴۳۱). دوست (۲۷۶ مخ) د روسي ادب پوهنې د اصطلاحاتو قاموس په اخځ لیکي: «ریتم، بحر او تول (د پېښو اړه په یوه وار) په بدیعي وینا کښې د سېلاب، ټیک، تکرار او د وینا د ټاکلو او د سره ورته والي د ونو ځانګړي غږ ګونه (تکرار کېدنې) ده چې په بیلا بیلو (ټونیکو، سیلابیکو او سیلابوټونیکو) شعري ډولونو کښې سره توپیر لري . . . . .».

بنووال (۱ مخ) د زهرا ځانګړي په اخځ د شعر وزن داسې را پېژني:

شعري وییونو داسې یو غږیز دی چې له یوڅه ګړېدنو غږیزو ییوونو (واحدونو) څخه را منځته کېږي او د غږ هر یوه یو وزن (واحد) ته مقطع، هجا (سیلاب) یا څپه ویل کیږي.

نو د شعر وزن د ګړهار په غږونو کې بې او ډون یا پیوون (نظم) دی او دا چې د ګړهار د غږونو له ځانګړتیاوو څخه کومه یوه د غږ پیوون (نظم) بنسټ ګرځي، د شعر تول (وزن) بیلا بیل ډولونه سومي که د څپو شمیر او د دوالي د وزن بنسټ جوړ کړي، د څپه وزن ته (څپه ییز) بلل کیږي. که څپې د غږونو د لوړتیا او ټیټوالي یا په بله وینا، زیر و بم له مخې سره غاړه غړې شي، بیا کتنی (څرنګیز) وزن راپیدا کیږي. په بل ډول کې بیا هم د څپو شمیر د پیوستون (نظم) د پیدایښت اړ (اصل) ګرځي . . . .».

له دې کبله ریتم (تول، وزن) له څلور ګونو بنسټیزو رغندو

توکونو څخه د یوه توک په توګه د شعر شمېرلو او هغو ته (استخوانبندي)
جوړوي او بې له دې شعر ، «شعر» کېدای نه شي . که څه هم نور دري
توکه یې پوره پوره سمبال شوي هم وي . رایم (قافیه) یې کوم
اړ (شرط) یا ارغنده توک نه بلل کېږي ، بلکې ښه والی یې کلمه کلمه
یو لړ ریتمیکې تشې او نیمګړتیاوې ډکوي ، لکه یا کوټان (یوشوروي
تورکي سلمت) چې ټول زور په قافیه اچوي او هغه هم د سري پېښې
ګې کاروي او په دې ډول یې سخکې وروسته ویوونه په لوستنو
او سندرو کې د ماغې قافیې تر سیوري لاندې راځي او دچا خبره
نغړي یې (د استاد رشاد له مرکې څخه) ، ګډنه په ټوله مانا پښتو
سمبال ریتم (وزن) رایم (قافیې) ته هېڅ اړتیا نه لري ، خو دا چې
له یوناني اتنیک (ارغوني) پېره را نیولې ، په ټولو اروپایي ژبو
او بیا څېړو ژبو کې یې تر ننه پورې ورسره او په پراوه بلتیا کړې
او تر الاسلام را وروسته یې زموږ او سیمې (آریائي) ژبو ته لیاره
پیدا کړې او لامل یې ورسره خپل نوښت (ردیف) هم ملګری کړی
دی ، نو دغه وړین غوره ځول یې بیا په ځانګړي ډول زموږ ځانساتو
څېړنو ته نا شونې او نا منونې پرېوځې ، په لویدیځ کې یې څو لیوتر
لړه له یوې پېړۍ راهیسې زنې ورته ل شوې دی .

په ټولیز ډول د نړۍ په ژبو کې له درو غورو وزني ډولونو سره
سخا سخ یو ، یا په بله وینا د رې غوره شعري ډولونه شته دي : (۱)
څپیز چې شعر ی (سرنې) یې سره د څپو د شمېر برابري لـه مخې
جوړېږي . (۲) څرنګ یا هجېز چې یوازې تون یا خج (د آهنګ په استازي)
شعري ت ل را منځته کوي او (۳) سلابو ټونیک یا څپز ـ خجیز
شعري ډول دی (د زیاتې څرګندتیا لپاره دوسته ۲۸ ـ ۲۹ مخونه) .
دلته د اتو پېر دی ، هغه ژبې چې آزاد خج لري ، یا په بله وینا

خج یې د هر ژبې توک په هره برخه کې راتلای شي، سیلابوتونیك شعر ورپورې اړه لري، لکه پښتو، روسي، انګلیسي، الماني او ځینې نورې ژبې، او سیلابیك یا څپیز شعر په هغو ژبو اړه لري چې خج یې جوت (ثابت) وي، لکه فرانسي چې خج یې تل په پیل کې راځي یا پولنډي چې پایڅ (ماقبل اخر) ته یې راځي (د پروفیسور الکساندر ګروینبرګ د شعر ګندونې له مخې، کابل د ۱۹۸۸ د سي شلمه).

• د پښتو له درو ګونو شعري ډولونو (ګړنیو، لیکنیو او سنیو آزادو) څخه یوازې لومړی هغه د سیلابوتونیك تول په کار ونه کې لږو ډېره نانېدونې لري. مګر په دغو نورو دوارو ډولونو کې هو راز دودمند (باقاعده) سیستم شته او دغه داچې له هرو څلورو څپو څخه یوه خجنه راځي او هغه هم په دې ډول چې یا یې لومړۍ څپه خجنه وي، یا یې دویمه یا یې دریمه او یا هم څلورمه. په دې توګه هر ګړنی (شفاهي)، دیواني (لیکنی) او (اوسنی) آزاد شعر له دغه راز څپېزو غونډونو (رکنونو) څخه رغېدنه مومي او له آره همدغه غونډونه د پښتو تولیز شعر کوچنی ترینې توټې (مسرې) دي مګر د دود له مخې کوچنی ترینه دیواني مسره او وه څپېزه (یوغونډ او دوړي ناخجنې سر بارۍ څپې چې بل رکن نه پوره کوي) ده او ګړنی شعر یوغونډیزه یا څلور څپېزه کوچنی ترینه مسره لري او د اوسني آزاد شعر کوچنی ترینه هغه هم یوغونډیزه راځي او په ځینو ځانګړو اړو (حالتو) کې تر درې څپېزې، دوه څپېزې او ان یو څپېزې پورې وړه کېدای شي (ه-ه).

د څپې د ریخ (موقعیت) له مخې شعر څلور ډوله غونډونه یا کوچني واحدونه لري (د لته څجنه څپه په پړقه لیکه «ـ» او نا څجنه څپه په غړوندي یا «ه» ډول کیږي):

(۱) هغه غونډه چې له څلور گونو څپو څخه یې لومړۍ هغه څجنه وي، په دې ډول: ـ ه ه ه/

(۲) هغه غونډه چې له څلور گونو څپو څخه یې دویمه څجنه وي په دې ډول: ه ـ ه ه/

(۳) هغه غونډه چې له څلور گونو څپو څخه یې دریمه هغه څجنه وي دې ډول: ه ه ـ ه/

(۴) هغه غونډه چې له څلور گونو څپو څخه یې څلورمه هغه څجنه وي، په دې ډول: ه ه ه ـ/ .

په روسي شعر کې بیا د غه سیلابوتونیک سیستم چې په اتلسمه پېړۍ کې د ترېډیا کوفسکي په سیلا بیک شعر پسې را ووسته دود شوی دی، د پښتو همغه جوت (ثابت) دودونه لري، کله پر دوو څپیزو غونډونو (ستوپو) شننه موږ چې پر دویمه یا لومړۍ څپه یې څج راځي - لومړی ډول یامب او دویم ډول خوری بولي او کله دري څپیز غونډونه (ستوپې) را اخلي چې هغه هم کله پر لومړۍ څپه څجنېږي، کله پر دویمه او کله پر وروستۍ څپه چې دغه دري واړه وزنه هم بیلابیل نومونه (دا کتیل، امفي براخي او اناپست) لري، لکه په دې لاندې بېلگو کې:

۱ ـ د پوشکین دغه لاندې شعر په یامب (یوناني یامبوس) بدل

اېښودل شوی اوپه ۲ ـ ۴ ـ ۶ ـ ۸ او ۱۰ څپوڅپې اخلي :

Я вас любил: любовь ещё, быть может
В душе моей угасла не совсем

ما مې ستا سره مینه وه ، کېدای شي چې داغ یې لا تر اوسه پورې زما په زړه کې پاتې وي

(ترجمه پښتو ته نه ده ...)

_ / _ / : _ / _ / _ / _

_ / _ / _ / _ / _ /

۲ ـ د الکساندر پوشکین دغه دروسته شعر په څوړی (یوناني

خوراپوس) بدل اېښودل اوپه ۱ ـ ۳ ـ ۵ ـ ۷ ـ ...

باندې ئې راوړي :

Буря мглою небо кроет
Вихри снежные крутя

توپان په خپلو لړو د آسمان مخ پټوي او د واورو بادونه
(په بوکي ، گرد چاپیر تاویږي .

ˊ – ˊ – ˊ – ˊ –
ˊ – ˊ – ˊ – ˊ

٣ - د میخاییل لرمنتوف د اکتیل (یوناني د اکتیلوس) په دول سیلابوتونیک شعر چې لومړی ، څلورم ، اووم او لسم څپه یې ځجه ده :

Тучки небесные, вечные странники!
Степью лазурною, цепью жемчужною

ځوږي اسماني ورېځې همېشنۍ پردېساني دي
پر لاجوردي دښتو باندې لکه د مرغلرو لړۍ روانې دي

– ́– – ́– – ́– – ́– –

– ́– – ́– – ́– – ́–

۴ — امفی براخي (یونانی امفی براخیس) ؛ وزنلی شعرچی =
یانگیلیکین بوغینی ایده‌لری اوبر ۲ – ۵ – ۸ – ۱۱ ـنچی
تجنیتیا مومی ؛

Последняя туча рассеянной бури!
Одна ты несёшься по ясной лазури

دره‌دستیلو حیره و ریحوچی تویان وپاشلی !
یوازی ناسی پیشنه اسمان کی (غنجن سیوریلی) ویری

– ́– – ́– – ́– – ́– –

– ́– – ́– – ́– – ́– –

۵ - اناپیست (یونانی اناپیست) د دول شعر چې په افاسی
فټ اره لري او ۳ - ٦ - ۹ - ۱۲ - ۱۵ څپې يې -
غځنې دي ؛

Истрепалися сосен мохнатые ветви от бури,
Изрыдалась осенняя ночь ледяными слезами,

د توپان له کبله د بوجود (صنوبر) د ونو جړی پاڼې
زيږې شوې د منې شپې په کوکو کو د ژړېل او د کنګل د
ملوملو اوښکې تويوي

– – –́ – – –́ – – –́ – – –́ – – –́ –

– – –́ – – –́ – – –́ – – –́ – – –́ – –

(د پوهنمل عبدالحکیم حلیم په مرسته)

په پخوانیوار یایي (ویدي او او ستایي)، زړي پارسي او را وروسته په پهلوي، پارتي او باختري (د سره کوتل د ډبرلیکونو په لاسوند) کې سیلا بوتونیك یالي ترلږه یوازي سیلا بیك او یا یوازي تونیك سیستم له ورایه بریښي. همداسې یې په نوي پارسي کې هم د رواخله (وګوری ښوونوال: ۱۱-۱۲ او ۲-۲۲ مخونه)، دغه رازد رخت اسوریک، دوست ۲۹۱-۲۹۳ مخونه، دهیلموت هومباخ د سره کوتل ډبر لیکونه او د ساير هوفر دزړي پارسي لا سلیکي متني بیلګي د پاملرني وړدي. پوهاند رشاد هم په ادبیاتو پوهنځي کې دعروضو او قافیي او عمومي ادبي فنونو تراوږ د کلان تدریس وروسته نوردي پایلي ته رسیدلي دي چې د خلیل بن احمد عربي عروضي (میتریك) سیستم آن پارسي هم تر اسلام را وروسته په وچ زورتیل شوی او منل شوی دی، که نه په اسلامي پیرکې یې هم ډېری سیلا بوتونیکي بیلګي لیدل شوي او وګړني (فولکلور یکي) هغه یې خولا شه کړي او منې آزاد « سپید» (۱۰۰-۱۰۶) شعر یې خو ورځ په ورځ خپل ګړندي ګامونه اخلي. دغه عروض خو بیا له پښتو سره په هیڅ ډول ارخ لګولای نه شي. که څه هم یو لړ پښتو شاعرانو لکه ارزاني، خواجه محمد بنګښ (رشاد، وړمه ۲-۳ ګڼه ۱۳۴۸ کال ۶۱-۶۶ مخونه)، بیا شرف (د پښتو عروض) او له وروستیو شاعرانو څخه علامه عبدالعلي اخونزاده، بهار جان (جزئیات) او سمندرخان سمندر (خویږه شپیلی) . . . هر یو هرڅه خپل وخت څیني عروضي بیلګي هم کښلي دي.

داچې د پارسي شعر جوړښت سیلا بوتونیك یالي ترلږه سیلا بیك (هجایي) دی، نه یوازي په اسلام مخکې منځني پارسي یا پهلوي پوری اړه لري، بلکې را وروسته په نوي پارسي کې چې که څه هم پرې عربي

عروض ورتہ ل شوی اوان وګرنی فولکوریک شعر ته ېی هم سرایت کړی دی ، که واولیږم یو مخیزه په پام کی ونیول شي استثنا به یې له قاعدی څخه تیری وکړی، په بله وینا که خوځندی (حرکات) لکه زور وزیر وپیش چي مجهول (و) او مجهوله (ی) هم زیاتره په همدی ډله کی راوړی ، له حرفي سپول لرونکو واولو (و، ا، آ، ی)سره یوځای په تقطیع کی راشی .هرومرو څپیز (هجایی) وزن ته ېیر ته راماتېږی. یوله کوال «قربانعلی همزی» (پامیر. ۲-۳-۶۷) دخلیل بن احمد دعروضو تر پیداښت دمخه د پارسی شعر مخینی ته ګوته نیسی او لیکی :

شعر فارسی - دری نیز همین مراحل را پیمو ده است یعنی از همان «سرود آتشکدهٔ کرکوی» (فرخنه پاذا روش - خنیده کرچاسپ هوش) واز همان زمزمهٔ کودک یعقوب (غلطان غلطان همیرود تالب کور) وبالاخره از همان ترنم آغازین حنظلهٔ بادغیسی تاسپیده دم پیدایی شناسنامهٔ عروضی خلیل بن احمد هزاران فراز ونشیب انکشافی را پیموده است ولی باز هم ایستایی نپذیرفت با پیدا رشدن انقلاب نمایی بی آنکه زوال پذیرد، بازګام تازه تری به میدان رشد ګذاشت...»

داچي دڅېړوهاندو (اریانستانو) په اند کله چي عربی الفبایی سیستم دنوی پارسی پرپیل جوړوی. ماته داسی ښکاری چی دشپږو تولوواولی ښو (توریو) نښتوالی پارسی شعر دعربی عروضومنلو ته چمتو کړی دی. واولو ته هلته توری ویلای اصلی یی شمیر لپاي له یونانی پښو څخه سرچینه یا الهام اخیستی وی . او له یونانی پېږه رانیولی تراتلسمی اوان نو سمی پېړی پوری دیونانی میتریک (عروضی) سیستم پرنوو

منځنيو او اوسنيو ارو پايي ژبو تول ښايي له همدې ذهنيته رنګ اخستي وي چې تر هغه نهاله او ازونو (نونيمونو) ته «توري» ويل کېدل. دلته څو ازولومړي ديوه پهلوي (هجائي) شعر بېلګه وړاندې کړو :

پهلوي (منځنی پارسي) شعر	نوی پارسي ژباړه
فرخته باد روش	درخشند باد روشني
ه ه‍ـه /هه//	
خنيده ګرشاب هوش	مشهور باد روح ګرشاسپ
هه‍ـه/هه//	
همي پرست ار جوش	همواره پرجوش است
هه‍ـه/هه//	
مي نوش . . . مي نوش	مي بنوش مي بنوش
هه‍ـه/ه//	
دوست بدا ګوش	دوست در آغوش باشد
هه‍ـه/ه//	
بافرين نهاده ګوش	شکوهمندانه بشنو
هه‍ـه/هه//	
هميشه نيکي کوش	هميشه نيکي کن
هه‍ـه/هه//	
دي ګذشت ودوش	ديروز وديشب ګذشت
هه‍ـه/ه//	
شاها خدايګانا !	اي شاهاصاحب يګانه !

۰ـ۰۰/۰۰//

بافرین شاهی ! شاه پرشکه هی!

۰ـ۰۰/۰//

(د پوهاند قویم له یادښتو څخه، دژبو او ادبیاتو پوهنځی دکرکوی او رتون له سرود څخه ـ ۲۰-۳-۶۷).

یوه و گړنی (فولکوریکه) بیلگه چی لو مړی یی دڅپو او نشار (تون) له مخی تقطیع کوو او بیایی دعروض له مخی (د پوهنوال بنوال په سرسته، دژبو و ادبیاتو پوهنځی ۲۶-۳-۶۷).

پیراهن زردوز پوشیده یی امروز

۰ـ۰۰/۰ـ// ۰ـ۰۰/۰ـ/۰ـ//

درمیله یی نوروز برقامت موزون و رسایت مزه میته

۰ـ۰۰/۰ـ// ۰ـ۰۰/۰ـ۰۰ـ۰/۰۰ـ۰/۰ـ//

پیراهن زردوز پوشیده یی امروز

مستفعلن مفعول مستفعلن مفعول

درمیله ی نوروز بر قامت موزون و رسایت مزه میته

مستفعلن مفعول مستفعلن مفعولن مفعولن مفاعلن

بله بیلگه یوه دو بیتی ده چی دزیاترو دو بیتیو غوندی (هزج مسدس محذوف) وزن لری البته د لومړی یی دسیلا بو تو نیك وزن له مخی تقطیع وو، هغه هم دځینو پښتو شعرو غوندی یی هر رکن پر لو مړی څپه ټینگه ولاړی:

از بالا باران آمد.

۰۰۰ـ/۰۰ـ//

یارم به دالان آمد

-ooo/-oo//

یک بوسه طلب کردم

-ooo/-oo//

چشمش به گریان آمد

-ooo/-oo//

عروضی رکنونه یې دادي: - مفاعیلن، مفاعیلن، فعولن که د دوبیتي وروستي رکن (فعولن) پرځای (مفاعل) راشي، نو هزج مسدس مقصور بحر یې بولي. دلته تو پیر دادی چې په سیلا بوتونیکه تقطع کې لنډه څپه د لنډې څپې او اوږدې د اوږو په وړاندې راتلای شي، مګر په عروضی تقطیع کې لنډه د لنډې او اوږده د اوږدې څپې په وړاندې راځي او بل دا چې په عروضی کې دوه ډوله څپې (د کلمو فشار) منطقي وي یا په بله وینا له ژبنی (فونیتیکي) دریځ سره سم په عادي ډول پرخپل ځای راځي، مګر په سیلا بوتونیکي کې دغه منطقي او طبیعي نه راځي بلکه د سندریز کمپوز له مخې، څو په دوو حالتو کې خپل آر دریځ له لاسه ورکوي، لکه په رتنیو دوه ګونو بیلګو کې. لنډه دا چې پښتو شعر هم د عربي یا یوناني پرخلاف د نورو ډیرو خپلوانو (هندواروپایي) ژبو څوندي څپیز-څپیز (سیلا بوتونیک) دی، نه عروضی (متریک) چې مخکې له مخکې پر ټاکلو بحر ونو او رکنونو (افاعیل) باندې وسیجل شي او وویل شي (همدا رنګه بدوست ۲۸۹مخ).

دغه راز هر عروضی د ري شعر دوه ډوله تقطیع کیدای شي

دساری په توگه دا یو اقبال سم لاهوتی یو شعر (زندگی آخر سر اید بندگی در کار نیست)چی عروضی بحر یا وزن یې رمل مثمن مقصور (فاعلاتن فاعلاتن فاعلات) دی، دا څه ظاهر دستدر یزتول و تال له مخې په سیلابو تو نیك تقطیع سره کټ مټ لکه د پښتو شعر څوندی هره څلورمه څپه څپنه راځي.

نیکولای دو وریا نکوف په خپله یوه لیکنه (د ۱۳۴۰ کال و یومه) کې یو دی تینگار کوی چی په پښتو کی فونیتیکس او پویتیکس (غږپوهه او شعر پوهه)سره ډیر نژدی او نه شلیدونکې اړیکې لری، دا مانا چې څپیز سخچیز جوړښت یې د شعر تول (وزن) یا په لنډه وینا د شعر رغاونی اړا ره تاکنده بنسټ جوړوی. یو اکغوندونه (کلستر ونه) او له دی سره او یودی او یودی څپی یو خوا او فونیمکی (ژبنی) اړ زښت لرونکی څپو نه بله خوا او هغه هم ناجوت یا آزاد څپونه د دی توسن شوی دی ،چی پښتو شعر دی سیلابو تو نیك اوسی (په همدی اړوندی: دوست ۲۷۸خ) او دعربی یا پارسی غوندی پری دنو رو وینا ناخپلوا نوژبو شعری دودو نه(قواعد)او په ځانگړی ډول عروض یا متریك تړل یوبی مرو بوله کار و بلل شی .

په پای کی دی پایلی(نتیجی) ته رسیږو :

لکه څنگه چی پښتو ځانته جلا ژبنی جوړښت لری او گرامری او نور رغاونیز (ساختاری)دو یونه(قوانین) یی له همدی خپلی ځانگړی رغاونی څخه را ایستل کیږی ،نو دغه راز یی شعری رغښت هم ځانته جلا او خپلواك دی او د بلی ژبی دو یونه یا دودونه و رسره سمون خوړلای نه شي .له دی کبله ریتم (تول یا وزن)د شعر له څلور

ګونو پښتنو زوړ غنډو ته کوټو څخه د یوه توک په توګه د شعر شمزې جوړوي او بې له دې شعر، «شعر» کېدای نه شي، «شعر» لا څه چې هسې تش (نظم) هم نه شي کېدای. که څه هم نور دري توکه (اجزاء) یا توکه (عناصر) یې پوره پوره سمبال شوي هم وي ° رایم (قافیه) یې ګوم اړ (شرط) نه بلل کېږي. بلکې شتوالی یې کله کله لږ ډېر یوازې ریتمیکي[۲] (تول زي) تشې او نه یې ګړتیاوې ډکوي، 'که نه په توله مانا بشپړ سمبال ریتم (تول)، رایم (قافیه) ته هډو هیڅ اړتیا نه لري خو دا چې په څېنو ژبو، لکه زموږ د وی کې یې تر اسلام راوروسته پېړۍ پېړۍ دود او کارېدنه موندلې او ستر ګې او غوږونه ورسره ډېر روږدي شوي دي، نو غوږ رحول یې راته یو څه نادوده او لاکوږ شونانی ښکاري.

دې پایلې ته چې پښتو شعر عروضي (متریك) نه دی او ځانته جلا یو خپلواك سیلابوتونیك رغښت لري، ښایي داستارشاد او دوست شینواري غوندې ډېر پوهان رسېدلي وي، مګر دا چې دغه ځانګړي سیلابوتونیکي دودونه او دیوونه (قواعد او قوانین) یې ګوم دي او څنګه یې مستقماتیکه راایستنه (استخراج) وشي او بیا پرې څنګه و کارول شي، کومه خپلواکه اوجوته څېړنه ګرویږنه پرې شوې نه ده.

په راتلونکو څو کرښو کې به پر دغه تخنیکي (سیلابوتونیك) اړخ باندې د لا زیاتې رڼاچونې په ترڅ کې د پښتو شعر ځانته خپلواك دودونه او قواعد له د رو ګونو (وګړنو، لیکنو او اوسنیو آزادو) زېږ موخه را وایستل شي او (د پښتو بدلمیچ) په نامه به یې لومړني

ښښت هومره ګېښوول شي . دا چې دغه هڅه به مسلسله په رښتيا سره لوبرزې هڅه وي او له ګوتنيونو څخه به پخشونه وي ، مګر لږ تر لږه خوبه بورتنيو پرښتنو او بيا (ژړو بېولالو) ته د ښندې له مخې يوپای تکي هومره ګېږدي .

۱-۱-۳: د خيال ترنامه لاندې هغه ټول هنري يا بديعي (ښکلايېز) انځونه «ايماژونه» يا په بله وينا عيني او ذهني انځورونه لکه تشبيه ، استعاره ، کنايه ، ايهام ، جناس ، طباق تلازم ، تمثيل ، ښندنه (مبالغه) . . . او همدا رنګه اسطوري او سمبولونه راځي . نن سبا د ژبني اړخ په وړاندې چې د شعر بهرنی جوله (شکل) جوړوي ، دغه څرګونه د شعر «دننني» جوله بشپړوي . نو که دغه دننني جوله نه وي بيا ورته شعر نه ، بلکې هسې پېلې وينا (نظم) وايي . شعر د هنر د نخښرا لوړ ډول په تو ګه واقعيت په هنري انځورونو يا خيالي ايماژونو څرګندوي ، ترڅو چې تر بل هر ژبني هنر ، يا په بله وينا ادبي ژانر له هنري انځورونو سره ډېر سرو کار لري . که موږ د بديعي (ادبي) اثرو ببوزنه او تو ګو نه له مرغلرو سره ورته وبولو، نو بيا وايو چې نثر د دغو مرغلرو د پوه صندق مثال لري چې د هرې مرغلرې لپاره ځانګړې ځای ټاکل اړين نه دی خو شعر داسې مرغلين هارته ورته دی چې ټولې مرغلرې يې په داسې مزي کسې پېيل شوي چې د هرې دانې لپاره يې د هغې اندول او تناسب له مخې ټاکل شوی دی . نو ځکه د شعر ژبه د نثر د ژبې په اندول ځانګړې ښکلا لري . . . (دوست ۲۷۰ مخ).

انځور (تصوير) ، هغه څيز دی چې پسوه انديزه او ولو ليزه

(فکري او عاطفي) غوټه په یوه‌زماني شېبه کې ښکاره کوي. انځور په یوه تاکلې نقطه کې سره د دوو بېلا بېلو نړیو د دوو څیزونو ګډې کول دي. دغه دوه پادېر څیزونه سره ګډاشي، عاطفي او یا فکري ظرفیتونه ولري او دم د دود له مخې په داسې بېلابېلو مهالونو او ځایونو اړه و لري چې د انځور په وسیله سره یو ځای را تولیږي. د انځور جوړونې ځواک د تخیل د ځواک غوړېدنه برخه ده. د تخیل ځواک، یا په بله وینا پښتو شاعر وهیجان چې د دې لپاره پرکار اچول کیږي، بېلا بېل احساسات، څیزونه اواز میشتونه چې په بېلا بېلو مهالونو او ځایونو پورې اړه ولري، په یوه ځانګړې شېبه کې سره غاړه غړې کړي او یا ورته یو له بله سره مړون ورکړي او په یوه ناپایه‌زماني شېبه او یوه لنډه تنګ مکان کې یوه پراخه ورشو څرګنده کاندي. د تخیل ځواک، تش یوداسې له منځې څخه سرګښه تېښته او پاشونکي ځواک نه دی، بلکې د بېلابېلو اکرونو او له طبیعته د انسان داد رالک راز راز جاج اخیستنو د غاړه غړي کولو لپاره یو ځواک دی. تخیل له حافظې څخه سیمه توښه اخلي. کله د حافظې زماني پسر له پسپوالي (تداوم) څخه وزندي ساتي او کله د حافظې هر څه سره یو له بله پاشي او هغه هم د دې لپاره چې د حافظې ځینې برخې وساتي او د انځورونو په وسیله یې سره خواپر خوا کېږدي او یوه فکري او عاطفي کړي را منځته کړي له دې کبله د انځور جوړونې ځواک تر ټولو ګڼې پورې همغه د تخیل ځواک دی . . . رضا براهني (۷۷-۷۵) مخونه.

۱-۱-۳-د فکر یا اند تر ټولو بې لاندې تړول هغه څه راځي چې

د منځپانګې (محتوا)، مضمون، بلنې یا غوښتنې (اپيل) او پيغام په نوم هونو یادیږي . یانې ، هغه څه چې شاعر وایي او غوګوي لوسته ورسوي . له دې کبله دغې (فکري) برخې ته (فکري محتوا) هم وایي . منځپانګه دیوه څيز دټولو د ننني تو کونو (داخلي عناصرو) ځانګړتیاوو او بهیرونو (پروسو) غونډیا ټول ته وایي . په وړاندې یې جوړه (شکل) ته کلا ولري چې پاس یادشوي توکونه ژبه، وزن او خیال (بديعي اړخ) را اخلي د منځپانګې او جوړې تر منځ یوه دیالکتيکي اړوندې شتوالي لري . جوړه دیوه څيز جوړښت او یا په بوخه ناجوته مانا هغه بهرنی بڼه را اخلي چې په هغه کې د یوه عیني واقعيت دڅيزونو ، پدیدو او پروسو لیدونه برسیرني ځانګړ تیاوي راځي . دجوړې چاج (مفهوم) یوازې دڅیزونو بهرنی یا په بله وینا هندسي اړانه نه ده ، بلکې ترهرڅه د مخه هغه سازمان دی چې دهغه د نني بهیر دخپل منځي اغېزیسو تا ملي ټول لـه بهرنيو اړونسو (شرایطو) سره یو له بله تضمینوي . جوړه د منځپانګې بڼه (مقابله) نه ده او نه شي کولای ، له هرې غوښتنې (مطلوبې) منځپانګې سره ترسره کیدنه وموسي ، بلکې په ما هیتي توګه منځپانګه جو له تاکي (کوچنی سیاسي قاموس ، ٣٦ مخ) . له (عاطفي) څخه موخه بیا هم هغه بديعي یا خیالي او انځوریز اړخ دی چې څنګه یو شعر دولولو او عواطفو دلېږدونې او پارونې جوګه ګرځي .

له دې کبله وایو : شعر د طبیعت په چاپېریال کې دانسان لپاره دذهني حالت زیږنده دی په دې مانا چې شاعر له یو داسې حالت سره مخامخیږي چې د هغه په پای کې دخپل چاپېریال له څیزونو

او انسانانو سره یو ډول ذهني اړیکې پیدا کوي او دغه اړیکې پرخپل وار یو راز رواني اړیکې دي چې څېزونه یې په بشپړ (مطلق) ډول خپله فزیکي او مادي بڼه له لاسه ورکوي او د شاعر د احساس او اند یوه برخه په بوراخلي . شاعر په دغه ډګر کې د څېزونو د اسون تر اغېز لاندې راځي او دغه د هستي راز د منطق او ریاضي او علمي حسابونو له لارې چې حسابونه یې د شعر له پولې (وجهې) څخه بېخي جلا دي ، نه ، بلکې د تخیل لید ، اند او ننګېرنې (احساس) په وسیله رابرسېره کېږي . شاعر د شعر جوړونې په شېبه کې داسې اګر غوره کوي چې د طبیعت ټېني څېزونه په هماغه شېبه کې مني ، خوځېږي نڅېږي په سلامي (سوقتي) توګه له خپل ذهنه باسي او (ځان) یو داسې سجده کوونکی وینې چې خپل پېیوندونه له ټولو شیانو او انسانانو سره ټینګوي . خپله څېره په خاورو مښي او هغه څېزي څېره څوپ نیسي چې له خاورو څخه راپورته کېږي او د رواني درد شفا ګرځي (رضا براهني: طلا در مس ۳ مخ).

روهي (کابل مجله، ۸-۹ ګڼه ۱۳۶۶) د شعر ځانګړي (ذاتي) توکونه (مفکوره، تخیل ، احساس او آهنګ) داسې راپېژني :

۱- مفکوره : په هر شعر کې باید یوه مفکوره نغښتې وي که د (باید) کلمه حذف کړو ، نو داسې به ووایو چې هر شعر له ځانه سره یوه مفکوره لري . (کارلایل) وایي چې شعر موزیکال فکر دی خو ځینې ادیبو هان مفکوره د شعر اصلي توک نه ګڼي . دا خبره (بېدل) ته منسوبه ده چې وایي :

(شعر خوب معنی ندارد). نامتو فرانسوي لیکوال او فیلسوف

PROPERTY OF ACKU
3182

(ژان پل سارتر) هم په دې باره کې ځينې خبرې لري ، هغه شعر له ادبياتو څخه جلا کوي . دده په نظر ، شعر دموسيقۍ نقاشي او پلاستيك هنر په شان پخپله غايت دی .

په داسې حال کې چې ادبيات له ځانه سره پوپيغام او رسالت لري هغسې چې د موسيقۍ آوازونه نو معنا معنا نه ښيي، شاعرانه الفاظ هم نه دي چې پر خپل مدلول باندې دلالت وکړي دموسيقۍ د نوټ په شان لفظي تصوير جوړوي . دغه تصوير د نقاشي تابلو ، يا مجسمې ، يا پرده دې مانۍ ته ورته دی چې فقط څکلا منعکسوي ، نه ضرورت او اړتيا . . .

هغه د چا خبره چې د شعر قلمرو د منطق او ارقامو قلمرو نه دی . د شعر منطق ، خاص شاعرانه منطق دی . په شعر کې تشبيه، استعاره، تمثيل حسن تعليل ، مبالغه، براعت ، تخيل ، اسطوره او داسې نور توکونه شعر له منطق او صوري تفکر څخه لرې کوي . د شر صغرې، کبرې او نتيجه ځانته مخصوص شکل غوره کوي :

تو همچو صبحی و من شمع خلوت سحرم
تبسمی کن و جان بین که چون همی سپرم　　　(حافظ)

دا شعر منطقي تعليل ته ضرورت نه لري ، ځکه چې (تحليل شعر بيخونده کوي) د آفتاب په کتلو نه خوږم آسمان ته

نه پرېږدم باړ لکه شبنم پر د وش د ګلو (کاظم شيدا)

(اسماعيل نوري علاء) د (H. Coombes) خبره رانقلوي : په ظريف ترين و برجسته ترين افکار فيلسوفان ، روانشناسان و مردم شناسان

ونظاير آنها، صرفا باورود به شعر، شاعرانه نمی‌شوند. کسی که شاعرانه فکر میکند بخود شاعر است.»

وایی چی نامتو ادیب (ادیبن) ته یوه ځوان مراجعه وکړه او ورته ویی ویل : «زه غواړم چی شعر ووایم. لطفاً ماته لارښوونه وکړه». (ادیبن) ورځخه وپوښتل :) ایا د شعر ویلو لپاره کومه مهمه مفکوره له ځانه سره لری ؟) هغه په ځواب کی ورته وویل : «هو غواړم ، یوه مهمه مفکوره په نظم راوړم». (ادیبن) ورته وویل :(ځه بچیه ، له تا څخه شاعر نه جوړیږی !) .

داخبره د مبالغی په توګه ویل شوی ده، خو د هغو ځوانو شاعرانو لپاره درس دی چی فکر کوی په شعر پوازی هغه شعر دی چی مهمه مفکوره پکی تعبیتل شوی وی اویا شعار پکی راغلی وی .

کله کله د یوه شعر ښکلا د یوی کلمی په استعمال پوری اړه لری . لکه په لاندی بیت کی د(عکس) کلمه ددوهم ځل لپاره :

ما برفتیم و عکس ما باقی است گردش روز گار بر عکس است

وګوری د(الفت دلاندی شعر پهورومبی مصرع کی د(گرد) کلمی شعر څومره خوند ور کړی دی :

له کوم لوری را روان یو جهانګرد و

بخ او څټ باندی بی پروت دلاری ګردو

ماویل څه دی ولیدل په دی جهان کی

ویلی دومره شومه پوه چی جهان ګردو

په دی شعر کی نه دجهان د ګردو الی(د ځمکی کرویت) مفکوره او نه له دو رو و ګردو نو څخه دجهان د ځ کوالی مفکوره

دلوستونکی ذوق او پاملرنه را پاخوی بلکی په هنری توګه د مطلب افاده دخوند التذاذ منبع ګرځی .

له پورتنیو یادونو څخه باید دا نتیجه وانه خستل شی چی ګویا په شعر کی مفکوره نشته اویا مفکوره څه ارزښت نه لری . اصلی مطلب دادی چی مفکوره په شعر کی هغومره تاکونکی نقش نه لری لکه څومره چی په هنری او بدیعی توګه دیوی مفکوری څرګندونه یی لری .

علمی پرنسپونه ، تاریخی فاکتونه او فلسفی نظریی په شعر کی راتلای شی ، خو دهغو شته والی دشعریت معیار نه ګڼل کیږی علمی ، اخلاقی او فلسفی مفکوری باید شاعرانه شی . دشعر تابعیت ومنی . په شعر کی جذب اوالو نیاشی . او بیرته خپل ځان په هنری میډیم کی را څرګند کړی . دایران نامتو شاعر (یدالله رویایی) لیکی : «مختصر آنست که شعر به کار وروز ها کاری ندارد . نه نقل میکند و نه می آموزد . شعر تنها ست و از هر اجباری رها . برسر نوشت خودش حکومت می کند و نه بر هیچ سرنوشت دیگری . نه مذهبی ای نه به جامعه دارد ، نه به اخلاق ، نه به ایمان و دانش . و در عین حال بیم دارد از اینکه چیزی پست و حقیر باشد »

دشاعر مقصد دا دی چی علمی ، اخلاقی ، مذهبی او سیاسی ارزښتونه دشعر په نسبت بهرنی ارزښتونه دی ، نه دشعر ذاتی ارزښتونه . دهغه څخه چی دشعر ذاتی ارزښت تاکی هنری او ښکلی پیژندنیکی خصوصیات دی .

(ګل پاچا الفت) وایی : (تاسی له شعر او شاعرانه علمی حقایق

مه غواړي . د شعر هدف حقیقت نه دی ، جمال دی). هغه کسان چې شعر د ژوند هنداره یا د واقعیت انعکاس بولي ، او په عین وخت کې د نګه (خالص) شعر ، فورمالیستي شعر او نورو غیر ریالیستي شعرو نوښته والي په رسمیت پېژني د خپل تعریف د توجیه کولو لپاره باید د تناقض د حل لاره ولټوي . که چېرې غیر ریالیستي شعرته هم شعرویل کېږي (او د دغسې شعرونوښه یر هم لیږنه دی) نو سوېږنه شو کولای ، واقعیت د شعریت معیار وبولو .

لنډه یې دا چې په هر شعر کې یو ډول مفکوره شته ، خوتش د مفکوره شته والی د شعریت دلیل نه ګڼل کېږي بلکې مفکوره باید په شاعرانه صورت کې تجلي وکړي .

۲- د شعر ډېر تولو اساسي او مهم توک تخیل دی . ځینې ادب پوهان د « تخیل » پر ځای د « تخییل » کلمه غوره ګڼي خو څرنګه چې د (تخیل) کلمه عمومیت لري ، نو د لته له هم دغه مند اول لفظ څخه کار اخلو (خواجه نصیر طوسي) په (معیار الاشعار) کې ویلي دي چې د شعر غرض تخیل دی .

اما تخیل څه شی ته ویل کېږي ؟ د تخیل اصطلاح ډېره اوږده تاریخچه لري . د ار غوني یونان له زمانې نه تر او سه پورې په دې باره کې ډېر بحثونه شوي دي او ډېر ځله د هغه مفهوم له Fancy او Fantasy سره ګډ شوی دی . د لته به په لنډه توګه او مړې تخیل شرح او بیا وروسته تعریف کړو . دا روا پوهانو په عقیده شیان او پدیدې د حواسو له لارې پر اورګانیزم باندې اغیزه کوي چې په لومړۍ مرحله کې احساس کېږي او بیا د اد راک پراو ته

رسیږی (پیژندل کیږی). دادراك له لاری انسان یوشی پیژنی. کله چی هماغه شی غایب وی احساس او ادراك هم محو کیږی، خو دهغه شی اثر پهذهن کی یو تصویر (ایماژ) پریږدی. ذهنی تصویرونه دچاپیریال دانگیزو په اثر، کله په خپل اصلی صورت څرگندیږی چی هغه ته تداعی یاد ونه ویل کیږی او کله په بدله څیره کی تجلی کوی چی پهدی صورت کی تخیل بلل کیږی. شاعرانه تخیل دځینو په نظر شهود او الهام ته ورته دی او دځینو نورو په عقیده په هغه کی یوه شعوری هڅه هم شامله ده.

دالمسفی قاموس (دمسکو چاپ، نولسسوه او وه شپیتم کال) تخیل داسی تعریفوی: «تخیل هغه استعداد یا قابلیت دی چی له واقعیت نه دلاس ته راغلو انطباعاتو پر اساس په بشری شعور کی هغه نوی حسی یافکری ایماژونه (انځورونه) تخلیق کړی چی په تا کلی شیبه کی واقعی موجودیت نهلری.

تخیل نه یوازی په هنر کی بلکی په ساینس کی هم اهمیت لری، ځکه دتخیل په واسطه فرضیی، مادل مفهومونه او دتجربو لپاره مفکوری مینځ ته راځی». اما په تخلیقی فنونو کی تخیل یو اساسی عنصر دی. تخیل په شعر کی دتشبیهاتو، استعارو، څیرو او اسطوروپه بڼه تبارز کوی، دلته له اسطوری څخه مقصد راتلونکی وخت ایدیا لی تجسم دی. څیره (پورتریت) دموجودو شیانو اوپدیدو عینی تصویر دی چی دانسان په واك یاقلمرو کی وی، خو اسطوره یو ایدیالی یا ارمانی تصویر دی چی په موجوده وخت کی دانسان لهواك څخه وتلی وی. تخیل دترکیب لهلاری مختلف او نامتجانس شیان سره پیوندوی یاگډوی.

۳ـ احساس: په شعر کی احساس یاعاطفه ضروری شرط دی. که

شاعر درد، آرزو، احساس، اندیښنه، قهر او تاءثر ونه لري، نو لوستونکي یا اورېدونکي له داسې شعر څخه خوندښه اخیستلای.

(لیف تولستوی) په خپل اثر (هنر څه شی دی؟) کې په دې ټکې ټینګار کوي چې د شعر اصلي وظیفه داده چې مقابل لوری ته احساس ورنقل کړي (ساوستیانوف) لیکي چې: «په هنر کې قضاوت مفکوره او حقیقت په عاطفي بڼه تبارز کوي» او (د هنر وظیفه یوازې مهر فتي نه ده بلکې هغه د انسان په وړاندې مسالې طرح کوي ژوند ته خوند وربخښي. او د نړۍ په ارتباط د ده عاطفي برخورد پیلوړي کوي».

(موري) وايي: ستر شاعر د ژوند په باره کې د نتايجو دلایل ته را ووړاولپاره هڅه نه کوي، بلکې په هغه کې یو کیفیت تشخیصوي د ده عواطف چې په یو ه بل کې یې تداخل کړی دی، ورو ورو په ده کې یو عادت رامنځ ته کوي. څینې شیان او پېښې پرده باندې له نورو زیاته اغیزه کوي. . . زما په پوهه دا د شاعر د تجربې اسلوب عاطفي بڼه ده».

د ایران د یر مشهور شاعر او ادب پېژندونکي (نادر نادرپور) وايي: «من به آن چیزی شعر می گویم که درمن انفعالی عاطفی ایجاد کند، احساس واندیشه مرا برانګیزد و مرا دستخوش نوعی هیجان سازد».

شعر، که شکلي وي یا هیجان پاروونکي یا تصویر درلودونکي په هرصورت له احساساتو او عواطفو سره اړه لري.

۲- وزم (آهنګ ریتم)د (وزم) کلمه چې غاړي (لحن) او آواز ته ویل کیږي دلته د (ریتم) یعني د آواز د موزون والی په مانا استعمال شوي ده. په فارسي کې د (ریتم) لپاره د (آهنګ

نه کلمې څخه کار اخیستل کیږي . موږ ګولای شو چې (وزم) دریتم په مانا استعمال کړو. په شعر کې دمنظمو او یا تقریبا برابرو زماني وقفو ترمینځ دهماغه یامشابه آوازنو تکرار ته (ریتم) ویل کیږي . موږ دلته هغه تجربو ته رجوع نه کووچې اروا پوهانو دوزم (ریتم) په باره کې کړي دي خو دا خبره څرګندوي چې (که په خپله آواز مکروه نه وي)وزم دانسان پرسا یکالوجي باندې لذت بښونکې اغیزه کوي .

دا باید ووایو چې هرشعر(دآزاد شعر په ګډون) هرو مرو یو ډول وزم لري . حتی ښکلې او خوند ور هنري نثرهم یو ډول وزم لري ،خودآزاد شعري او هنري نثر وزم باقاعده او منظمه متریك پیمانه نه تعقیبوي . ځینې ادیبوهان آزاد شعر دمنظم وزم د نه درلودلو په سبب اصلا شعر نه ګڼي. که څه هم دا خبره همداسې وي ،نو وزم د شعر او ګانیك توك دی . که آزاد شعر(لکه له نامه څخه یې چې څرګندیږي) شعر وي ، نو هغه هم یو ډول وزم لري چې البته دنظم په اندازه باقاعده نه دی.» روح ـ ی دشعر شعریت په باب دپورتنیو لیدتوګو او الوا ګونو تر را اخیستنې او لږو ډیر تر سوړنې وروسته خپله پایله(نتیجه)داسې وړاندې کوي :

«شعر له څلورو ضروري توکونو څخه جوړیږي :مفکوره ،تخیل احساس (عاطفه)او وزم.د دې خبرې ضمني مانا داده چې هر نظم شعر نه دی .په شعر کې د مفکورې شتوالی حتمي دی .ځکه چې بې مفهومه شعر، شعرنه دی .لیکن په شعرکې مفکوره باید شاعرانه (په شعر سره دافاڼې وړ)مفکوره وي . له دغو توکو یادونـو وروسته ګولای شو ،دشعر لپاره دالاندې تعریف وړاندیز کړو :

شـعر پـه وزم لرونکې ژبې سـره دمفکورې او تخیل عاطفي

ترکیب ته ویل کېږي. دهمدغه یوه تعریف له مخې چې له اسمعیل خویي څخه یې سرچینه اخیستې ده، زما او نورو ډېرو دڅلورګونو شعري بنسټونو (ژبې، وزن، خیال او فکر یا خیال، ژبې، وزن) په وړاندې (مفکوره، تخیل، احساس او وزن) دشعر څلور ګوني ضروري توکونه یا رغنده توکونه (متشکله اجزاء) بولي، مانا داچې نوموړي دلته ژ به ضمني یا بدیهي ګڼلې او ما د نورو ډېرو غوندې خیال او تخیل او بیا فکر یو څرمه (ضمني) توك یا توك په پام کې نیولی دی. زما په خیال اند ژبه او هغه هم کره کېښکلې او آهنګینه ژبه دتولیز شعر او بیا یې ددوو رغندو مجردو مفاهیمو (خیال و فکر) یوما دي او کانکریت استرجوزوي او باید ژبه څرمه (فرعي یا ضمني) ونه آنګیرل شي، بې له ژبې تفکر او تخیل کېدون در لوداي نه شي خیالي ایما ژونه (استعارې، سمبولونه، استورې او نور) دو یه ونو (واژو) په مرسته رغښت مومي چې بیا د همدوی په مرسته احساس او عاطفه لیږ دېدلای شي. ژبنې توکونه دشاعر کار لوښي بلل شوي، او دهغو په سمه کارونه شاعر له لوستونکي او اورېدونکي سره خبرې کوي او لار ښوونه یې کوي. له بلې خوا ادب چې شعر یې یو ژانر دی، ژبنی هنر بلل شوی دی. په تول ژبنی هنر (ادب) او بیا په ځانګړې ډول په شعر کې ژبه دشعر له نورو توکونو سره نه شلېدونکي دیالکتیکي اړیکې لري. له همدې کبله په همدغه اړوندې یوا خیم بېنر (کا سپر سوو کل ۵۳-۷۷مخ) په ادب کې ژبه اندیز (ژب - فکري) او (ژب - ښکلا پېژې) نوموني کاروي او په دې توګه ژبې ته هم له اند سره پیوند ورکوي او هم له ښکلا سره، او ښکلا پرخپل وار په تخیل او احساس پورې اړه لري. همدارنګه او رزولا بوتګر (هماغه اثر ۱۳۲مخ) هم د ژبې - فکر او بیا په تولیز ډول له شعور او ادب سره د ژبې پراړوندې پاندې ټینګار کوي.

۲ - څپرکی

پښتو شعر سیلابوتونیک (څرپیز - څجیز) دی

۲-۱: پښتو شعر لکه د مخه (۱-څپرکی) چې وویل شول د جوړښت او تخنیک له پلوه په سیلابوتونیک ډول پورې اړه لري نه په سیلابیک او عروضي (متریک) پورې، او په دې توګه یې هېڅکله پردي او په تېره بیا عربي «عروض» منلی او سملی نه دی ځکه څه هم د دغه راز ناکامې هڅې آواز مېښتونه پرې ډېر شوي دي ځکه شعر یو ژبني هنر دی او اومه توکونه یې ژبه ده، یا په بله وینا د شعر توکیز (مادي) اېستر ژبه ده او دا چې هره ژبه ځانته جلا جوړښت لري نو شعر یې هم باید د همدغه ځانګړي جوړښت اروند اوسي، کټ مټ لکه د هرې ژبې پښوونه (ګرامر) چې پخپله له همدغې ژبې څخه را ایستل کېږي او د پردې ژبې ګرامر پرې تپل بېځایه دي.

ګڼه چې وایو د پښتو شعر رغا و نیز تخنیک «سیلابوتونیک» دی دوه توکه (عنصره) یو ستر ګوته نیغ دریږي: سیلاب «څپه» او تون «آهنګ»، یا په پراخه مانا وزن او ریتم. دواړه څېزه (څپه او تون) په پښتو ژبه کې خپل ځانګړي لوښه او جوړښت لري په دې ډول:

۲-۲: لومړی څپه: څپه په تولیز ډول هغه ژبني یوون (واحد) دی چې یو زړی یا هسته «خپلواك یا واول» ولري او په یو ځایي ډول

همزمان له خولې راوځي . داهم اړينه نه ده چې هره څپه دې مانا ولري او يادې يو ګړ(مورفيم) او«وي»جوړ کړي ، د ساري په توګه «آباد»وي څپې لري «ا-» او «-باد»چې دواړه مانا وي نه لري مګر د کور ، پور ، تار ، ګار ، خوند . . . غونډې څپې همزمان وييونه هم دي ، په بله وينا داسې څپې دي چې مانا وي لري. ځينې څپې دزړې (څپلواکې) پرځاى غبرګ(ديفتونګ)لري ، لکه سپي (سګ)پي(شير)پاى(پايان)، زوى(پسر)،خوى(خوى)، لپو (ګاه ګل) ددوله ټولې غبرګ په يوه يو-وي څپې شميرل کيږي چې په دې توګه سپي دري ځزيزه څپه ده نه څلور غږيزه په ځانګړې توګه پښتو څپه دلاويوالي او کوچنيوالي يا ودوالي او لنډوالي له پلوه پر څلور ودولو ويشل شوي :

۲-۲-۱: يو غږيزه(يوتوني) څپه ،چې له يوه څپلواکي(واول)څخه جوړه وي لکه(آ) په(آملکه!) يا(الف) په اتڼ کې.

۲-۲-۲: دوه غږيزه(دوه توني)څپه ،چې له يوه څپلواکي (واول)او يوه بېواک (کنسوننت)څخه رغېدلې وي ، لکه په، ته، زه ،تا ،ما .

۲-۲-۳ :دري غږيزه(دري توني)څپه چې له يوه څپلواک او دوو بېواکو څخه منځته راغلې وي ، لکه تار ، پر ،پور ، [illegible] ور ، سور ، شين ، ژړ (زيړ) ، سره، شنه ، وړه (آرد)، زړه(دل) پرې ، پړه (ملامتي) ، غل ، مل، تل ، غلا، جلا، ورا. نيمواکي (نيم و اول) په دې لړکې د يوه بېواکي (کنسوننت) په توګه راځي لکه (ى) په يور ، يار او(و) په)وار او ور کې :

د(ووز) لومړى (و) نيمواکي (نيم واول)دى او دويم (و) بې څپلواکي(واول)چې د څپې زړى(حرکت)يې منځته راوړى دى.

۲-۲-۴: څلور غږیزه (څلور فونیمي) څپې چې له دریو بېواکو او یوه خپلواکې څخه رغېدلې وي، لکه: وېاړ، وروړ، ځول، وخت، پروت، خپور، سپور، پسور، سپین، لوړ، ځوړ، شواړ، لواړ، گواښ، ترور، نیور، خوله، غوږ، ورون، کلک، پوست، تریخ، ښوون، شکون، شکور، برگ...

۲-۲-۵: پنځغږیزه (پنځه فونیمي) څپې، چې له څلورو بېواکو او یوه خپلواک څخه جوړه شوې وي، لکه: ښوندې، گوندې، ژوندې، غبرگ، لمونځ، پېر انگ، ځوړ یدن، پمنځ، وریځ، شخول (خفقان) ...

۲-۲-۶: شپږغږیزه (شپږفونیمي) څپې، چې له پنځو بېواکو او یوه خپلواکه یې رغېدنه موندلې وي، لکه شخوند چې بنایي تردې لویه څپه په پښتو کې نه وي او له همدې یوې بېلگې پرته دریمې بېلگې څرگنه هم ونه لگېږي. دلته گورو چې د پښتو د غږراز څپېز جوړښت د بېلگې په‌توگه له عربي یا دري سره گورت توپیر لري او له دې سره سره تري د اتوپېر هم راولاړ یږي چې پیل بېیو اکغونډ (ابتداء برسا کن) او هغه هم «د شخوند» غوندې د پرله پسې دروبېو اکو (کنسو ننتو) پولځای کېدنه دا نو رېي دواړې ژبې هلوهغ نه پېژني، عربي او لېوډېر دري بیا دجبر، صبر، دور، علم، شعر، سهو، غور، دلو... غوندې په دري کنسو ننتي و بېو نوکي پای بېو اکغونډونه (فاینال کلستر ونه) لري چې پښتو یې ورته اندولو نه لري او له همدې کبله د غږراز پورو پېونه پښتانه دوه‌څپېز وایي، مانا داچې پښتو د غږراز بېو اکغونډونه (فاینال کلسترونه) نه لري. په‌عربي او دري کې او پودې او لنډې څپې هم بېلا بېل عروضي چارونه (نقشونه) لري.

په دې توګه د څپېز جوړښت له پلوه عربي شعري قواعد له پښتو څخو سره هېڅ رازارخ لګولای نه شي. له دې سره دا هم څوته د چې عربي عروض لکه ګرامري زیاتره یوازې پر ګنسونټو (اصلي توروو) ولاړ لګوي او خپلو اکځېرونه (علت توري) او په تېره حرکات (زور وزېر و پېښ) هېڅ په پام کې نه نیسي حال دا چې پښتو لو نیټه کس (غږیزو څپه) دا منلای نه شي.

۲-۳: اهنګ

تون یا اهنګ د ژبې جوړښت له پلوه څخه ناز نځیری لونیم دی چې د ګړهار په بهیر کې اواز پورته کېښته کړي او ز پروسم مانځته راوړي په پښتو کې اهنګ ژبنی ارزښت لري او دخبری او ناخبري څونه لو (جملو) تو پیر ورې پیدا کوي.

۲-۴: خج

بل ور ته ناز نځیری توک چې له اهنګ سره نه شلېدونکی اړیکی لري «خج» یا «فشار» دی.

خج څڅه چار یا عملیی ته وایي چې د ژبنو توکونو په لړ کې یو توک په زیات زور او شدت وویل شي او په دې توګه فشار دز یو دله مخې د هوا د فشار د بدلون د څانګړ تیاو وله ترکیب، د زېرو بمی ګچې له تو پیر او څپلوا ګیز (واولي) راکېښون کې له تو پیر څخه مانځته راځي. فشار دا او ږیدنګ له پلوه زیات رسا والي ته وایي. خج (فشار) په دوه ډوله دی: آزاد، لکه په پښتو او روسي کې چې د بېلا بېلو ویپونو په بېلا بېلو برخو کې راځي او بل جوت (ثابت) خج دی چې په یو لړ ژبو، لکه فرانسي، انګلیسي او الماني کې له آره تل د ویي په سر کې راځي او یا په پولینډي کې له آره تل دویي ور یا پسخه څپه یا څپلوا ګه (واول) باندې راځي (۱-۱).

فشار یا خج په پښتو کې هم ژبنۍ ارزښت لري، داسې تاچې شتوالي او نشتوالي يې مانيز بدلون پيښوي او هم د شعري ارزښت لرونکې دی . داسې چې په يوه شعري توته (مسره) کې بيلابيل غړندونه (رکنونه) جوړوي ، په دی ډول : د هر (بشپړ) غوند (رکن) په څلور گونو څپو کې يوه تاکلې څپه خجنه کوي او که له يوه غونده يې بل ته خپله تاکلې څپه بدله کړه ، آهنگ (تون) ويجاړيږي اوله دی کاره د څپو له يورنگه شمير سره سره د شعر تول وتال يا (وزن) ، ياپه لنډه وينا توليز (عمومي) ريتم له منځه ځي او د چا خبره شعر غوته (سکته گی) پيدا کوي او له موسيقۍ سره هم اړخ نه لگوي.

د « سيلا بوتونيک » د ر غندو توکونو (څپې او تون) په دغې لنډې شننې وروسته دا پايله ترلاسه کيږي چې پښتو پويتيکس (شعرپوهه) له خپل فونيتيکس (غږپوهې) سره نه شليدونکې اړيکې لري او په دی ډول ورسره د نورو ژبو شعري قواعد سمون نه خوري .

۲-۳- غوند (رکن) :

د پښتو د ری گونی ډوله (ولسي) یاو گړنی یا گړنی - ليکنی يسا ديوانی او وسنی آزاد) شعر بنسټ پر څپه (سيلاب) او خج (فشار يا آهنگ) ولاړ دی . داسې چې له بيلا بيلو غوندو (رکنو) څخه رغېدنه سومی . يو غوند بيا د ری نا خجنی او يوه خجنه (فشار داره) څپه لري . په هغه دو سره توپير چې په وگړنی او ديوانی شعر کې د هری توتی (مسری) د څپو شمير تاکلې اندازه لري . کوچنی ترینه يی مسره يی او وه څپيزه او لوی ترینه يی شپاړس څپيزه ده . مگر پر اوسنی آزاد شعر کې هره توته د آر (اصل) له مخې تر يوه غونده (څلورو څپو) پوری کوچنی کيدای شي او په ځانگړو اکرو (حالتو) کې تردری څپيزي ، دوه څپيزي او يو څپيزي هم لنډيدای شي او تر څلويښت څپيزي اوږديدای شي ، نورپورته

کیدون یې څکه نشته چې پخپله شاعر او بل هر لوستونکی (یا سندرغاړی) یې نور په یوه ساه او یې لارځې (وقفې) د لوستلو او ویلو توان نه لري او د چا خبره ساه یې سوځي. د تولیز آر (عمومي اصل) له مخې هره شعري توته (مسره) چې په هر ډول شعر اړه لري، په یوه څلور څپیز غونډ (رکن) پیل کیږي، داسې چې یا یې لومړۍ څپه، یا دویمه څپه او یا یې هم څلورمه (وروستۍ) څپه خج اخلي او بیا وروسته هر غونډ همداسې راځي، یا په بله وینا، که لومړی غونډ په هره څپه کې خجن شوی و، وروسته هر یو غونډ په هماغه (لومړۍ، دویمه دریمه یا څلورمه) څپه کې خجنیږیا مومي. که د مسرې وروستی غونډ نیمګړی، یا په بله وینا تر څلور وڅپو کم وي او د لومړي غونډ له مخې تاکلی خجنه څپه ونه لري، ګیډای شي، هیسته وغور ځول شي او یا هم د مانیز اړیکي له کبله پرځای پریښوول شي (لکه دغني په ترانه کې، ۳۲۸ مخ). داسې پای ته راغلي ناخجنې څپې په قافیه وال شعر کې یوازې د ردیف د نه ترسره کولای شي او په قافیه کې برخه څکه اخیستلای نه شي چې قافیه هیڅکله ناخجنه نه راځي. هر ګوره زن سبا او هغه هم په ځانګړي ډول په غزل کې ردیفونه د دو مسره او پړه شوي دي چې ترنهو څپو پورې را اخلي، لکه د زنګیال (شاشکي ـ شاشکي ۶ مخ) په دې غزل کې:

او ښکې پریوځه خوره شه چې د شپو د جیل بندي یم.
د تیاره ماحول ډیوه شه چې د شپو د جیل بندي یم . . .

اویا یې هم په دغه بله بیلګه (۳۱ مخ) کې:

داسوي ستې وطن پریږدي چې لېوخا ندي
دغه شهرتي وطن پریږدي چې لېوخاندي . . .

په کلاسيک غزل کې يوازي خوشال ختک يو نه خپيز رديف کارولی دی:

له حاله يې خبر شه! که شته که شته نشته نشته
قلاش وقلندرشه! که شته شته که نشته نشته . . (کليات ۲۹۴)
دلا زياتې شرګند تيا لپاره (۳-۶-۳-۲-۲-۱).

په دې توګه د غه راز نه خپيز رديفونه دوه دوه بشپړ غونډونه (رکنونه) جوړوي او يوه څپه يې پای ته سربا ري رالحې، داچې ددغو غونډونو پرکومه کومه څپه خج راځي، داړوندې سرې په نورو غونډونو قياسيږي.

په درو ګونو (وګړني، ليکني يادېواني اواوسنی آزاد) شعري دو لونو کې داسې بېلګه تر او سه ليدل شوې نه ده چې لومړی څلور څپې يې ناخجنې وي، يا په بله وينا، يو غونډ يې نه وي جوړ کړی او پرپنځمه خجنه څپه يې پيل سوندلی وي. مانا داچې خج هيڅکله له څلورمې څپې تېرې نه کوي او ... نه، همه شعربه هرو مرو يې تول وتاله (بيوزنه) وي. دهمدغه آر (اصل) له مخې څيني اوږده (پور -) ويېو نه په پښتو شعر کې هلو هيڅ را تلای نه شي، لکه (اهورامزدا) يا (نيکاراګوا) چې د پښتو خجپوهنې (اکسنتولوژی) له مخې بې منطقې ياعادې خج پرورو ستې څپه راځي، حال داچې دغه څپه پنځمه ده او ترڅلور څپيز غونډ (رکنه) وتلې ده. پربله هره څپه يې خج راوړل له پښتو وينګ سره ارخ نه لګوي.

۳ - څپرکی

دوګړنی یا ګړنی پښتو شعر جوړ ښت

۳ - ۱ : د پښتو وګړنی ادب پېژندلی برخه «شعر» د جوړښت له پلوه آزاد او پخوانی بریښی، تر دې چې د لیکنی یا دیوانی آزاد شعر او پارچې مخ بېلګه ګڼل کېږی، په بله وینا سېلا بو تو نیک جوړښت لری.

داچې په یو نیم وګړنی شعر کې دویمه مسره له لومړۍ مسرې څخه انډول نه لری، لاسوند یې دا دی چې دغه دویمه یې ځانته جلا تول وتال (وزن یا ریتم) لری لکه په دې سروکی کې چې په کلاسیکو دیوانی شعری ډولونو کې مستزاد بلل کېږی:

هاس په باره کې او به ګډې وډې ځینه

شینوا ری لونګینه!

لومړۍ مسره په شلو رمه (سره) او دویمه په دویمه څخه شپه (سوا) پېژل کېږی.

دسروکی جوړښت زیاتره په «مستزاد» ډول وی، لومړۍ مسره یې اوږده او دویمه یې لنډه راځی لکه واخلی په تیره بېلګه کې مګر بولړ سروکی سرچپه جوړښت لری، داسې چې لومړۍ مسره یې لنډه او دویمه یې اوږده وی. اوږدې مسرې په

په دوا ړو ډو لو کې زیاتره دلنډې (دویمې) مسرې هو مره اوږ دوالی لری او څجونه یې هم ورسره هم هم داسې سمون خوری. مګر

وره مسره یی دلنډی لهلومړی(وړی)هغې سرهڅپېزاو څجیز انډول دوسره نه لري .

دچپه«مستزاد»بېلګې :

۱-لونګ ګرمه-که لومی ګډګړ یاره تابه راو لمه

لومړی مسره پنځه څپېزه ده او پرد ویمه څپه باندی یی څج راغلی دی .دویمه کټ مټ دلنډی ددویمې مسری غوندی دیارلس څپېزه ده او پرځلورمه، اتمه اودولسمهڅپه څجونه لری .

۲-لودی دغنموپاره -ګیدی را و اچوه پنګړی راغلی دپنځه لو مړی مسره اته څپوزه ده او څجو نه یی پر اومړی او پنځمه څپه راغلی دی؛دو یمه بیا هم دلنډی له دو یمی مسری سرهڅپېزاو څجیز سمون لری ، مګر په تون(آهنګ)کیور سره یوراز نه ده .داماناچی دلته دلنډی غوندی آهنګ څوږ نه ، بلکی لوړځی څکه سندرغاړی وروسې پټلیز داومړی مسری یوه برخه(یا ره لو؛) راغبرګوی او اړدی چی آهنګهما غسی لوړ وساتی .دغه آهنګ لوړ والی ساتل دسرو ګیو یوه تولیزه بېلتیاده .

۳-لیڅنی(و)لاړه شه ګل راوړه-کهدلتهنهوی له کندوهپسیواوړه دهه سرو ګسی پهڅپېزا و څجیز چو ړښت ګی له لنډیسره هیڅ ګوم توپېرنه لر ی مګر یو څو اهم توپېروا لی اوبل څوا لکه پاس(۲-۳)چی وویل شول ،آهنګ هم څپل نقش لوبوی‌چی له لنډی سره په وزن(ریتم)کی توپېر راوړ ی .

۴-په اتنڅارکی دچانان و لاړه یمه-بارانه مه راځه ماهامدی دا سروګی کهمځکی وروستهشی ، کټ مټ تری لنډیجوړیږی په دی شرط چی آهنګ تهیې هم بدلون ورکړشی .که څه همآهنګ په تولیز ډول دپښتو شعر په سندریز طرز(کمپوز)پوری اړهلری

که نه په عادي لوستنه او شننه(تقطيع) کي آهنګ په پام کي نه نيول کيږي .

۵ـ زن مه راځه جومه (جمعه) ده

سبا ته راشه چي آخره چار شنبه ده

داهم له قافيه والو سرو کیو څخه ګڼل کیږي . لومړی مسره يي او وه څپېزه ده چي پر دويمه او شپږمه څپه يي څجونه راغلي دي اودويمه مسره يې دڅپېزاو څجېزاندول لامخې دلنډۍ دويمې مسرې ته ورته ده مګر داچي ، نه دلنډۍ څوندې ترنۍ توك(مه ، نه)لري او نه يې آهنګ پريوتي پای ته رسيږي ، نو ځکه ورسره يو راز ګڼل کیدای نه شي .

۶ـ بند کړه قاويزو نه ليلا

(وا)سپينه روبی دی پروربل وهي تالو نه(ليلا)

لومړی مسره اته څپېزه ده چي په لومړۍ او پنځمه څپه کي څجنتيا لري ، که څه هم دپای څپه(ـلا) يې هم څج اخلي ،خوڅنګه چي دپښتو شعر دتوليز دو دپر خلاف دځلو رمې څپې په توګه څجنه نه ده ، په بله وينا تر درو څپو وروسته نه ،بلکي تر دوو څپو وروسته څجنه شوې ده،نو ځکه يې داغوندو يې(ليلا)دسندرېز ګمپوز له پلوه وروسته ورزيات شوی وي . داراز زياتونه ددويمې مسرې پای ته هم په ډاګه څرګند يږي، ګټ مټ لکه (وا)ددويمې مسرې په سر کي ،البته سمدلاسه (ليلا) دلته درديف بڼه غوره کړې ده که نه دويمه مسره دلنډۍ له دويمې څخه سره ښه پر څپېز اوڅجېز سمون لري .

۷ـ راواروه شني ، راوړی مي ګلونه

داستا لپاره مي راوړي زېړ ګلونه

ځایې داسې وکی له هغو لیکوالو سره څخه وکتل شي چې د ټولیز (عام) خجنیز دود په وړاندې نادودي (بې قاعده‌ګي) لري او هغه داچې لومړۍ مسره یې تر دویمې خجنې څپې (وا) دوې څپې وروسته خجنه څپه (څه) لري او ور پسې بیا هم دوې څپې وروسته بله خجنه (و) خجنه راځي. دویمه مسره یې بیا په څلورمه خجنه څپه (-پا-) پیل شوې او په دې توګه د لنډۍ د دویمې مسرې غونډي دیارلس څپیزه راغلې او خجونه یې هم پر څلورمه، اتمه او دولسمه څپه راغلي دي.

داچې د دغې سروکي دواړې مسرې سره همدغه خجیز انډول له پلوه سمون نه لري او یوازې څپیز انډول یې سره سم دی، دلیل یې کمپوزي توپیر دی، ځکه په ډېرو سروکو کې د مسرو دغه موسیقي ځانګړتیا یو راز نه ده، هرګنده ده چې خجیز او څپیز برابري یې سره هم سمه پیدا ای نه شي، لکه هماغه تېر سروکي:

یامن په بارکې اوبه ګډې ودې ځینه
شینوارې لونګینه

د سروکي د نورو جوړښتیزو او ساییزو ځانګړتیاوو او بېلتیاوو په برخه کې د دوست شینواري «د پښتو ولسي ادب لاري ۷۰-۸۰ مخونه» وکتل شي.

بابولالي، شین خالي، د هو تکو ناري، د ګاکړو غاړې یا ګاکړي، لنډکي او داسې نور ورته سندري د شعري جوړښت له پلوه د سروکي په لړ کې راځي او د هماغه دوه داو دوي (قانون) پر بنسټ یې وغیدنه او شننه تر سره کیږي، په بله وینا هر څلورمه څپه یې خجنه راځي (د پوهنتني اثر او ندې شرګندونې دې وکتل شي).

دو ګړني پښتو شعر د بېلا بېلو ډولونو په لړ کې یوازې لنډۍ یوجوت (ثابت) سېلابوتونېك (څپېز ـ سخچېز) چوکېټ لري او له دغه جو لېز رغښت پلوه د سرو ګېو پر خلاف هېڅ راز سيمه ييز ځېلو نه (واریښتونه) نه لري، بلکې یوازې د سندر یزې رنګا رنګۍ له مخې سره تو پیر او بېلتون مومي او د اهنګچي د اړوند وسرو ګهوله بېلا بېلو ګهو زو نو سره بېلا بېلې سندر یزې بڼې غوره کوي. د منځپا نګې له پلوه هم لنډۍ کوم سيمه ييز ځېلو نه نه لري او په دې ډول کومه سيمه ييزه ډ لنډۍ نه را منځته کوي.

لوبې، بګټۍ او داسې ورته ولسي شعرونه د رغښتي تخنيك له پلوه د ټولېز پښتو شعر او يا په ځا نګړي تو ګه له سرو ګېو سره د پر تلې وړ دي. مقامونه، چار بيتي، داستا نونه، غزل او داسې نور پښتو ولسي او ګړني شعري ډولونه د ديواني (ليکنيو) شعرونو غوندې په بشپړ ډول د سېلابو تو نيك له ټو لو ځا نګړ تياوو سره اړخ لګوي او داسې ير يښي چې د غه ډولو د ديواني شعر ونو په پېښو ګړني شعر ته لار پيدا کړې وي او د دغو نورو همره لر څو نوالي و نه لري.

۴ـ څپرکی

د ديواني يا ليکني پښتو شعر

جوليز رغښت

۳ـ ۱: د پښتو شعر دغه ډول که څه هم زياتره د پارسي هغه په پېښود پښتو ادب کلاسيک پېر جوړ وي مګر رغښتي تخنيک يې په بنسټيز ډول تر ټولو لږ پښتو (سيلابو ټونيک) دود او دوی لا زدی راځي نو له دې پلوه تر ګړني (شفاهي) يا وګړني (ولسي) هغه زيات پر له پسې (منظم) دی. له ګړني او وګړني شعره يې يوازينی توپير په همدې کې دی چې هېڅکله «قافيه» او تر يوې زياتې کچې «رديف» له لاسه نه ورکوي او د همدغو دودونو له مخې يې د پارسي يا عربي په لاروي بېلابېل ډولونه ـ غزل، بولله (قصيده)، دويزه، څلوريزه، پنځيزه، شپږيزه ... پارکي يا قطعه، مستزاد، ترجيع بند ... ـ منځته راوړي دي. په دغو ډولونو کې يوازې «متسزاد» ډول له پښتو سروکيو او نورو څېلو نوسره اړخ لګوي چې ديوانوالا يا پوره ليک ولوست والا شاعرانو ورسره دومره ليوالتيا نه ده ښوولې.

له دغو ټولو قافيه والو ليکنيو يا په بله وينا ديواني «تقليدي» شعري ډولونو سره زما نوره څه کار نشته او يوازې يې

د پښتو شعر تولیز سیلابو تونیك «څجیز- څپیز» آروزنه ترڅیړ نې لاندې نیسم.

۴-۲: هغه ډول شعر (که له دغو پورتنیو ډولونو څخه هر یو وي) چې هره مسره یې په لومړۍ څجنه څپه پیل موندلی، په لاندې بېلګو کې وړاندې کیږي:

توره چې تیریږي څو ګوزار لره کښه

زلفې چې ولول شي څوځپل یار لره کښه (خوشال)

دا غزل په دیارلس څپیزه مسره پیل شوی او داچې وروستۍ څپې یې څجنې دي، نود پښتو شعر د یوې بېلې سیلابوتونیکې ځانګړتیا له مخې یې «غیر مصرع» یا بې قافیې مسرې یوه یوه څپه زیاتې راځي. څجونه پرلومړۍ، پنځمه، نهمه او دیارلسمه څپه راغلې او په دې توګه غیر مصرع مسرې یې د مصرعو هغو غوندې پرڅجنوڅپو پای ته نه رسیږي، بلکې وروستۍ او زیاته شوې (څوارلسمه) څپه یې بیا نا څجنه پاتې کیږي او څنګه چې تر څج وروسته څپې انسلي ول په دویمه پورې کې راځي، نود شعر په تولیز تول وتال یا وزن او ریتم کې کومه وقفه نه راځي، لکه (ولې راقه وایې چې پر ښکلو نظر مه کوه).

یوه بله بېلګه را اخلو چې پایمخې څپې یې څجونه ولري او پرلومړۍ څجنه څپه یې پیل موندلی وي، لکه:

سترګې دې ګوروڅې که یې زلفې که اور بل دي

څوتورې بلادې چې مې زړه پکې قبل دي

همدغه راز د خوشال ۱۳۰، ۳۹۴، ۴۰۴، ۴۱۷، ۴۵۰، ۴۶۶ ... ګڼې غزلې هم در واخله.

چې ته یه خلا صیږی دا بلا ترزړه چاپیره
یې که گوری لا په مرو لمپو او ربل دی . . . (د خو شال له غزلو څخه).

دغه غزل یو مخیز خوا رلس ځپیز دی او پر لومړی، پنځمه، ۴۰۳؛ او دیارلسمه ځپه خجنتیا لری.

۳-۴: هرهغه شعر چی هره مسره یی په دو یم مخجنه ځپه پیلیږی، لکه:
په زړه ترپا رخا ریږم د پتنګ غو ندی پیری کړم
یوا زدی په دا کار کی که په خوله و رته چیری کړم

دا غزل هم د پا سنی هغه غوندی له یوی مخی پنځلس ځپیز دی او دا چی د سر کری او نو ری قا فیه مسری یی په نا خجنه ځپه پای مومی، نو په بی قافیه مسرو کی یی د بلی کو می سربا ری نا خجنی ځپی ار تیا نه ده لیدل شوی . د پو ره څر گندتیا او جو تتیا لپا ره د خوشال له کلیا تو څخه (۳۷۱ غزل، ۲۹ مخ) را اخلو چی د لومړی بیت دوا ړه مسری او نو ری قافیه والی مسری یی خوا رلس ځپیزی دی، خو دا نوری یی پنځلس ځپیزی را غلی، ځکه لکه پاس (۳-۲) موچی وویل، لومړی یا په بله وینا قافیه والی مسری یی په خجنه ځپه پای ته رسیدلی دی:

له تا نه چی جدا شم، په نا کام پر ورځ و شپه
نه خوب نه می خو راك دی، نه ارام پر ورځ و شپه
بل خیال فکر یی نه وی یی دیا رله رویه مویه
د زړه پر حال خبر یم زه مدام پر ورځ و شپه...

له مخنی بیلگی سره د غی بیلگی ور تو الی همدا دی چی د لته هم پر دو یمه، پنځمه، نهمه او دیار لسمه ځپه خج را غلی او نا ور توالی یی په دی کی دی چی د مخنی شعر تو لی مسری پنځلس ځپیزی دی او

د دغه شعر قافیه‌والي مسري څوارلس څپیزي او نوري پنځلس څپیزي دي. همدارنګه ١٣١، ٣٠٣، ٣٦٧، ٣٢٥، ٣٦٩ ... ګڼې غزلې هم د رواخله.

ما تر اوسه د رحمان بابا په دیوان کې تر اتو‌تو تو پورې له لومړي خجنه څپه پیلېد ونکې شعرونه موندلي دي، لکه:

-سل ځله که وخوري ناصحان ځیګر زما ...

-سر زما سامان زما، ځارشه تر جانان زما ...

-چېر ته د یار شونډې چېر ته غم د دل وجان ...

-تېر شو په داتمه پر د رستاهم ز ما ...

- هرچې خپلي مینې خو ار ګړ خوارېږي مه ګڼه ...(رحمان ٢٨٣مخ)،

-مست د هغه مخ یم چې مستا نې لرې ستر ګـې ... (رحمان ٢٨٧مخ)،

-خه شوکه خاموش یم ستا د عشق له آه سرده.. (رحمان ١٣٩مخ)،

-وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره ... (رحمان ١٤٣ مخ).

٣-٣: هر هغه شعر چې مسري یې په د ریمه خجنه څپه پیلېږي او ورپسې نوري څپې له تهلیز دو دسره سم د ري د ترمنځ ناخجنې او خلورمې خلورمې خجنې راځي.

دغه راز شعرو نه په ټول کلاسیك او آن نننۍ قافیه‌وال اوزاد شعر کې بېخي ډېر ښت لري. د رحمان بابا، حمید مومند، قلندر آ پریدي ... نژ دي ټول هغه په دریمه خجنه څپه پیلېږي او چېري یو نیم یې په لومړي هغه پیلېږي -د دویمې هغې بېلګه یې ما تر اوسه نه ده موندلې. د خوشال خټك زیاتره شعرونه هم په دریمه خجنه څپه پیل شوي دي، خوپه خوا کې یې د لومړي او دویمې هغې بېلګې هم ښا یسته ډېرې موندل کېږي.

دادی اوس پهدریمه څپرکه پهلیدونکی شعری پانگی پهوروسته
تو که وراندی کیږی:

الهی د سجت سوزو گدازرا
پهدا اورکی دسهی سندرسازورا ... (حمید ١ مخ).

ای مدام دنس پهزیرمه مبتلا
خانقهولی ویبنوی ویدی بلا
دانایان لهدښمنانو سلامت کا
تهپهشهکوی دنفس شیطان سلا ... (حمید ٣٠ مخ).

نن پهشپه زماد یار هر کوم مکان وی
جلوه گر پهٔهر کوم هټ پر کوم دوکان وی ... (حمید ٣٠ مخ).

چی پهسهر پی نن مخ ږساپراته رکړ
هم هغه می پهکور پوری دغم اور کړ ... (قلندر ٢٨ مخ).

نشتهما خطه نورتوان ستا دجفا
ستار ضا که اوس جفا کړی کهوفا
خراب شوی ستا پهغم زی هسی رنگ یم
چی می نهشی کړای عرب عجم دوا ... (قلندر ٢ مخ).

هیڅ می نهزدهزهپو هیوم داخه پهرشه
چی دلدار می داغیار ته شکل وشیرشه ... (رحمان ١٥٨ مخ).

چی پهخندهشی اشنا پی
ترمیان وخی جدا پی
وطالب وتهوفاشی
دمطلوب پی وفا پی ... (رحمان ٢٦٧ مخ).

هغهیار چی هایستهدی تر افتابه
مخ پهکله راهر گند مکاله نقابه

پولتانه په زړه زهر ګرم بې حسابه
یوسف وګرې یا مسبب الاسبابه
چې زما ملا قات وشي له احبابه... (رحمان ۲۷۶ مخ).
صورتګر چې په صورت پر دیوال سازګا
ګل عالم پې په صفت ژبان دراز ګا... (خوشال ۱ مخ).
حقیقت راته ښکاره شو دهرچا
باورښته پراشنا، پر نااشنا
چې پر سر دې سوګند خوري ورځنی دارګا
یوه ورځ یه ستادسروګا سودا... (خوشال ۲۱ مخ).

۴-۵: په دیوانی شعرونو کې دولسي (ګړنیو) اواو سنیو قافیه والو اوازادو شعرونو په ولاندې په څلورمه څپه پوهېږو نکې شعرونه ډېر لږ دي. که څه هم داد تولیز پښتو سیلا بوتونیلک شعرو روستی برید دی. مافاداچې دهیخ دول پښتو شعر پیل تر څلورمې ځجنې څپې وراندې نه دی لیدل شوی او که و لیدل شي، تول وتال (وزن) بیا هلونه شي د رلوداي. په کلماسیك پیر کې یوازې مات یالارغه یي (وقفه یي) شعر و نه او هغه هم زیاتر ه لس څپیزې څلوریزې په څلورمه ځجنه پای مومي چې د مات شعر له دود سره سم یې ور پسې خج پر نهمه څپه راځي دا ځکه چې ترلارغې وروسته ګواکې سره بدلیږي او دلومړي برخې غوندې په څلورمه ځجنه څپه پیل مومي.

۴-۵-۱: لس څپیزې ماتې څلوریزې چې پر څلورمه او نهمه څپه ځجنه ګیږي په دې وروسته دول دي:

۱- ګله په راشي پرهند براته
ګله په کښېني ماته مخ راته
څوته رادرومي پکې دیوي پردي

هم په کاخونه د حمیده سیراته (حمید: ۱۱۳مخ)

دلته د حمید پوهنیز لوستل په کار دی، کوم چې له آره په بې ار ځای ځانته راغلي واو چاپ یې داونجون راوړې وي

۲- د خدای لپاره د دوست پروی دي‌وه

دوفادارو پکلو په شوی دي‌وه

د زړه خورا نوپه‌ها ی اوهوی دي‌وه

دلومړي څلور بیزی څلورواړه مسري لس څپېزي دي او ددوهمې لهآره یوو لس څپېزي دي مګر دریمه (څور مصرع یا بې قافیې) مسره یوولس څپږ ده. څکه لکه څنګه چې وویل شول (م-۲) په څپای شعر کې بې قافیې مسري یوه څپه زیاتوي. دغې په چپه دول پدوو ناڅپو (یادرونا څپنو) پای څپو کې یوه (یادوه) څپې څور ځیدای هم شي. له دې چې توپل وتال ته کوم لیدو ږ زیان و رسیږي دساري په توګه دغني خان دقامي ترانې (ای زما وطنه) پدریم بند کې ترڅپنې څپې وروستي څونه‌ي دوی څپې کمې دي مګر دموسیقي په پردو کې نه نښکېږي کوم ډول کېږي یتش منډ رڅاړي څپل اهنګک بوخه اوږدوي. دقلندر اپریدي هغه‌توکي څلور بیزی چې په‌او سفی دیوان (دکابل د ۱۳۰۶ چاپ) کې راغلي دي، دحمید مو منډ پا سنیو دوڅلور بزوڅوندی ماتی یاالارڅه‌یی دي په‌بله وینا په څلورمڅوته څپه پیل شوی او دلومړي اودویم څج واتن یې‌م څلور څپې دي مګر دڅپود شعیر اله پلوه بو ازی د حمید له لومړي څلو ریزی‌سره سون لري او داهم باور ی بریښي چې دحمد څه استاد پرلاره‌تللی دي کڅه هم نه‌روده پروشاعرانو هم دغه دول څلو ریزی ویلی دي

دقلندر څلوریزی پلاندی دول دي:

۳- زه دي دوصل په تمه کرځم

هجران دې وسوم له غمه پرهم
که مې وصال وي له خپل میینه
قلندر به بيل لور ګرځم
٤- زه دې له هجره تل اسان خوارم
بې تا زه مهر د بل نه غواړم
که دې نظر وي مهر او ماته
زه قلندر دې په در کې ژاړم
٥- زه په هجران کې دې مبتلا کړم
غريب همېش دې په واو يلا کړم
د رحم لپاره جفا نور پرېږده
زه قلندر دې مهر اجليا کړم ... (قلندر ١٥٠ مخ).

د کامګار ختک په ټول دیوان کې هم غزلې او مخمسونه ډېره دي
څلورګونه هم په پېل شوي دي او بوازې څلوريزې يې د حميد او قلندر رنګو
څوندي په څلو و مه څجنه شپه پيل مومي چې همغسې لس شپږ ي
مسري لوی اودویم ځج بې څلو رځلور ځې وروسته ر اغلي دي:

٦- زما د لېږه د تاله درده
ترګي مې سري دي ګونه مې زرده
د اهو سر مجور پر ما تل مه کړه
وېره مې و کړه له آه سرده
٧- ومه کړه په څه کړې هجره خونخواره
چې دې جدا کړ کامګار له ياره
بوصل مې پيدا کړه له ياره وصل
که نه وي مر مه درب لپاره ... (کامګار ١٨٣ مخ).
٣-٥-٢- : دماتو (لارښه بي) لس څپېز و دو پيزو (مثلويو) بېلګې

په څلورمه څپه کښې بېل موسی او هغه همد پور تېرو څلو ریزو غولډې په ورته څېړزاو څېز انډول راکه:

۱- کېږون دي پون دي مخکې پښتون دي
له کسې غره څخه څي مرېږون دي
که وروره وروره مرېږون وروره
تهې پښتون کړې زما وېرته گوره
چې څي مرغې له توري کرغې له
هغزولې پاته څي څه مرغې له ... (پته خزانه ۹-۱۰ مخ).

د حافظ نظام د لېلی او مجنون » کیسه هم پهمداسې لارځه پې (وقفه‌یې) یامات ډول په دو پېزه څه و پل شوې ده، لومړی څخ یې په څلورمه او دویم یې په نهمه راغلی او د پښتو د و بزی لهعام دودسره سم یې څپې پېنوله نه څېړ هم راځي، تردې چې لومړی پولې یې هم په څپوږ پت شوی دی:

۲-وا یې وېونکې ددي قصې
چې ټل یې ښکارو د پښ هوسې
چې د عروډ ملك پومردو
څجسته نام و په عقل فردو
متاع یې ډېره له هره بابه
څوک په حساب و څوك بې حسابه... (دهاغه اثر ۹۵ مخ).

۳-۵-۳ پد زینب هو تکې شېږېزه (ترجیع بند) وېرله (مرثیه) په ماته څه نه، بلکې دهادی شعر په څه په څلورمه څپه کښېل شوی ده (پته خزانه ۱۰۳ مخ). همدارا ز د باباهو تکک مندره هم د ر وا څله (پټه خزانه ۵ مخ).

پوېډنې او تېرو تنې:

۳-۶-۱: د یوانې پالیکنې شعرونه لومړی د پښتو شعرتو لېزې

د سېلابو توښکې د ځانګړتیا پر بنسټ تر کره کتنې لاندې نیسو او ویلای شو چې د قافیه والو شعرونو په توګه د قافیې او ردیف د ځانګړتیاوو له مخې چې په پارسي او عربي کې یې تاکنه او پېژندنه شوې ده.

٣-٦-٢: د سېلابي توکو په ښځېزو دودونو او قاعدو له مخې داوروسته څوېدنې او تېروتنې د یادونې وړ دي:

٣-٦-٢-١: د څپېز انډول ړنګېدنه، دا په دې مانا چې کله په یوه لیکنۍ قافیه وال شعر کې مسره پا مسرې قرېز مسرې پا په بله وینا سر کړې (مطلع) څپېز کموالی یا دېروالی ولري او د څه کمي یا زیاتي څپېزانډول ته وتهٔ ور سوي، نو بیا وایو نوموړي مسرې پامسرو څپېزانډول ړنګ شوی یا په بله وینا څپېز ځپېز ویار (عیب) لري، هغه که پای له درو کېدو نیو (ممکنه) څو څه یوه، دوه یا درې واره وڅورځي او ور مخې ځي کمزوري نه کړي، او کوم ویاړنه کتل کېږي. د ساري په توګه که (غزل)، دربېزه، څلوربېزه، پنځېزه... یا پارکي (قطعه)، بولله (قصیده) ...چې لومړۍ مسره پا بیت پوره وستي څپجنه څپه پای ته رسېدلی وي، وروستي بیتانو (څېرمصرعي) مسرې یوه یوه څپه زیاته راتلای شي، ترڅو چې کله کله د دغې یوې څپې نه زیاتوالي شعري اهنګ پوڅه کمزوري کوي هم، لکه په دې وروستیو بېلګو کې:

ستا له خوا نه پېلېدای نشه زه
ستا له سوتي صور پېدای نشه زه
چې نیولی بې د ستاد وفا لار (ه)
له دې لارې کږېدای نشه زه
ناامیده ستاد ستر ګوله لکو (نه)
لکه اوښکه څڅېدای نشه زه

په رنځور ستا د بېلتون کړ هم (چې)
بې وصال دې رغېدای نه شمه زه
په هغه ازاده سينه زوار د ستا
(وستا هغه ازاده سينه زواره)
چې په جېل کې خلاصېدای نه شمه زه
(زيار : زنداني نغمې ۲۳ مخ).

هر مطرب چې شروع کا تار د رباب
په دا تار کې زما زړه کاندې خراب
چې سامع يې په نغمه په ترانه (شم)
ديوانه شم گرېوان څيري مست خراب... (رحمان : ۳۷ مخ).
که مسجد گوري که دېر
واړه بو دي نشته غير
بوهې بيا موند په هر څه (کې)
چې مې د گرد زړه سير... (خوشال : کليات اټک ۶۵ مخ).
اې مدام د نس په زېر سره مبتلا
ځانته ولې وپېژنې و پدې بلا
دا ناپوان له دښمنا نوسلانه (کا)
ته په څه کوې د نفس شيطان ملا... (حميد : ۳ مخ).
شوم په دام د زلفو بند
په چې نه مې واخست پند
عشق دې اور و زه ورکې شوم
پاک بوان لکه سپند... (کامگار : ۳۳ مخ).
که خوروای لېدې هسې رنگ خواري
ما به نوم اخېستی نه د دياري

ستاد غم په دریاب ډوب یم تر غړی
پېتانه لرم هیڅوك دد ستګوری
مګر ته پخپله لاس را کړی همدمه . . : (رحمان : ۲۷۸ مخ)
خوب به له ورځی له ډېری ستومانی
بودنوی ته یی د ملو پنګو ما نی
نه به ورانده ځی زړور په ښاد مانی
نه به پیرته شی را تلای له پښیمانی
له هرسړی په پدا سیدداما نی
چه روحی کاد نمری یه په ټماتی
چی دی یار پښځی داهسی نرمه ګرمه
ته په کومه حیاروغ ګرځی بی شرمه
(حمید : ۳۰۲ مخ) .
دا کوم شرم دی کوم ډرم د یاری
دا بیوند دی په لما تروبزاری
چی می یار پر تورده ځمکه د خواری
لګیدی پاځی خوار حیران له نا چاری
او زه بوی ښپرازه ګرځم سوین سوځلی
(حمید : ۳۰۷ مخ) .
سته زرسل پنځه شپېته ده
چی رحلت وکړ کامګار
پس له دی نه په دی کاله
پلارډ ده وڅو نامدار . . . (کامګار : ۱۸۵ مخ)
خراب ژرمی هوښیری
ستا جمال می ډېر یاد یوی

که نظر دې پر مله کیږي

فریادرس یا مصطفی . . (احمدشاه بابا : دغورځان پای)

د فلک له چاروو څخه و کړم کو کار

زموږ لوی هر ګل چي خاندي پربهار

هر غوټول چي پرېږد یاغوړیده و کا

رېژوي بې پاڼي ګاندي تار پر تار .. (داسعدسوري بولله، پټه خزانه).

ـ وایي داچي صحبت کا زندي

یو له بله د یرا ثر

پر کلو دي مصا حب شوم

ستا صحبت نه کړمه خر (محمد عمر : پټه خزانه، ۸۰ مخ)

صحبت د یر اثر کا کو ره

منکر نه شي له اثر

ته د مخه هغه شي وي

اوس انسان سولي بشر (محمدطاهرجهر یاني : پټه خزانه، ۸۱ مخ)

زړونه خوښ کړه دا نیکي ده در پښتپا

مه کړه چا باندي تیرنه په جفا

دخدای کورمه ورانوه په ستمو

دخدای کور وګڼه زړه چي وي صفا (هماغه اخځ)

همدغه ډول څېز کمې زیاتي په دوېزه کې هم راځي، پههمد ومره تو پیر چي د لته لومړي بیت بنسټ نه تا کل کيږي، په بله ویناء دغه کمې زیاتي د لومړي بیت له مخې په پام کې نه نیول کيږي، بلکې دلته دود داسې دی چي پرځینځه څپه پای کیدونکې بیت (ددوارو مسرو په پام کې نیو لو سره) ترهغه بیت پوره څپه

کمه را ځي چې پا ېمخه څپه يې څخه ځوي . په دې د ول په يو ه پرواز کې دوه څپې کېږي: که اته څپې او اووه څپې پښتو نه را تلاى شي او همدا رنګه نه څپې او لس څپې ، لس څپې او يو و لس څپې ، يو ولس څپې او دو لس څپې ، دیارلس څپې او څوارلس څپې او پنځلس څپې او شپاړس څپې ، لکه :

ساقي پاڅه پیاله راکړه

مرو ر یار مې پخلا کړه

چې يو دم سمه آزاد

نا ښاد زړه مې سینه ښاد ... (زر غون : پته خزانه ، ۳۸ - ۳۹ مخ)

سترګه د حسن له غمو نو او س بېري سوه

مقترن دوى اکه لمر و مشتر ی سوه

زړه ويل شکرده مقصود د زما حاصل سه

ماچې عیش نه لاره اوس مې عیش کامل سه

شکر شکرده حاصل سه زما کام

سوي حاصل را ته وصال د دل ارام

حسن هم په شکر چې کړ واز ما زبان

شکر يې و کړی په در ګاه چې د سبحان

پيادې زړه اته و ويل چې ښاد ماني کړه

دې هنګام د کامرانۍ ته کامراني کړه

...(سیلاب سروت: حسن و دل ۷۳ مخ) .

باغ سوچې و رور ته را له دنيا سونا

قند هار ونواره په ژړا سونا

زړه مې په ويرکې مبتلا سونا

چې شاه محمود له ماجلا شونا
اصفهان پاته تاج زنسکور عالمه
چې شاه محمود شونن بر گور عالمه
د پښتون لمرسو تیاره تور عالمه
راته دښمن په کا پغور عالمه
چې پاچاولاړ پښتون گدا شونا
قندهار واره په ژړا شونا
لښکرسو خپور پښتون ولاړدی اربان
په خاوروځای کا شاه محمود عالیشان
پاته سو تخت وتاج دټول اصفهان
زړه ی راشور سو کا خوښی د ښمنان
وایی پښتون اوس بی پاچا شونا
قندهارو اره په ژړا شونا
... (زینب هوتکۍ: پټه خزانه ۱۰۳ مخ).

دزینب هوتکۍ په شعر یزه (ترجیع بند) کې د دغه دوو بند ودوه وروستي راغبرګېد ونکی مسری تر مخینو شلورو مسرو یوه یوه څوه لنډی راغلی یا په بله وینا دوار و بند و مخینی څلورمسری ترنور تول شعرخخه یوه څوه زیاتیږدی. له دی څخه دا پاړه لاسته راځي چې تر وروستي څخ څخه و روسته تردرو لاخچنو څو بوری کموالي یا زیاتوالي مونډ لای شي او کوم و یار ته کتل کیږی.

د شعي په ترانه کې ددې وروسته بندري واړی مسری ترنورو تولو مسرو د وی دوی څپی کمی دی اوسند رغا ر ... یی دا هڼگه په لور ولوتشه د کوی:

په زمانه و طنه دلالونو خزانی زما
ستا هره دره کی دی د توری نخبانی زما

ستا سر چې وي ټيټ نو زه شان و شوکت څه کړمه
ته چې خوار وزار يې زه په مال و دولت څه کړمه
ته چې وران ويجاړ يې زه په خوب و راحت څه کړمه
يا به دې زه سيال کړمه وطنه د جهان
يا به ستا په پښو کې توري خاورې کړم خپل ځان
ځان به دړې وړې کړم خو تا به کړم ودان
زه چې پښتون يم تا ته يادې احسانې زما
په زما وطنه د لالونو خزانې زما

(غني: کليات ۳۲۸مخ).

د خوشال خان غوندې ستر وشاعرانو په دوبيزه کې له دغه رازاسانتياوو څخه هم ډډه کړې او په څرګنده بريښي چې په اګاهانه توګه يې څپيز کموالی روا ګڼلی نه دی، د ساري په ډول يې د سوات نامې په ۳۹۱ بيته دوبيزه کې هيڅ داسې بيت راوړی نه دی چې مسرۍ يې په برخچنه څپه پای ته رسېدلې وي نو په دې توګه يې له پيله تر پايه هماغه دولس څپيز ګاب کار ولی دی هرګوره په غزلو او نورو ولونو کې لکه څنګه يې چې پاس (۳-۲) يادونه وشوه، خوشال هم د نورو تولېزه لار نيولې او په ياد شويو ځايو کې يې د څپو کمی او زياتی رامنځ ته کړی دی.

۳-۶-۲-۲: د څپيزانو ول رنګيدنه:

ګله څنګه چې پاس يادونه وشوه، د پښتو شعر په سيلابوتونک سيستم کې څج او څپه ټاکنده نقش لوبوي او په دواړو څيزونو کې يا څج په لومړي پوړي کې راځي او په دوهم وارو (ګړنيو، ليکنيو او نويو ازادو) شعرونو کې پوړې لکه څاتوړ د ټول تال ويا په ټول دوزن تول ودانۍ ولاړه ده، له همدې لامله د څپيزانو ول

ړنګېدنه یا په بله وینا یې ځایه کېدنه او غورځېدنه د هر ډول شعر د بې تولۍ لامل کېږي او له شعري چوکاټه وځي څنګه چې همدلته موخېړې پر لیکنیو شعرونو دی نو له د دیوانونو څېړنه یې را ایستلو:

شپه د بېلتانه ده پهر پهر ګال پر ما شو
بانګه دې د چرګانو په هزار هڅله صبا شو
راپښې ګلزار ته وار په وار ننداره ګاندي
وار په وار پړې تېر شي اوس که ګورې وار زما شو
پېغام راوړي د وصل عجب ښه راځي په مهر
هدهد د یار له لوریه ځن پر ما باد صبا شو
پر وخت د مشغولا له ګلو کله آواز ګاندي
چې د روسي له ګلزاره په چغار چغار توتا شو
په درست عمر یې مهر د سکوت پر خوله وهلی
زما د زړه توتي دی چې ځن ګورمه ګویا شو
زنګ چې باندې پرېوځي اینه د زړه تبې شي
زړه د خوشال ګوره اله هرر زنګه مصفا شو
(خوشال : کلیات ، توک ۱۸۶ مخ).

خوشال‌خان په دغه غزل کې د خج د دریځ په بدلون سره دوه ډوله وزن را منځته کړی دی : او لومړي دواړه پېتونه او ورستی هغه یې پر لومړي څجنه څپه او دریم، څلورم او پنځم یې پرله پسې پر دویمه څجنه څپه پیل کړي دي او له دې کار سره یې څپېز انډول هم ړنګ شوی دی، هغه دا چې پر لومړي څجنه څپه پیلېدونکي پېتونه څوارلس څپېز راغلي او پر دویمه څپه پیلېدونکي هغه پنځلس څپېز، په لاندې ډول :

همدارنګه د خوشال ۳۰۲ او ۶۳۳ غزلې همدغه نیمګړتیا لري.

(حروفو) څخه جوړه وي او مانيز پېوالي نه لري، مګر رديف تر قافيې وروسته په همغه يوه جوليزه (لفظي) او مانيزه بڼه بيا بيا راغبرګيږي. که په يوه شعر کې قافيې همجوليزې او بدل مانيزې (مختلف المعنی) وي، هم کيدای شي د بيلا بيلو قافيو په توګه وکارول شي لکه سره (طلا) او سره (جمع سرخ). په بله وينا د يوه شعر قافيې کيد ای شي پر هما هنګوالي سربېره همجو ليزې (متشابه) هم وي په دې آر چې مانيز پېوالي ونه لري او ردیف آرهمد ا دی چې له پيله تر پايه په هما هنګۍ، همجوليز او هم مانيز اوسي.

۴ - ٦ - ٣ - ١ - ١ : د قافيې ارکان (ستنې) او ازونه (توري) په دې لاندې ډول دي:

د عربي استادانو د قافيې توري (اوازونه) اووه نه بلکې نهه بللي دي چې هر يو ځانته نوم لري. په دې توګو کې د منځ توري ډير ضروري دي چې بې له دغه قافيه نه جوړيږي او له نورو اتو تورو څخه څلور د مخه او څلور ورځنې وروسته راځي خود د غو تولو راورنه (همېشه يا همزمان) اړينه نه ده. مطلب دا چې کله وي او کله نه وي. د دغو تورو نوموونه دا دي: ردف، قيد، دخيل، تاسيس روی، وصل، مزيد، خروج، نایر. په دې تولو کې (روی) اساسي توری او د قافيې د ملاتير دی او نور يې مرستيان او ملګري دي (سمندر، د قافيې کتاب، د پېښور چاپ ۸ مخ د رښتين اخيستنه، وږمه د ۱۳۴۲ کال ۱ - ۲ ګڼه، ۸-۹ مخونه).

روی: د قافيې زړی (هسته) جوړوی دا سې چې نور اړوند ارکان تري مخکې او وروسته راځي. دا د قافيې د يو راز اوازونو (حروفو) په ډله کې همدغه اوازدی چې د مخه تر دی يو همرنګ بيواك (کنسونټ) يانا همرنګ بيواك ده يو راز حرکت (زور زېر، پېښ) سره او يا يو همرنګه

خلپواك (و-ا-ی) راغلی‌وی‌او وروسی نورتول اوازونه (حروف هم نکوی لکه -ن- پښان، اسمان، جها ن ... یا-ب په مکتبونه منصوبونه، غضبونه. . یا- گ - پچنگ، بنگ، تنگ ... کی. یا - ر- په شکره، خپره، مرغلره، خوند وره... په‌اوار، چغهار، سها راویاپه ویر، تدبیر، ودیر... او په‌لور، خپور، شلور، کوراکور... کی.

«روی» دروسرو ییولګغږ(کنسوننت) نه‌وی، بلکی خپلواك غږ (واول)هم وی لکه (و) په ککو، دردو، پښتو... په کراو، براو، لګاو.. یا په نریو، پسرلیو، کبرديو... کی.

تر روی وروسته اوازونه (که وی)وصل، خروج، مزید، نائر او ترمخه اوازونه‌یی قید، ردیف(اوتردامنخ حرکت‌حذو) دخیل (تردامنخ حرکت اشباع)، تاسیس (الف) اورس (فتحه) بولی.

که‌روی حرکت (زور، زیر، پیښ) ولری یادژ پوهنی پەنوسو نه‌یی وازه څپه جوړه کړی وی، «مجرا» بلل کیږی اوکه ساکنه وی، ترمخه حرکت‌یی باید ترپایه یوراز وی «چی دغه یورازوالی ته توجیهه »وایی، قافیی‌ویاروزنه (عیبونه پەلاندی ډول دی:

۱-اکفاء: که «روی» گانی‌سره توپیرولری «اکفاء» بلل کیږی اودا هغه مهال نابښل کیدونکی ویار دی چی ځای‌یی‌یونا هموتوځی (هم‌مخرج) اواز (توری) تەورکړشوی وی نو دوسره ویارنه‌گڼل کیږی . پەدی‌ډول«م-ن» ر-ړ» یا«ن-ڼ» یا دس او«ص»په‌یوه «روی » کی راوړل روا دی لکه: په «کونه» «پښتونه»او- غرونه» کی. (وگوری پەم-٦-۳-۲-۳ کی درشاد د لرو توځی یا په بله ویناهمو توځی (روی) بیلگه لکه د محمد نور په دی لاندی بیت کی چی (ب) او(ت) سره‌روی شوی دی:

(مستە نجلی گرځی شتاب کی- نیغه گرځی مدکی په مات کی)دلته پرروی‌سربیره ردیف هم پدلون موندلی دی.

دلته پښتونه باید د بلنې پر (ندائیه حالت) له کېله (پښتانه) وای او ګونه (ګانه)، روند (رانده).

یا لکه د خوشال بابا د بازنامې په دې بیت کې:

لوی هنر دی د بازانو په ساتل کې
مګر دا هنر پیدا شي په کابل کې

او یا هم هغه کارندوي د پوللي ځینې بیتونه، لکه:

مځکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې شوې
طیلسان زمردي واغوستې غرونه
سپینې واورې ویلې ده کاندې بهېږي
لکه اوښې د مین پر ګریوانونه
هر پلو رنې ویالې بهاندې خاندې
له خوښې سروهې له سینګرونه... (پټه خزانه: ۲۲مخ).

د رحمان بابا (دیوان ۹۳مخ) په یوه غزل کې هم «اغیار» په اوښتي «اغیارو» بڼه دی راوړل شوی:

چې مې یار ولید پر سیمه د اغیار ګله
له غیرته مې لېمه شول پر خونبار ګله

او یا یې په یوه بل غزل (۱۵مخ) کې:

هومره جور لکه یار له ما سره کا
یا دې نه دی هومره جور د اغیار

او یا هم په ورپسې مخ کې:

څو چې ناقبوله نه کړي د اغیار
و به نه وینې په سترګو مخ د یار

البته دلته له کړنې ژبې سره سم «اغیار» یوګړی (مفرد) کارول شوی دی.

(٢) لەقافیی وېښتە کمول، لکە:

کەمېن زەپر گلزار یمەپرځای یم
کەدمخ بې پەنندار یمەپرځای یم

... (خوشال: کلیات د کامل پەزیار، ٢٠٢ مخ).

(٣) پرقافیی وېښتەو رزیاتول، لکە:

ای حضرته ولارم زەدعشق پەاور(٥)
ورغلم حوض کوثر پاندې فی الفور(٥)

... (جلال الدین: قافیه ١٨ مخ).

(٤) دهمقافیه کولو پەهڅه پرکړنې بندد کرەلیکنې بڼی اړول لکە: فساتی (فسادې) لە (بیاتی) سره اند ولول پەدې لاندې بیالکه کې:

بیاپي خولەپەداحیلە سره بیاتی کړه
دوصال رشتەپي غوځه فساتی کړه

(دهماغه اخځ ٣٢مخ).

دخوست یوو ښی شاعرلەخپل کړدود سره مم (بریدو نسه) (بریدینه) کړی اوله(اخر ینه) (سپینه) سرەپی همقافیه کړی دی چی دکرەلیکنی کړدود (معیاري پښتو) پەوړاندې هم سنادوپارکتل کیږی (دردیف پەبدلون سره) اوهم عدول:

توبەمی دی وی خدایەزمانەشوه اخرینه
تکی برکی شوەدیرەخولك خپرەنەکړی سپینه
کەزەختاخبرییوم وروئو فکرو کړی دیته
پردز پەهورڅ یوم واخلی بیاپردی وهی بریدینه

(دهماغه اخځ ١٩).

هرکوره پښتو کړشوی (مغغن) پوروبی دیروشاعرانو همدامی

کاروالی دی، لکه دحمید په دغه وروسته بیت کی چی (لیلی) یی له (خولی) سره هم‌قافیه کړی‌ده:

یا زاره د نیم بسمل مرغه‌له خولی‌ده
یا مجنون ته معما شکلی لیلی‌ده

(ه) مبتدا او خبر (ایښی اوا یښونی) ته‌سمون هم په‌عدول کی راځی، لکه په‌لاندینی شعر کی:

پښتونه متاد توری و ارد ی
مړی دي‌کور کی انتظار دی

٤ - ٢ - ٣ - ٢ - ٤ : اقوا، تر «روی» دمخه حرکتونو (حذو) بدلون ته‌وایی، لکه.

زه پروت یی علاجه د دروسی و کره هور
لمبی‌دی پرما بلی کړی چی تاکر که‌مس‌تور

دلته (ر) روی ، (و) ردف پلل کیږی او دواړه (و اوه) یوراز نه دی. (جلال الدین ١٧ مخ).

دکامګار ختک (د یوان : ٧٤ مخ) په یوه غزل کی ساکنه روی (ـ ن) راغلی او په دی توګه مخکنی‌حرکت (زورکی) یی‌لیو دیر له زور او پیش سره بدل شوی او اقواء و باریی را منځته کړی دی :

هر زمان په هر ساعت خیال دمین
په سینه کی می هر څیړی لکه ستن ...
له لیستی‌سروی موندلی‌سر لویی‌ده
خودی پریباسی لښترله یخ ون ...
ددنیا له غمه څکه خلاص کامګار شه
چی دزلفو خیل یی پرپوت پر کردن

دحمزه شینواری د (راځه چې یوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل
کې) او دغنی د (زمامحل) په شعر کې پورتني اقواعیب هم لیدل
کیږي. همدا رنګه دغني په دې شعر کې:

چې تېر یوې بې‌وفا عمر زما
دژوندون له ښاخه ځي ثمر زما

۴ - ۶ - ۳ - ۲ - ۵ : سناد یادردف بدلون چې تل یوځولواك
(واول) وي لکه په ګور (قبر) او ګور (ګې) او یا له (ګلګون)
(میګون او شبخون) سره د (رنګین) همدا نیه کول، لکه دسیدرسول
رسا په دغه شعر کې:

سهره ګلګون د برسات
ماښام میګو ن د برسات
د شپې شبخون د برسات
موسم (رنګ ن) د برسات

یا دصنم ګل (د ولمير په آواز کی) دابیت:

نوی مین یمه زه   نوی غمګین یمه زه.

۴ - ۶ - ۳ - ۲ - ۶ : تعدی (تېری) د نفاذ بدلون ته وایي.
نفاذ ترروی وروسته هرحرکت (زور، زیر، پېښ) ته ویل کیږي،
لکه په لاندې بیت کې د (ر) د حرکت بدلون:

چې راو اروی تمسترګی شر مګینې
زړه‌می روغ کالدې داتوری سرمګینې
(جلال الدین : ۲۰ مخ.)

۴-۶-۳-۲-۷ : غلو، دروی د حرکت بدلون ته وایي. هغه دا
چې یوځای ساکنه وی اوبل ځای متحرکه او یایې حرکت سره تو
پیرولري، نود غلوپار (عیب) منځته راوړي، لکه د پورتني بیت

په (څرمګیڼي) کې (ړ) زور کې لري او په (سرمګڼي) کې غړ و ندی (سکون).

۳-۶-۳-۲-۸ : د نشار (خنج) بدلون چې د قافیې په هماهنګه برخه کې خنج ځای په ځای شي، لکه د (تور «سیاه»، سپوره، کمزوره ...) په ځای کې توره (جګړه، دله) راشي. خنجیز اندول البته بی له هغې د پښتو شعر له بنسټیز (سلابوتونیك) آرخه ګڼل کېږي او یوازې په قافیې کلمه نه چې د مسرې په هره برخه کې که دغه اندول ویجاړ تیاو سومي، وزن ته توته رسوي، لکه په لاندینیو قافیه کلمو کې:

چې سدام په ځکدن یم له اشو په
له داسې زندګه تو په توبه

(هماغه اخځ ۲۳ مخ).

۳-۶-۳-۲-۹ : د ردیف بدلون که جولیږوی یا مانیزیو سترو یار ګڼل کېږي ځکه ردیف باید د یوه نظم له سره تر پایه هم جولیږا او هم انیزوی ردیف البته په عربو نه بلکې په عجمو پورې اړه لري.

د حمزه شینواري په لاندینی غزل کې «ګډ» له آره د «مخلوط» په مانا ردیف شوی او بیا وروسته د «رقاص» په مانا هم راغلی دی:

چې مکېز دې کړ و دلبرو سره ګډ
نظر څه و، شو ګوډو ور سره ګډ
زه له عقله خبر نه وم چې سر که وه
ما په کړو د عشق شکرو ر سره ګډ...
د هیکاد چا په مستو ستر ګو څښلی
واعظ څه و، شو ممبر ور سره ګډ

(غزونې، ۱۴۱ مخ).

د ملنګ جان په دې لاندې شعر کې ردیف (دی) یو ځل مفرد او بیا (دي) جمع راغلی دی:

پښتو استاد قوي وار دی
مري دی ګور کې انتظار دی

یا ددولت لواني په لاندې شعر کې:

په صفت د پاک سبحان دی
چې حضور په هر مکان دی
لمونځ، زکات، کلمه حج شو
بل روزه د رمضان دی (د.)

(جلال الدین ۲۱ مخ)

۴-۶-۳-۲-۱۰: دردیف د پراو پر دوالي شعر بو شه الحوند وروی. په کلاسیك شعر کې یې دومره بېلګې نه لیدل کیږي مګر په نني غزل کې یې ځنې دود کړیدلی دی. د خوشال د غزل بېلګه، لکه:

له حاله یې خبر شه که هسته هسته که نشته نشته (خوشال: کلیات ۲۹۴ مخ)، خادم پادشا یم، که وم وم، که له وم نه وم (دخادم: د سرغلرو اسیل ۶۸ مخ)،

پورته لوېته کړه چې دې توله و ګورم
سترګې دې څکاره کړه چې دې توله و ګورم
... (ننګيال: هغه شپې هغه کلونه ۲۱ مخ)،

لاس دې ښو کلاڼ اربوده چې خرو به شي
تري داوبو کلان اربوده چې خرو به شي (ګران: ۱۳ مخ)،

ګوره اننګوته دې (س) او څکې سېجرګه ذرځې
تمه دخولګوته دې او څکې سېجرګه درځې
(فردا: د ګلپانو پرخې ۹۳ مخ).

که قافیه ردیف ولری، مردفه قافیه یې بولی.

آره (اصله) قافیه هغې ته وایې چې قافیه کلمې یې یو وېی وی، لکه:

خوبې پاتې مشالهر که نه ګرم نامره
چې پهځوره دولس ګې خواری لوره
(زیار: سوزونه او سازونه ۵۳مخ).

که له دوو یو ځه څه چوره وی، نوبې ناآره یا (معمولی) بولی، لکه:

کهدی خاوره که هواده
تا ته راغلمه هیواده (هماغه اثر ۳۶مخ).

په پښتو کې دغه راز وېی (کلمې) سره هم قافیه کول کوم ویار نه ګڼل کیږی.

بله ورته بېلګه، لکه:

کهساقی دپیالی مست وکاندې ماته
هغهدم به صد ساله توبه کړم ماته.

۵- څپرکی

اوسنی ازاد پښتو شعر

دخپل ازاد فولکوریک او کلاسیک

شعر بشپړتیا یی بڼه

۵-۱- یادونه: دلته له «ازاد» سره د «اوسنی» ستاینوم (صفت) رباری ګول پەدی معنه دی چی له « کړنی (شفاهی) »یا« و کړنی (ولسی)«ازاد شعر» سره د اوسنی یا نوی «ازاد شعر» ګډون رانه شی.

په پښتو کړنی یا وګړنی شعر کی ازاد ډول تر قافیه وال هغه ډیر پخوانی بڼی او آره یی لرغونو ریابی (و یدی ـ اوستایی) شعرونو ته رسی، لکه لنډی، ټکی، زیاتر سروکی، بولالی، شین خالی، د هوتکو ناری...) بدلی، لوبی، بګتی، اتڼی (کاکړی ی ساندی یا ستاینی)، ساندی او یو ګڼ شمیر متلونه چی زیاتره مقفی نه، بلکی (متوازن) مسجع دی، یا په بله وینا څپیز سڅپیز (سیلابوتونیک) تول (وزن) لری. دانور قافیه وال ډولونه لکه غزل، داستان، ځلور ګړیزه (چاربیته)، کاکړی دوبیتی ... یی وروستنی او پرمختیا یی بڼی دی د پښتو لیکنی شعر لومړی پیلامی هم زیاتره و لسی رنګ لری او دلوبو

پکښې، بدلو او ځینو نورو ګیو غونډی په نوم ازادو کالبو کې راغرګند شوی. ورته اروپایی هغه د «سپین شعرو» په نامه متې په ۱۶ مه پیړۍ کې را انځلول کیږی. په پښتو کې د هغو لسی دوله نیم ازاد شعرونه له امیر کروړه (اتمه زیږدی پیړۍ) نیولی تر ننه پورې له قافیه وارو «دیوانی» شعرونو سره اوږه پر اوږه رارو اندی.

له «دیوانی» شعرونو څخه موخه هغه شعرونه دی چې د عربي او پارسي شعر په پیښو په بیلا بیلو کالبو (غزلو، بوللو، دوبیتو، دریزو، څلوریزو...) کې کښل شوی او کښل کیږی، هغه هم له یوې نیمې «مصنوعي» بیلګې پر تعروضی نه، بلکه په سیلابونو نیک تول کې. داهم اړینه زمده چې هغه دی «دیوانی» کچې او بنې ته ورسیږی. «دیوان جوړونه» د پښتو ادب تاریخ له «منځنی» پېر سره ژانځلې چې لومړی ویا ریې داوزانی په برخه دی. په «زاړ پېر» کې چې سند لاسه له دویمې لیږدی (هجري) پیړۍ څخه تر زرمی تا کلی شوی دی، له «دیوانی» دوله شعرونو څخه د شیخ اسعد سوری (۴۲۵ مړ) بوللـه (قصیده)، د محمد هاشم سروانی (۲۲۳ - ۲۹۷ هق) له عربي راړولي پارکې (قطعه)، د اکبر زمینداوری (۷۷۱-۸۰۷ هق) غزل او باد شیخ رضی لودي (۴۰۵ شاو خوا) او د امیر نصر لودي (۳۹۵ شاوخوا مړ) پارکی او دامی نورد یادونی وړدی. په اوسنی بڼه ازاد پښتو شعر چې ای کله څه هم په ښکاره ډول داروپایی ازاد شعر تر اغیزو او پښتو لاتدی له سپینو راهیسی دود سونډ لی دی، بیا هم لکه پاس چې وویل شول، له خپل دودیز ازاد کړنی شعر سره پیوند لری او د سیلابونو تونیک وزن پربنست ولاړ دی. که یو نیم شاعر د هماغه وچ اروپایی تقلید په لوری کې ښکیل پاتې دی او خپل دودیز تول و تال یې پکې سمبال کړی نه دی هروسړ ویې څېره «سپین» شعر ته ورته لې ده. تول (وزن) یا په بله

و ینا «اهنګ» یا په ارو پاېي نوموونه «ریتم» د شعر بنسټیز شرط دی، که په قافیه وال شعر کې وي، او که بې قافیه (ازاد) کې . له همدې کبله بې اهنګه (بې وزنه) شعر، شعر نه دی او د «سپین» شعر نوموونه ورسره جوړ نه وي (سپین په نوي پښتو نوموونه، ته په زړه ارو پاېي نوموونه). نیم ازاد کالبونه هم چې مخفي، فدا، سمندر، صالح محمد کندهاري، عبدالحی حبیبي، عبدالاکبر اکبر، عبدالاکبر خادم، قیام الدین خادم، فضل احمد غر، کمالي، میا احمدشاه، اسیر، خیال، اجمل، بېنوا، لایق، عبدالرحیم مروت . . . بې له غورو او مخکښو استازو څخه کښل کړېدي، بې له شکه له ولسي یا وګړنیو (فولکلوریکو) هڅو څخه تومنه اخلي او همدا رنګه موندې یاسر بر یکړې (د قافیې له پلوه) شعر و نه چې عبدالرحمن پژواك بې بر ۱۳۱۷ کال په (کلیمه دا ره روپۍ) بنسټ ایښی دی او وروسته بر ۱۳۳۱ کال د عبد العظیم ساپي ورته نظمونه (رفیع: زرینې خانګې) او بیا په دې راورو ستو کلونو کې د سید بهاوالدین مجروح (خانخاني چاماما ر) غولي چېرې د ولسي هڅو ته وررسوي.

خو که د هغه وروستي نیم ازاد «موندې» شعر په پام کې ونه نیول شي، نو هممهال ورسره د بشپړ ازاد (هم له قافیې او هم د مسرو د پیز انډول له پلوه) پیلامه په لر. پښتو نخو اکې لکوو او داهم کومه هیښنده خبره نه ده چې هلته له بر مختللو اروپاېي (انګریزي) ښکیلاك کې اړیکو سره لوپښتانه تر بر و د مخه له نوي تولنیزو او فرهنګي بدلونونو سره مخامخ شوي او له دې سره پښتو ادب هم هلته د مخه نوي بشپړ تیاپي پراوته ورګډ شوي . او داهم جوته ده چې د دې یا لکتیك له مخې هر اندیز (فکري) نوي والي له ځان سره جوليز (شکلي) نوي والي راوړي، یا په بله وینا هره نوې مفکوره او منځپانګه (محتوا) د بوره ورنده (متناسب) کالب او جولي غوښتنه کوي.

د فورم او محتوا د دیالکتیک له لارې کېدای شي، شعري نوښت او نوښتګري په ازاده (ژبني، هنري او تخنیکي) جوله کې ښه ترا رامنځته شي. قافیه د شعر د تخنیکي جولۍ په توګه نه یوازې د دغو نورو دوو (ژبني او هنري) جولو پر مانیزه خوا زیات بندیز لګوي، بلکې پر همدغو دوو جولیزو اړخونو هم خپله واکمنه چلوي او زنداني کوي یې. یا په ساده وینا په قافیه وال شعر کې نه ژبني او هنري (ژب - ښکلا ییز) اړخ سمبالېدای شي او نه منځپانګیز (محتوایي) هغه. شاعر د قافیې او دوو رسره اړوندو توکو (ردیف او سره ییزانه ول) له سمبالونې سره په لوی لاس پر ځان دا بندیز لګوي چې د شعر له څلور ګونو رغنده توکونو (متشکله اجزاوو) (ژبې - اهنګ - خیال - اند) څخه له اهنګ پرته د نورو دریو سره توکونه پوره په پام کې و نه شي نیولای او دویم، درېیم او څلورم ارزښت ورکړي، له ټولو نوښتګرانه هاندو هڅو سره سره تر یوه بره دا یا هغه توك کمزوری پاتې کېږي. که له اهنګ سره «خیال» سم سمبال کړای شي، نو ژبه او اند تري کمزورتیا مومي، او که له اهنګ سره «ژبه» په پام کې و نیسي، نو بیا تري خیال او اند ژوبلېږي او همداسې تر پایه. لنډه دا چې په قافیه وال شعر کې د نوښت مراعات د ازاد شعر په پرتله ډېر زیات کړاو غواړي، مګر په ازاد شعر کې څلور واړه توکه (ژبه - اهنګ - خیال - اند) همزمان او هم انډول په پام کې نیول کېدای شي او په دې توګه یې د هر اړخیز نوښت لپاره لیاره اواره ده.

په دې کې خو هم شك نشته چې قافیه واله مخینه له ازادې شاعرۍ سره ډېره مرسته کوي، خو په دې شرط چې دغه مخینه ریښتیا شاعرانه مخینه وي، نه ناظمانه. سربېره پر دې هم ډېری ځوان شاعران و ټو

چې ښکلې له ښکلې يې په ازاد شعر پيل کړی او په ښو بېلګو يې جوته کړې ده چې د «شعريت» پر لاره روان دی، که څه هم ښايي د وزن له پلوه يو څه نيمګړتياوې ولري مګر په ډېره لېواله لارښوونه، پر دغې تخنيکي اړخ لا څېړې شوې. که د «پښتو» د تو رلګونې خبره شي چې د ګرځېږ نتيا (ابتذال) ښکته دی، بيا هم ښايي په ازاد شعر کې هم خو سره يو ډېر ښه او پايښت ونه لري، لکه په قافيه وال شعر کې. قافيه وال شعر له آره (اصلاً) لکه پاس چې وويل شول، د عربي او پارسي په پېښوله «د يو انسازی» سره دود شوی لی دی، حال دا چې اوسنی پښتو ازاد شعر له سيلابو تونيک تول (اهنګ) سره سم د پخواني او وګړني پښتو ازاد شعر د بيا راژوندي کېدنې «رنسانس» ښکارندويي کوي، يا په بله وينا يوه ښوړتيا يې ښه ده. که حمزه او اجمل داد وسره شاعري په ازاد فورم کې کړې وای، بې له شکه به اوس پښتو د حمزه او اجمل پر ځای «نادر نادر پور» او «احمد شاملو» درلود ای، که څه هم د پر پښت او نرو دا هو سره انقلابي نه وای په دې توګه د پښتو په اوسني ازاد شعر کې له څلور ګونو توکونو څخه لږ تر لږه ژبه او اهنګ (وزن) د «پښتو» له توره پخشو (ازاد) دی، پاتې شول «خيال» او «انډ» چې ګډ اې شي، بو څه په دغه تور تورن شي، مګر دومره هم نه چې رښتيا د «پښتو» په ګڼه او جاج (مفهوم) وي، ځکه زيات «الهامي» رنګ لري. د ساري په توګه د «خيال» په اړوند تيا يو لړ نوي يا په نوي رنګ کې رنګېدلي سمبولونه لکه: لمر، سپېدې، سبا او سبا وون، شپه، تياره، باروت پولاد، سرپ مرجان، ياقوت، اهريمن، اهورا او داسې نور ورته انځورونه او استورې نژدې د ټولو نړۍ په شعر کې دود شوي دي نو ايا پښتون شاعر او هغه هم د ژمن او ازاد شعر استازي تر يوه ګو لاې شي؟

همدارنګه د «اند یا اندیښنې» یا منځپانګې (محتوا) له پلوه ملي، ټولنیزې انساني، او ټولیزې جهاني مسالې، لکه سوله، جنګ، پرمختګ او شاتګ، ګډ سوله ییز ژوند او دا سې نور د رو اخله. برتولت بر یښت (۱۸۹۸-۱۹۵۶) چې د الماني ازاد او نوي شعر له سترو نومیالیو څخه ګڼل کیږي، د ازاد شعر په اړوند یا وايي: «هیڅ منځپانګیز نوښت بې جوړیز نوښته ګټور نه دی» او څو او یا ګڼل نومیالي انتي فاشیست لیکوال هاینریش بل چې د نوبل جایزې وړ ګڼل شوی دی، څه مهال د مخه د یوې پوښتنې په ځواب کې څرګنده کړې وه: «زما په اند او د خپل ازمېښت له مخې چې د یوه لیکوال په توګه یې لرم، همغسې چې هرې د خلکو لپاره یو پېغام لري، باید ورنده (متناسب ګالب یې هم ورانده کړي، مانا دا چې په شعر، په راډیویي ننداریک، په رومان، په لنډ داستان، په مقاله لیکنه او ډرام لیکنه کې باید ځانګړی پر خپل لېدونکي یا او رېدونکي او یا لوستونکي ورو نه تېر، بلکې ګالب هم د پېغام اړونده وبولي. له ۱۹۴۵ کال را وروسته بېستیزه مسا له الماني ژبه وه چې له اخلاقي پلوه کوږته ګرځېدلې نه شوې وه او د یوې (عوام فریبانه) او د دروغو او ریا په یوه ګرځېدن ګالب کې ورانده کېده... دا سې ډېر څیزونه شته چې ومې نه شو لیکلای، ځکه کوم ګالب مې چې ورسره یې، پیدا کړی نه دی... کله چې ما د یوې موخې (مطلب) لپاره چې څرګند ول یې غواړم، ګالب نه دی موندلی، هرو مرو مې منځپانګه هم نه ده موندلی (هاینریش بل: ۱۰۵-۵۰۲مخ). د دغه الماني لیکوال خبره «الماني ژبه له اخلاقي پلوه کوږته ګرځېدنه شوې وه» د پښتو کلاسیک ادب او پیاوړي دیواني» شعر پر ژبه په یوه بل ډول د ګاروني (تطبیق) ورده او هغه دا چې د دغه ډېر پښتو تر ډېری

کچې د بې ځرته هر بزم او پارسوزم له پلوه پېښې لسه ځانه پسردې شوي دي. په زړه‌وري ډېلکه‌یې د کاظم شیدا د دیوان سریزه ده چې کاسر بل او اوستربل (د، با ندې، په، کې ...). او سر سېتا لکه (دې، شول، کول او کېدل ...) ترې لرې شي، د هغه سبال پونکه پارسي متن ترې جوړېږي، او داد امر څرګندې روښانه ده چې په پښتو ژبه نېسه وال شعر او بیا د غزل پسه لمنه تنګه ګالب ګې هغه دول ګډ و له پښتو لا ډر اوسه لږ و ډېر دود لري: لبان، چشمان، دهان، ګلرخان ګلرویان، هجران، جانان... څوندي زاړه‌ویونه خولاځه کړي چې د قافيې اور دیف تر «جبر» لاندې «روا» ګڼل کېږي، نور نوي هغه هم پری وزیات شوي او لاوزیاتېږي، لکه د باري جهاني په یوه غزل کې چې اسحاق ننګیال (اخبار هفته، دو لسمه ګڼه) یې دوه بیتونه «شعر رو» پالکو په توګه راخستي دي:

داد مستو پسرلي دص د رد او رسوز ګوي ده
هره پانه غماري ده هر ګلاب سوهرانې شو
په موج خیزه توپان راغی د فلك سېلابي ګرځي
زموږ کشتۍ یې ډوبوله څول دریابه یې توپائي شو

د «سبوه ګوبي» او «پایکوبي» څوندي ویونه د باري په غز او ګې کوم ګمي نه لري او همدارنګه یې «موج خیزه» د رواخله؛ ګډه‌هم شاعرانه دي، څو بربلي ژبې اړه لري، نه پر پښتو. وګورئ په دویم بیت کې د قافيې او مسره‌یېز اندول له کبله پر ډوروونو نوسر ډوره څومره اړونېچ (ضدونقیض) لري:

(فلك که زموږ کشتۍ ډوبوله) مزایي دا شوه چې (دریاب بې

توپانی شو !)، توپانی کیدل څو (زموز کښتی د دو هوا و لپاره) ور نه (مناسب) دی، ځکه نوره یی هم پسی دو بوی. له بله پلوه د باری د اغزل او نورو رته «خمریه» او له دی سره څه ناڅه سمبو لیك غزل چی د بل اندی (د یګر اندیشی) او نهیلیزم یا اګزیستنسیالیزم بوی تری راځی، په یوډول نه، په یوډول د نورو ډیروخمر یه غزلو کابی هم ګټل کیږی (د بوره څرګند تیالپاره : زیار، اخبار هفته، څو ارلسمه ګڼه).

داسی بریښی چی ننګیال د موسیقی له لاری د د غه غزل تراغیزلاندی راغلی وی چی «ناشناس» یی د موسیقی الاتو په ملګر تیا په خپل زړه راکښونکی او مست اواز کی و راندی کوی. له دی پلوه خوډ یر ساده ولسی او ولسی ډوله نظمو نه هم راکښون پیدا کوی. نو باید شعر خپل بدیعی او هنری راکښون و لری، موسیقی څو یو بل جلا هنرد ی هم داسی په خوا په اواز کی د شعری دیکلیمه درو خله چی له بده مرغه تری پښتو شعر تراوسه بی برخی دی. داداسی مانا لری چی څوك بر بوی پیغلی بامیر منی دواده په شپه مین شی او وروسته جو ته شی چی مخ یی د کتو نه دی. رحمان بابا څه ښه ویلی وی:

هغه نا [ ] په ځان ښا یسته نه وی
څوك یی څه کوی ښایست د مور و نیا

قافیه اوردیف هم ښایی وزن او آهنګ همدو مره خوندور کړی لکه غازه او سپیده چی یوه ناوی ښایسته کوی چه له لاری کید و سره یی رښتینی څیره راډیره کیږی او بیا هله پری د «ښایسته او بدرنګی» ورمند (حکم) کیږی، زموږ ډیر منلی ولسی شعرونه لکه لنډی، ناری او سروکی یی له قافیی او ردیف او یا موسیقی تنل و تال او سو رولی سره ښه تراارخ لګوی. اروپا یی ازاد تصنیفو څو لا پر ځای پریږ ده چی همد لته زموږ په هیواد کی څو مره

پارسي ازاد تصنيفونه دخوږ غاړو سند رغاړوله خوا وړ اندي کيږي. د اچې لاتراوسه پښتو ازاد شعرونه چا کمپوز کړي نه دي پاسم ديکليمه کړي شوي اوله دي سره سره ځانګو الا وپاخه سندر غاړي هم نه لرو، بيله خبره ده، که څيني ځانساتي اوزوړ خوښي داوو ايي چې پښتانه شاعران دي هم تر هغې ازاد شعر نه وايي ترڅو به پښتنو کې کمپوزيتوران، ديکليماتوران او پاخه سندر غاړي پيدا شوي نه وي، خبرګون به يې داوي چې سمدلاسه خودي بوه ژبنې هنر ته لاراواره ده، له دې خو بايد ګټه واخيستل شي تر هغې خود غه هنر پښه پرځای پاتې کيداي نه شي او بيالاداچې ددغه دويم هنر (موسيقي) لپاره لياره اواره کړي، د چا خبره ارتياد زيږ ندوبې (ايجاد) مورده.

دنوي اوزاره يا قافيه وال اوازادشعر ترمنځ دیالکتيکي اړيکې ښايې دومره «مطلقيت» ونه لري او په کارده ددواړو ډولو پلو يان يو دبل په مطلق اوپو مخيزر دتيږنګا رونه کړي اود واړو ډولونو شت په پام کي ونيسي. سمه ده چې ننني پښتو غزل يو شمير نوښتونه لري او ازاد داهم يو شمير کرغيړ نتياوي اوپودليل يې هم دادي چې يو پريل اغيز ښندي. نوي لادزاړه پرزو لنوکي ر اښکيل دي اوزوړ دنوي، هغه هم دنوي ازاد پرسيالي هم هغو سره زوړ نه دي دقافيه وال شعر اوبيا غزل غوري پيلګې چې په پرتليزه ول يې ځلور ګوني شعري توکونه همزمان سمبال کړي وي، داسحاق ننګيال د بيلګې پرځاي ښايي دغه لاندي بيلګه رښتيا نوښت ولري، لکه:

۱
تند يه ما توم دي تيتو مه خودي نه
پهد ردنګد لانوسولومه خودي نه

چې سود یې د زړه نه شي نو چوپ دا سپه کوینه

وږمونه یې له یاره تېروسه خوږ دی له

په سرو وینو لړکای نه شم د چېر قصیدې

قلمه پرېکوم دي، خرڅوسه خوږ دی نه

پرزودي که پرسانه وو، جو ول دي راته څله

یادا راه! را کوي یه، پرېږدمه خوږ دی نه

زه لیکي د قسمت قنا کوم د څپلو لاسو

کله چېره ختموم دي ید لوسه خوږ دی نه (قنا، یوځوان پښکینی شاعر) *

څه موده پخوا د «ازاد شعر» ګټي د کر غور لتپا لپاره ځایي د ننګیال (اشپارهفته، دولسمه ګڼه) له خواد آمال سېتان راوړی یلګه مه وي او د دغه پاس غزل هوسره لوښت و نه لري، د چا خبره «ازاده» وي مګر «لوی» نه، کنه «ازادشعره باید «نوی» هم وي. ما ته یې داچې له مضمون او موضوع سره سم ازاده جوله خوږ په هر دول نوی جو له ده او نوی جوله یا یه نوي مضمونونو کګه او له دې سره نوی هنري جوله ولري. د دغه هم د قافیه وال فورم غوندی مضمون او تجربه نه یلاده ایستل په کار نه دی. د کمال سېتان غوندې ځوانو شاعرانو چې پرازاد شعر یې زیاتې کړې دي، ترهغو لو قافیه وال اشعارو یې هم زیا تداو زدې تو چې ګرانه را غلو نکي په سوغ کي لري (د زیاتي څرګندتیا لپاره د کمال سېتان «د لمر شغلو ته» شعري غونډ او او ارو نده سریزه). زه په دغه دیوه بل ځوان شاعر «فاروق فردا» یوه آزاده یلګه وړاندې کوم چې له یو څه او یو دی مضمون او تجربې څخه یې سرچینه اخیستې ده او د هیڅ راز کړ غیرتنیا یاله شعریت ګوته او رته یو ل کیدی نه شي:

زما شپېوا
زما شپې وشپېو
زما د شپو او زما نو د ژړا وشپېو (دلته «زما» یو ځېز راغلی)
تاسو کې پښخې شوې
زما د سور کوهیلو د څو تیوسري نازکې پانې.
زن به زه تاسې د سپېرو خاورو
سپېرې ځیږې ته وسپارمه
او خپل هیلې به له سره له سپېرو خاورو نه وتوکوم.

پښتو نوي ازاد شعر به خپل لو منګ کې له تولو ځلو نو نوېره سره ورځ پر ورځ پراختیا او پرمختیا موندلې او خپل بشپړتیا بې بهیرېږي په چټکۍ سره وهلي او لا وهي یې. له بلې خوا ځکه چې د ځه شعر مخکې له مخکې د انتقاد منونکی دی او نوی میتود یکه علمي کره کتنه یې پر له پسې سوانوي او صیقلوي، نو هرو مرو زموږ د وروسته پاتې ادبي فرهنګ په وچ زاره کالبوت کې د نوي سا پو کولو پاره یې اغېزې نه پاتې وي او نوي هیلې ورسره ملګرې دي.

دا چې ځیني لیکوال آزاد شعر او نوي شعر سره په یوه مانا را اخلي، کومه هیڅانده هېره نه ده، ځکه اوسني آزاد شعر لکه د مخه چې ووېل شول، تر هر څه د مخه نوي شعر دی یا په بله وینا آزاد هم د نوي شعر په بهیر کې رازېږېدلی دی.

له هغې کېلې د ادواړه ستاینو (نوي-آزاد) هم یو د بل پر ځای راتلای شي او هم دواړه سره غبر ګېدای شي او له خپل ستایلي (موصوف) (شعر) سره د (نوي آزاد شعر) په توګه یو ستاینوم یز ترکیب (توصیفي ترکیب) جوړوي، خو ځکه چې په (آزاد شعر) کې

(نویوالی) یې له هغې نښتی دی ، نو غوره به وي چې پر همدغه وروستي نومو نه (آزاد شعر) اسم راوړ شي او له نورو ستاینومونو، لکه (نوی) یا (بې قافیه) څخه ډډه وشي، هر ګوره، لکه څنګه چې په یوه ګڼه (کابل مجلې د ٦٧ کال وروستۍ ګڼه) کې ورته نغوته شوې یوازې په لوی سرلیکونو کې ورسره له زاړه دودیز (ولسي) آزاد شعر یا سپین شعر څخه د بېلتیا لپاره (اوسنی) ملګری کول به څه اړین (ضروري) برېښي. همسې خو ښايي یو وخت دا درې واړه ستاینو- مونه (صفتونه) (نوی- آزاد- اوسنی) خپل ارزښت بایلي، ځکه هر ستاینوم د خپل ستایلي (موصوف) په وړاندې یوه پرتلیزه (نسبي) لوښه (خصلت) لري . د نن (نوی) د سبا (زوړ) او د سبا (نوی) د بل سبا (زوړ) دی یا لکه (ښه) او (بد) او داسې نور در واخله چې جاج (مفهوم) یې د مهال او چاپېریال سره بدلون مومي یا ګورټ یو پر بل اوړي او یا خو پکې لږ تر لږه تنګوالی او پراخوالی راځي .

همدا نن سبا چې زموږ ځانساتي او زاړه خوښي پښتانه لا د «له قافیې آزاد شعر» سره د یوې نوې ښکارندې په توګه ډغرې وهي، په نوره نړۍ کې لا څه چې دلته رانژدې په ایران کې د ماوخته «له وزنه آزاد شعر» تر ویښې ګرویږنې لاندې نیول شوی وي. د ساري په توګه احمد شاملو د «وزن د شاعر ذهن بېلاري کوي» خبره رامخته کوي او د لویدیځیانو په لاروي پر دې ټینګار کوي چې بې وزنه شعر کولای شي، د بهرني چولیزوږه پر ځای «مانوز» او «دننني» وزن ولري (په دې باب اړوندې ګڼې : اخبار هفته ۱۳۵۰ او ۵۷ مې ګڼې).

۵-٦: له تیرو شلورو څپر کو او پا سنی یادونی څخه داپا یله لاسته راځي چې د پښتو شعر رغښتی تخنیك سیلا بو تو نیك دی او همدغه یی لوښه ییزه (خصلتی) او بنسټه وزه ځانګړ تیا «وزن» جوړوي چې دعربي او دري په ګډ ونډ تو لوژ بنیو ته لنود شعر رغښتی بنسټ پـــري و لاړ دی. قـا فـیه او رد یـف هـــی پـه څـر مـه پـیـزو ځانګړ تیاوو کی راځي او هسی تش اهنګك او ریتم یوځه لا خوند وروي. دغه راز «سرباري» یا «څرمه» خوندور تیا کیدا ی شي، په ازادو «بي قا فیو» شعرونو کی د غږ پو هنې (فونیتیکس) په مرسته د خوږ اهنګو ویو نو دا مر ني (انتخاب) له لاري تر لاسه شي .

په لومړي څپر کي کي ولیدل شول چې د پښتو د وګړني شعر ونه (لنډۍ، سرو کی...) قافیې او ردیفونه لري او د بیلا بیلو ټوټو (مسرو) تر منځ یې د څپو شمیر برابر نه دی، مګر یو تا کلی اندول لري لکه لنډۍ چې لومړی مسره یې له څپیزه او دویمه یې دیارلس څپیزه ده او په دې توګه په لومړي توري (درجه) څج (فشار) د ریتم تول وتال یا په لنډه ډول د «وزن» بنسټیز تا کونکی دی. او ورپسې څپیز اندول زیروبم آهنګك، غاړه (لحن)... هغه یې بیا د قافیو او ردیفونو خوندي په څرمه ځانګړ تیاوو کی راځي. په څخیزه برخه کی د ایو تو لنیز دو د (قاعده) دچې مسره پر لو مړي، دویمه، د ریمه یا څلور مه څپنه څپه پیل سومي او بیا پسي هر څلورمه څپه راځي. البته دیري لږي بیدودی (استثناوی) تر دغه منځ پیښیږي چې په لومړي او دویم څپر کي کي یې یا دونه وشوه.

په دې ډول په پښتو کی بی قا فیه یا ازاد شعر دڅپو اوږدولی وګړني یا ګړني (فولکلوریك) او لیکني یا د بوانی شعر یو په زړه وری ګډ ونا و سنتیز دی، نه د اروپا یي یا پارسي شعر پیښې. هرا ی

قافیه شعر چې د پښتو د تولیز سیلابو تو نیك سیستم له مخې «وزن» ولري، هغه ازاد شعر دی او پښتو شعر دی.

دادی دلته د ګړنی او لیکنی پښتو شعر څونډی دا او مخې ازاد شعر بېلابېلې بېلګې ترسوړ نی (شرحې) او شننې (تقطیع) لاندې نیسو:

۵ – ۳ : نیم ازاد شعرونه :

۵ – ۳ – ۱ : ازاد ګالبونه : دغه راز شعرونه که ګړنی دولونه او لرغونی پېر (له اسېر کروړه ترارزانی) په پام کې ونه نیول شي، د شلمې پېړۍ له پیل سره سم پیل شوی دی او د لومړي ځل لپاره یې له زړو ګلاسکو دودیزو شعري دولونو (غزلو، څلوریزو، دوبیزو، بوللو، پنځېزو، شپږیزو، او ویزو ...) سره یوه بریدلیکه راکښله او اروپایې «نوین» شعر غوندې یې مسري لنډۍ او اوږدې کړې او یوه نیمه قافیه یې د بندونو په سر و پای کې په پام کې ونیوله.

دادی دلته د لایق له «یادونه او درمندونه»
(م–۲۲۳ مخ) دا ازاد ګالب څو غوري بېلګې راخلو:

څو یو ګی می شر نګیږی په ناغمه د نوی چنګ
ته کوره دا به څه وی !
یا سینه لیو نی شوه
(یا) کټه خنډ نی شوه
راغلي می په زړه کې ارمانو نه په غورځنګ
رګو کی می څوځیږی د جانان د حسن څرېکی
زما پخو ینو لیکی
پیغام د نوی ژوند
زه اخلمه تری څوند

وپەدیا ردخنو خوخوی زماپا لەنگێ
بێگا پەمدرسەدکی ملا وقارە گتاب
راوابی خێست رباب
پە بزم باندی سەم شو
لەرند سەرەمجرم شو
زارەبار پە سەرواڕول دنوی مێشی پەکە
رتلی اسویلی‌می اوس دبارپرمخ لگێپوی
صورتەمی‌تولەرێپو ی
خر خێپوم لەمستی
لاهوسی کرە بێپری
رارسی پە بوسوکی دژوندون نوی اهنگ
... پەسخە راغلە جاپانی نجلی
سێنەهیلی نجلی
ودیدە مستە
ماسلام ورگە پەحەنداشوە تجلی
پەکتەها شوەنجلی
ماتەشوەشاتە
پەتبسم یی راتەوویل:« کونی پێدوا»
«دوزوپوروشیکر»
لەخندا ور الەشوە
ماورتەوی پەرب گەپێوم نجلی
پەمرشەگیپوم نجلی
پەمحان پوەپیم (نجلی)
دپێوپە خوگوشوە رهی هوسی

دجزيرو هيلى
زه شومه پاتى
دمخ پهلمر ىي وريځى راغلى دغم
ستر ګى درياب شوى د نم
لهژړاو رانهشوه
ماوېل پوهوم ابر ستنه شه نجلى
اى رما ښکلى شهى
دي وېل «اى اى اى» ... (هماغه اثر، ۲-۲۰۸ مخ)،

... پهدى تيارو کى
پهاو ږدو شپو کى
پهدى همو کى
په اند يښنو کى
زړه ته مى رسى يو ه نوى د مه
روڼانه پکارى دسپاڼه ... (هماغه اثر، ۱٦۷ مخ).

.. چى راوى په ګم خمارشى
د نوبهار لړى ګى ګم دى
سپنده ګه، سپنده پهيره!
سپنده ګه سپنده پهيره!
دهرسپندوى خولى لارى
هر يو خول ګورته رواڼ دى
دهر يو خولى دهوارى
زه (ګه) چرى چرى شه اور
چې دى ځارى شنهپتى شى او باڅوى او چهنو له
(دغنى ګليات، ۲۲۳ مخ).

... داسې اوښکې و رتې ورتې ...

راخوتکیږی.او بهیږی

دا یې مولهسرچینهوله

هر با رخو باندی مخ کښته

که بهیږدی درانه لیږدی دنیمګروارزو ګانو!

دازسا بیلتون مځلی،

ارمانژلی،

څوریدلی ...

سر تر پښای ناکامه مینه،

او بووري شانيهیله ..

پهارمان دیوهځرك دچادبیخ درنا ګانو!

(سوزونه او سازونه، ۱۱۳ مخ)،

... ګرځوی سی

چوږ لوی سی

لالهاند ولو لنکر.

برسیر ود بیلتا نه او

دهیډ وتاند لبا نو

ارمانو پرهد برو

دا سروبر ګربلا او

دلرهن ويرژلی‌ژو نه
دههستازارامه سینه
دههستاواره سینه... (هماغه اثر، ١٨١مخ)،
... یەزما گرانەو طنه
تەزمابی اوزه ستایم
تەدیوەد بوه دیوه
زه‌پتنگ پتنگ پتنگه
لەهرغه یم بی پروا
مست پەسینه یمه ستا
تەسی هتە تە سی‌هستی بی
تەتمەپتی لە سی‌ژنگ ... (محبوب مسکر: زوند، ٦٨مخ)،
... ملالی ستر گی
لاندی بی څنی
سری پستی‌څوندی
بیکلی مخوله

. . .

لاندی بی وروځی
بانه‌بی غشی
سره‌باڼخوگان بی
څپ‌غپ تیو نه... (هماغه اثر، ٧٧مخ)،
... زه‌هم شاعریم شاعر
بورنګه‌یدلی، ګرځیدلی شاعر
بوځوریدلی، سوځید یدلی شاعر
بوه رد بدلی شاعر
غمو خوړلی شاعر... (هماغه اثر، ٨٣مخ)،

... زما پروچو خونړو
پردې سپېرو ځړان وهلو یانو
د وینو شعر لکه بېیا که نسیم
اوړی را اوړی او چلېږی پسې.
او دا شر قهر ذهن سي
لکه د سرو ګلو رنګینه باغچه
له شنو یادونو نه تشیږی پسې ... (ګاوون: سپرغی، ۱۴۸مخ)،
... زموږ د خلکو دغورځنګ
غېږ ور ته شوی
په وړاندې ځی
پهوړاندې ځی
پهوړاندې ځی
پهوړاندې ځی دغه کاروان
په سختو لاروکی روان
د توروتمو نوپېروان
هرقدم غواړی امتحان
د هغو نواو د جنګ ...
(خاموش: مزلونه مزلونه ۶۰۱مخ).
-... له پیمانه تر امانه
له خپل واک ترجمهوریته
چا ته نه یی تسلیم شوی
ازادی دی خپل قانون دی
تل په ویاړ یې اوسېدلی
سرلوړی دی ټول ژوندون دی
... (رفیع: د جمهوریت وږمې، ۳۴مخ).

- نه په خوب،
نه په شوخی شم..
- نه په شور،
نه په مستی..
- نه په ناز،
نه کرشمه شم..
- نه په کنج،
نه په مکیز...
- نه په شوق،
نه په خندا شم...
- نه ستر گک،
نه په ادا شم...
- نه په می،
نه په غمزه شم...
- نه نشه،
نه په خمار...
نه په اوښکه،
نه ژړا شم...
نه په رم شم
نه په تراه...
نه په هېڅ لکه را نجه شم، ستا د ستر گو په کنکو کی!
...(پوهنه او مینه ۱۰۱-۱۰۲ مخ).

ـ د کړکۍ هنداره شوې
دېمکې بڼه الوتې
تری مالیار دی لیږد پدلی
نه ګلان شته نه خاچو نی
له هر څه وتلی ساده
نه بوریږی نه ګښېږی.. (سوز و نه او ساز و نه ٣٣).

ورپسې نور بندونه هم په همداسې ورته قافیه لرونکو دوو مسرو پای ته رسي.

ـ داوپمه د پسرلی ده
که د نوی ژوندون ساده
تش ګوکل ته ددی همکی
که دی زیږی غرور غوټه
وچ چمن سپېرو باغوته
د غاټولو سرو ګلونو
چې تو کیږي زن سبا
چې غوړیږي زن سبا... (هماغه اثر ٣٦ مخ).
ـ لمبېدلی
رنګېدلی
په سرو اوښکو
دغو پېښو
په سرو وینو
د سر تېرو
د هېواد د شهیدانو... (هماغه اثر ١٦٨ مخ).
ـ ستا د سرو شونډو د شعر

د وینو د ګلهانو په رنګ رنګ کی
سره د وینو
د مینو ارمانو نو زمانا څی... (اوراوویئ ۱۴)،
ددی شعر نور بندونه هم په ورته قافیه پای ته رسی.

ـ تیره به دا شپه شی اور نا به شی
ښه د وطن به شی بدله په خندا به شی
را به شی صنم زما
محوه به شی غم زما
درد زما ماتم زما
څه چی استبداد راځی ورې دی زما به شی

*   *   *

شپه دیره تیره ده لاره توله ګړولیچونه دی
هر قدم خطر دی، هره لویشته کی دامونه دی
د لارې منزل غواړی
جنګ غواړی، تکل غواړی
مدنی او پرغل غواړی
هغوی بهیری د روسی چی پاځه یی ایمانونه دی... (کاوون: سپرغی ومج).

ـ وطنه
ستا ګلونه
او ستا د ښتو اغزی
سپوږمۍ بری خړی لوتی، لمرو هلی دښتی
او بی پروا بادونه
دستر آموا و اباسین ستم شکنه څپی
او د هلمند د توفانی څپو بی باکه سرود

باد و باران، بریښنا او تندر و څپاند سیندونه... (هماغه اثر ١١ مخ)

-ای بېکارۍ آشنا! درته سلام کوم
پرېږده چې د اسپېنې مرغۍ والوزي
لاړې شي جوړې جوړې ګلونه شي
بګلې شي، ښایسته شي، اسپلونه شي
وا ځلي په وزرونو کې تنکۍ ماچې
وسوځي سینو کې ګلالۍ بچې
سپینې سرې مینو کې زړګنې ماچې
پام کوه!
پام کوه ماڼې ته ګوتې مه وړوره! همداسې تر پایه په هم دی

شه‌بې هغه کلونه ١٣٥) مخ. ورته غبرګون (ځنګیال هغه :
-یارانو ګوری
له تندې مرمه
د ساقي خوا کې
د مینا شنګ ته
هیڅ له یو هورم
دا ویرانه ده که میخانه
ورپسې نور بندونه هم په همدې ورته ډول والله مسره پای ته رسي (خزان: د سحر په غېږ کې ١٢ مخ).

- دا ته زندانه دی زندان
اسمان یې و وړدی و وړدی
په کښې څو ستوري بېکاري او ستر ګکو ناورې
واړه ځلیږي او سو چونه و هي... (محبوب سنګر: بنده کړیکه ٥٧مخ).

-خلکو ته
وطن ته
انقلاب ته به د کار هیله
پالم بهیی ګالم به یی
سهټه د اېشار سینه
د اچی له د رد ونووچو د پښتوا و له غرو نو ر او تلی ده... (خاموش: سزاونه مټز لو له ۹۳-۹۴مخ) .
-زموږ دخلکو څو ر څنګ
غوبورته شوی
پهورانده ځی
پهوراندی ځی
پهوراندی ځی دغه کاروان
پهسپټولا رو کی روان
د توورتمو نو پېرو ان
هرقدم غوا ړی امتحان
د پښتونو او د جنګ ... (هماغه اثر ۱۰۱-۱۰٦مخ).
د کښېپو شاعرانو په امتیازی د استاد اجمل خټک او د ګترا سې الحق امین
د ازادو ګالبر نو پهپلکوبس راوړو:
-له یو ملا نه می پوس و کړلو
ساوبل ملا صاحب جنت پهڅه وی؟
هغه په ګېله ملاس واهه ویل یی:
«تازه میوی او د شودورودونه».
څوا کی کتاب ته یو طالب نا مت و
ساویل چی ته په یکی څه وواېی

دزلمي کتاب یې پټ غوندې کړ
وی چی «ښایسته حورې او ښنه خالونه» (اجمل خټك ،د غیرت چغه ۰۰ مخ).

- دا یو مضبوط دیوال
چی له صدونه ولاړ
چی له مودونه ولاړ
دا د غلام په وینه
هم په هډوکو د دوی
دده پخته خښته شوه
د دهرده پخه شوه.. (امین الحق امین ؛ ۷٦ مخ) .

د نویو او نیم ازادو کالونو په لړکې «نوی دول شعر کړی نوزی» هم لږو ډیری دود شوی دی داسی چی لومړی څلور مسری یې یوه څلوریزه جوړوی او وروستی دوی یې هم قافیه راځي ، لکه :

دا نسیم د پسرلی دی
که الهام د نوي ژوند دی
دا اواز دی د بلبلو
که پیغام د نوي ژوند دی
د سپین غر له ننگرهاره
له کونړ هیش بهاره! (وینه او مینه ۲۱ مخ)،

ستا لو په گیډه ، که له زهرو
بکی پرته ده د خلکو وینه
زما په سرکی د ښکلو عکس
زما په زړه کی د انسان مینه
که دا هم ته یې ، دا دی اسلام دی
زما تو دوا ړوته پس سلام دی

(اجمل خټک: ژوند او خوند، کابل ۱۳٦٦، ۲۳ مخ).

اجمل خټک دغه ډول ته نوره هم پراختیا ور کړې، داسې چې لومړۍ مسرې یې پوره څلوريزه جوړوي او څلور نورې یې دويیزې (وګورئ هماغه اثر).

د مجذوب «پښتون ته خطاب» یا په ځانګړې توګه ددې لړۍ له ښکلو بېلګو څخه ګڼل کیږي.

د لیکوالکي د دا راز نیم ازادو یا موندیو (٥-٣-٢) شعرونو بېلګې «زنداني کار ګر ته» (زنداني نغمې ۱٦ مخ)، «نوی نړۍ» (سوزونه او سازونه ۳۰۱)، «مین ارمانونه»، «ساته ګران دی د اهیواد»، «سره ر یږه د افغان»، «اواره مینه»، «دو بیا ر سهار» ... (هماغه اثر) همدا رنګه «جناح» او «اتلان نه مري» (اور او ویښی ٤٥ او ۱٦٠ مخونه) او د کاوون توتاني «دوینو شعر» (سپرغی، ۱۳۷ مخ) دیادونې وړ دي. ننګیال پیوند... او نور ځوان شاعران هم لیو ډېرې ورته بېلګې لري.

۲-۳۵: سونټي شعرونه

۲-۳-۵: سونټي (یا سرېږ پکړی) شعرونه، هغو ته وایي چې قافي وله لري او نور مسره یېز اوسیلابونیك اندول یې برابروي. دا ډول شعرونه د قافیه ماتوني او ازاد شعر له لومړنیو بېلګو څخه ګڼل کېږي، مګر دا چې د مسرو، څپواو څپوډیو برابراندول له کبله ورته بشپړ ازاد نظم یا شعرونه بلای نه شو، او سمدلاسه پرې «سونټي» نوم ږدو، لکه واخلئ د صبا جېزا دها درپس، امین الحق امین، ایوب صابر، سایل ځینې بېلګې، د عبدالرحمن پژواك (ګلمه دارې روپۍ د ۱۳۱۷ کال لیکنه) او یاد شاووالدین مجروح د ځانځانې شمار ځینې برخې، چې البته زیاتره برخې یې د څپو د شمېر له پلوه یو تا ګلی اندول لري، (څلور مسره یزی، اته مسره یزی، دولس مسره یزی او څوارلس مسره یېزې مسرې) او په دې ډول یې زیاتره بېلګې په ازادو کابونو پوري اړه نیسي. داوسیو ازاد و شعرونو په ترڅ کې هم داسې او هلته ځینې سونټي بېلګې په سترګو کېږي، لکه:

— بوره منې مازیګر دی
بوره منې ننداره
د بانوش خزانې ونې
لکه څلې د سرو بربښي... (سوزونه او سازونه ۱۹۷ مخ).
ـ لمرو، نوی څرك وهلي

د درواو غرو له څنګو
پلوشو یې ار یښولي
لکه زړو اوریدلي څوکی... (هماغه اثر ۲۲۳ مخ).
ـ لاسي په غوږ کي د ماشوم سره پلو
د لوړو شپږو څو بولو کسي
لاسي پر شونډو د ټلو اسرو
دوي لرلو خاطرو سندره... (اوراو ووینې، ۱۰۵ مخ).
ـ بیا د ګلاوو او پرنا ژکلوهو کډو
زموږ د کوڅو پر څوا ږدو ږوږ رامي
بیا د ساقي د سرو پیالو په کړنګا کي
د دغي وراني دنیا کي پرله سو ... (خالق رشید، بوتاچاپېرس).

د (کینتوز) یا (سانت) په نامه کوم ازاد نوي شعري دولونه هاغه یا پر بې د اروپایي شعري دولونو په نامه په پښتو کي ازمایل شوي دي کوم نوي ازمېښت یا نوښت بلل کیدای نه شي الکي له موندلي شعرو څخه کټل کیږي، د ساري په ټو که یې د لوی مري دول یوه پلکنه کوو:

ورانه ی هم یوازي وم
وروسته هم تنها یومه
هر ځای کي تالاشومه
هر ځای کي تالاشومه
هر څه مي که شو بڼ څو لو (هر څه کي دهو که شومه)
نه څه ولک واسره شولو
نه ږه واسره شومه
ته لاچاره لارلې

زه هم پرېښوده شومه
تر رانه جدا شولې
زه د رانه جدا شومه
د غمي ژوندون کې زه
د غمي لګیا شومه

او داېي هم د سانده پایګه چې د دهوار اسو کړ چو پرورو کې شاه نظم ته وایي:

دا هستي زما هستۍ ده
او که هستا د ستر ګو عکس دی
دا مستي زما مستي ده
که د ستا د حسن رقص دی
ګنې ځان چې ځان کې ګورم
په تیاره کې تالا کیږم
خو له ستا راته بلا شي
له وجوده بې خو ګیږم
(د اچي داخوږه یم)
دا زما د هستي راز دی
دا زما د جنون پوهه
د زما بې وسه چینه
دا زما او ستا پروالي
د ازل شته هوی ساز دی (زرین انځور: ژوندون ۱۹-۲۰مه-
د ۱۳۶۳ پنځمه ګڼه).

دا به سمه وي چې د ښځینه ګی یا انځیل او ا نورله پلوه په دغه دواړي پانګې لوړوالي واري، مګر له دوا په هکاري چې

څاوريزوال يا د پارسي په ډول مونږ (چهار پاره) شعرونه دي او په اوسني پښتو شعر کي ښايسته اوږد کلمه مخينه لري او له شلمې پېړۍ له پيله راهيسې يې د نورو نويو کالبونو ترڅنګه دود موندلى دى. ترڅو چې په پوره ټيټو دوه ګونو نيم ازادو (ازادو کالبونو او مونږيو) کې هم رواتلاى نه شي، بلکې د ډېرو نورو نويو (وسيعالو) قافيه والو شعري ډولونو په لړ کې ځاى نيسي، د پښتو نوو شعريو ټاکنه (څوا ولس يا کم وزيات) مونږد ازاد شعر له پېړه نور هم لري کوي. د پښتو ازاد شعر څپلې پيلګى له ډول رنګار انګلاڅو کلوريك شعر څخه اخستيلاى شي. لا په لومړي پيلګه (کينټوز) کې يې قافيې او په دا بله (سانت) کې يې تولېزه (ګه چاپي تېر وتنه نه وي) نا ندولي ليدل کېږي. همداسې يې د يوه جاپاني شعري ډول را پښتو کول هم دروا خلله (دهماغه اثر . ۲مخ).

۵-۴: بشپړ آزاد شعرونه

۳-۵-۱ : هغه ازاد شعرچې مسرې یا بېلا بېلې اوږدوالی لري په
لومړي څپرکه څوه بېلگوی :

- تور به شي
دا مڼې نور
را به شي هر مڼې اور
- و به چلي سا
په مړو ر گو کې
د کلپا نو
دسر و کلو
د کلېنې

دېرم ويلاړ زما ... (او روو يې ۲۲ مخ).

دا بند پردوو مسر وو يشنه موسې لومړۍ له دوو تو تو جوړه
ده او دويمه له شپږ ويا په بله وينا لومړۍ دوي ها په هوى او
دويمه شپږ څپا يه .

- و تره ده
زن و تره ده

د ډمن ګر ولاړه زما
- و تره ملا و تړه
ما لپا ره نن
- و کړه هغه و کړه
- نه چې د غرض څا و ند
زما په وتره ډمن ګی
- تخم دهلته وکړه، ... (غزال :د سحر په غیږ کې ۳۸ مخ)،

لومړی مسره له درو، دوهمه له دوو، دریمه له یوې، څلورمه له دوو او پنځمه (وروستی) له یوې توری جوړه ده.

- بیا مې د موس د وچو شو نډو ور پورو باندې
- تاود آوی راځی
- ساه پل و سو مه
- څکه مې په زړه کې د دنیا روڼه نیا خوره شوله
- نه چې له با ځوانه لرې اړی شو ی
- با آبی په بډ یا ګی شو ی
- اوس ته نو په سر وو ښو
- سر و ستر ګو ژ را سره
- چاوو پل چې له راځی
- زه دی په سر لیه
له ګلا نو له
- پوره هغه د دالسان دو ښو بو ی اورم ●
- مه راځه ترڅوچې له باڅوان سره یوځای نه شی
- هلته چې یو ځای شوی
پسر لیه له باران سره

- ستا به د لمنې سره ګلونه د هغه سوېڅو لاسونو د ننداکړو په اوبو باندې

- وينځل شي

- پاک به شي

- بيا به نو زموږ د اسونو پسرلي (ښه) شي

- ستا به په وږمو سره

زموږه د سپېرو شونډو لمبې پټرګ

اوبه (نه) شي

- ګل به شي وطن زموږ

- نور به وي چمن زموږ

- مينه وي دنيا د نيا

- خوند به دي وږمو کې وي

- خولې به وي خندا خندا

- هله پسرليه زموږ زړونو ته ژر به راځې !

... (فاروق فرهاد: دګلانو پرخې ۱۳۳، ۱۳۴ مخ).

په دغه شعر کې هره نيمه (ـ) مسرۍ يوه ځپې، په دې چې ټول هغه له آره په اوږدې ځپېنه ځپه پول شوي او پای ته رسېدلي دي. که دلته هره پلاوګل شوې ټوټه په لومړي ځپه کې ځج وله لري، له ډېرې ټوټې ياتوتو سره په يوه پراخېنې مسره کې راځي اوګانته پلاتسره چوړ ولای نه شي.

او دا هم يوه بېلګه چې هره مسره يې په لومړي ځپانه ځپه پول شوې ده :

- مه وژله

ماشومزنه

- زه يم وږګا ماشوم

- زه د فلسطين يتيم

- زه د دېر یاسین یتیم
- زه یم د صبرا یسیر
- زه د شتیلا یسیر
- تا یې پلاره کړی یم
- تا یې موره کړی یم
- تا یې کوره کړی یم
- په ازار ګټلیه
- په مشتور نسلیه !!!
- مه وژنه
ما وژنه ... (موزونه او ناموزونه ۱۰۲ مخ).
- تلو دې د دې خلکو خندا کړمه
- تلو دې پیاله سره لیونی کړمه
- تلو دې
په زړه وویشتم
زخمي یې کړم
تلای او نا شوا له
لکه تل ... (اصف بهاند : ژوندون د ۶۶ دوره ګڼه).
- والوتې د ولې مرغۍ والوتې
چېګې شوې هواته او خپلواکې شوې
و مرګونې میده یې څرګنده کړه
داد پکلونهه د انسان هیله ...
(شهسوار سنګروال، شمله).

۵ - ۳ - ۲ : هغه آزاد شعر چې لومړی ځل یې د عربي مسرې پر دوامه شپه راغی او د نورو دولونو غونډۍ ورپسې څپولهه وې دري څې وروسته راغی ، مثالونه یې په لاندې دول دي :

ماو لید له سپینه
خوځید له
داسمان په اننګو کی
چاویل دور یځو موره اوس په وژاړی په کو کو .
- نه پیغله وه دلمرګر سیوری لاندی
چی اوزبنت یی خرهواو .
(فردا : ٢- ١٥١ مخ).
- په کور کی
- په کار کی
- په کلی کی
په ښار کی
که هر چاسره ناست یم
- له هر چاسره ناست یم
که ځم په کومه لار کی :
ته ماسره ملګری
زماوینه کی ګډه
زماوروح وروان یی
(خاموش : ١١٥ مخ).
داستاد سپځلتیاد کلیسا له کنګرونه
زماد پاکی مینی
د برخلیک بیګناهی انګازه کیږی ...
خندونه دایمان دلمرد هسک می
وړانګی په پلوشود مرکوینو
چی الوځی دروح په پدرګه می

د نور د ابدي چينې برابري ...
زماله وچه هېره
زما د مصلوب ږغ له رګه رګه.
نو،
مه تويوه اوښکې
ورتې ورتې
ګرانې مورې،
زما به ويرو ويرژلې،
«سپېڅلې» درنې مورې!
زه وينم،
چې وادروسي دې له عرشه
د زمانځنې دويارنې
دامن وداد بوټي برخې مېيار کې ته
او
پدې دې برخمې مورنې زړه پاندې
پټې د لورېنې!

٥-٤-٣: هغه ازاد شعرونه چې تراوسه په دريمه څپه کې پيل شوي دي، د ديواني قافيه والو شعرونو ندي (٣-٢) ډيربنسټي برخه جوړوي او دا خبره د هغه سپا په دې نه ده چې ازاد شعر ليکونکو لومړي ځل زياتره د همغو ديواني شعرونو تراغېږ لاندې له قافيه والو شعرونو څخه پيل کړی او تر يوه اوږده کړاو او پړاو وروسته يې ازاد شعر ته مخه کړې ده او همدغه چې څو د پښتو شعر لومړي بنسټ جوړوي، نو دوی يې هم زياتره هماغه دريم دريځ په پام کې نيولی او يا په بله وينا په نيم اګاهانه توګه يې برخه د دريځ دېر زور اچولی دی. هر کوره څلورم دريځ يې په دويمه او لومړي دريځ يې

په دربمه بوری کی راغلی ،مګردویم هغه بی، لکه یاس (۵ - ۴ - ۲) بی چی ابلکی راوړشوی، بیخی کم لیدل کیږی. د دی لپاره چی پهٔ دریمه ځجنه څپه بیلیدونکی از ادغږونه خورا ډیردی، نود ر نګار نګی په پام کی نیولو سره بی لندی لندی بیلګی رااخلو:

اری لار زموږ له کوره

دشنو (شوو) پهٔ ځنګل کی

دیستوو بود پاسه

ان ترسینده رسیدله .

تروږ سی وه

بوغو سپوری را بسی شو

زموږ له کوره تر ګودره... (پیوند : سهلی ۳۹ مخ).

- دلته سور دزره نغری و

- دزړی ایشیا ګوګل کی

- دسرو سرو سیلو

- دنا خوالو،

- نا تارونو ،

- د نادودو

- ناورینونو... (هماغه اثر ۲۰۶ مخ)،

- پر بیدیری !

- سوی ستی شم

- لولپه مکوټ الوی

- په اوروګی

- انګاروکی

- په لمبوکی

- د وزخوکی

ـ د سرکښو گناهونو... (: زندانی نغمی،۳۰ مخ)،
ـ خومره ویاړو
ـ سرلوړی ده
ـ د هودونو
ـ د سرو اوښکو په سرو پرخو
ـ د سروه ولود گلپانو مخ پریوته... (سوزونه او سازونه ۲۶۳ مخ).

له ور تیرو بیلگو سره د دغی بیلگی تو پیر دادی چی د لته پر څلور څپیزو اواته څپیزو سربیره وروستی هغه دولس څپیزه راغلی ده. د دغه شعر د نورو بندونو وروستی مسری یادولس څپیزی دی اویا هم ان شپاړس څپیزی:

ـ آزاد شعر دی هماغه:
ـ چی آزاد وی
ـ د زړو اوډ پردو پلنو پښو له بندیزونو...
ماتی کړی زولنی د قافیو
ـ اوا تکړی د ردیفو اودرویو
ـ راوتلی له زندانه د عروضو د خلیل بن احمد...
ـ نه پرځای زړی پیښی د میاشرف او
ـ «جزئیات» د بهایی او
ـ پاچتی خوشی خواری د «بی گودره» سمندر د پدرشو...
(اور او اوبه، ۱مخ)،

د غه بیلگه په یوه اوږ د شعر اړه لری چی د سرو رنگارنگی پکی یوشه زیاته لیدل کیږی، څلورڅپیزی، اته څپیزی، یوولس څپیزی، دولس څپیزی، شپاړس څپیزی او نولس څپیزی دی.
ـ اوه، ۱
ـ چی خومره ده اوچته

ـ اوه ،
چې څومره ده ګرانېږه
ـ ستا دموني ونې ټيه
د بې له څا يست، ښکلا
او
ـ دواده دولور ټيه
ـ چې بې نه شي ادا ينه
په هيڅ توګه پور اينه
په هيڅ ډول پسا ينه ... (هماغه اثر ۱۶ مخ) .

په دغه شعري ټوټه کې دا تکې د پام ور دي چه (اوه) يا (او) غوندې يو څيزې ټوټې يو ازې په هغه ډول کې څرګوا کې مسري کيداې شي چې شعرپه لومړي خجنه څپه پيل شوی وي، مګر په دغه اومنی ډول اودوونورو (په دويمه او څلورمه خجنه څپه پيليدونکو) دولو کې دغه څانګړې يو څيزې ټوټې بايد له مخني يا ور ستنی ټوټې سره د يواز ينې مسري په جوړونه کې برخه واخلي :
د کړنګ ژمي سړه شپه ده
برېر خېژي د پنځه څالي د کيود يو
د سړې سيلې له کوکو اوشور زوپه
چې راځي له ارتو ويړو سېرو د ښتو
پراو پود تږرو خاورو، زړو شکو برېکېږو ... (هماغه اثر ۸۲ مخ) ،

دا شعرتر پايه له څلور څپيزو، اته څپيز و او شپاړس څپيزو مسرو څخه رغيدلي دي. په دې پيلګه کې شه ترا چو تيرې چې نه يوا زې د څو کمې زياتي کوم نقش لري او له يې لنډوالي او اوږدوالي بلکې هم دا څجونه دې چې د څپو هميردڅان اړونده وي اوهغه

داچې تر لومړي څپې وروسته چې څپل خوښې (اختیاري) دی، نور وړې دري دري څپې وروسته راځي او څنګه چې تر لومړني څپې دمخه له یوې نیولې تر دروونا څپو پورې راتلای شي، همداسې تر وروستي څپې وروسته هم دوه نا څپې څپې را تلای شي، یا په سرچپه توګه څو رنځیدا ی شي .

په څپانده سمندو،
موړیه، لیونیه!
دګله شور وله غرو ره
له سکونه ناخبره .
په سین سدام پرتلمو
له یوې لوري بل لوري ته
ته دلم رسیدله رویږي ؟
داسمان پراخه غیږ کې
د تیارو پرلور بهیږي.. (عارف غزنوي: د سحر په غیږ کې ۶۳ مخ)،
ساره باد پرسخ اخیستی
خاوري دوړي او خځلې
ریږدوي څانګي د ونو
رژوي پاڼي د ونو.. (همدغه اثر، ۷۰ مخ)
ننګرهاره، ننګرهاره!
په ژمو کې دانګو ونو،
دیلدو نو دنیکونو
په دې ګلو نو ښه !
په له سرو وینو نه جوړه
تا نه زرو ار دروازې شم.. (نردا: د ګلپانو پرخې ۶۳ مخ)،

- لاسنګردې
- لاسنګردې
- لاسنګردې د برمولو
لاسنګردې د ننګونو
- لاسنګردې د بریو
- د بریو
او بریا وو
- لاسنګردې زه نړیوې
تینګه ولاړدې زه غور ځیږې (هماغه اثر، ۷مخ) ،
- ستاخبرې ، ی
- دذهن په کو ښو کې -
- دانګې غوندې څرېږي
- تکرار یږې -
- ته چې يو ځل

- میده -

یاده کړې صدمه

- نوغږرګون بې اورم :

میده، میده ، میده (خاموش:(۲۳ مخ).

دغه په دریمه څپه کښې ولیدل وګې شعرتولې څلور مسرې لرې شاعر لومړي دويمه او څلورمه مسره پسر دو وتو تو ويشلې ، او دريمه مسره بيا يو ه توټه ده .

- د کني د نیا په ذهن کې
- د هنو چغو کرچې کايږم
چې :

د سره تاریخ په پاڼو کې تلپاتې ترانې شي
زمانو ته انساني شي . . . (کمال مستان: هیواد ورځپاڼه ۲۳ - ۷ - ۶۶).

۵ - ۳ - ۴: همدا ازاد شعرونه چې تر اوسه په څلورمه څپڼه څپه ویل شوي دي، تر مخکني دول «۳ - ۴» وروسته په دوهمه درجه پښتنې کچه کې راځي د یو شمیر شاعرانو لکه ګاوون، ننګیال، فردا، خزان، خاموش، پاري، رشید . . . زیاته هڅه هم همدې دول ازاد شعر ته ده، دلته داسې بریښي چې یو دبل تر اغیز لاندې تللي وي، که له یوه پلوه دول او بیا په ځانګړې دول د پوانې شعرونه زیاتره په دریمه څپڼه څپه ویل شوي دي او د غه بل دول دا ډیری لوی پیلګی لیدل کیږي او هڅه هم زیاتره په لس څپیزو او څلورپیزو کې . په وسمهالو شاعرانو کې اجمل ختک په نظمونو او نیم ازادو کتابونو کې او مړي هل هڅه کړې ده .

زما د هوډ وږه موسکا کې د ژوند لوبه مانا
زما د سترګو د رنجو د وه لوبې لوبې لکې
زما د سر د وپښتو غوره نغمه کړېده
زما پر شونډو ند سکڼي مخ پاڼدې نري خال
زما پر وروځه د ځړ پوسو د یو زخم ځای
زما په زندکې یو اوږد کوټې
زما اوږده او هسکه د ننګه غړې
زه څهل تصویر د ما شو موالي ګورم . . (نوید: مشالونه، ۳۷ ام مخ).
- دلته د مرګ د غرور غوله کومې
دلته د جنګ لاجل وهلي ستونې
- لهبي فریاد د نوي ژوند راخوږي

- د مرګ پر ګور د ژوند ډیوې بلېږي
- سوله پر جنګ پیاوړې . . .

زه یم ژوندی سوری ... (او راوو پښی ، ۱۴۲ مخ)،
- په سر غړانده،
- تورتمه پیره ،
- د ناوړ پېښونو
- د ناتارونو ...
- مه نغاړه پښې مې
- په زولنو کې د تورتمونو
- د سرو لالونو او سرچانو لود پېرونو ... د هماغه
اثر ، ۱۵۳ مخ).
- زه د ترخه سکوت د غره له شانه
- زه د ناکامو ارمانونو د ایرو له څنګه
- د ویروونکو تورو شپو په زړه کې
- د شعر کوترو ته پرواز ورکوم
زه سکوت نه پېژنم
- زما د شعر ژبه سکوت نه مني
- زه به د شپې ځنګل په ستورو باندې وولمه
- هو چې سکوت مات شي
څو چې رسوائي په ځنګله کې څیرونکي لېوان
... (کاوون : سور غی ۱۰۰ مخ)،
- که زما وینې بېدلې نه وای
- که زما خوښې سوزېدلې نه وای
- او که سینه مې په ګولیو سوري شوې نه وای

- او د ناکامه ژوندغوتي مي رژيدلی نه وی
- نو دغه سره او ښایسته ګلونه
- دغه تنکی او نازولی غونچی
په دی سپیره پیدیاکی
په دی شوره او سوزو ونکی محکه
راتوکیدلای نشوی (هماغه اثر، ۱۱۹ مخ)،
- زه او ته
دواړه په ګډه سره
لاړو د ژوندوی پر لار
- شپه د توفانی څوندی وه
- او لاره ډیره پاتی
- سړو سیلو یووچود ښتوکی نغښاکوله
ځنګل ووپ شوی ودویری او سکوت په سین کی
... (هماغه اثر، ۱۲۸ مخ) .
زما پروچووشونډو
پر دی سوور وخزان وهلو پانو
دویدو شعرلکه پرباکه نسیم
- اوړی راووی او چلیږی پسی (هماغه اثر ۱۲۷ مخ) .
- سحر او چت شو
د تیار و ولمن یی څیری کړله
او سپور ډیووډیو
ددی شینکی آسمان په دښتوکی
په سرو ګلو
- باغ د نار نجو جوړ کړ

- او

ددې لوی دریاب په غاړکې

دحسن پرکور

دهغو او بود سپینو سپینو ایږود پاسه

دسرو لښرونو ،

طلایي ماهیانو لامبلي ... (ننګیال : هغه شپې هغه کلونه، ۱ مخ) ؛

باران و ریږي

توپان چغې وهي

- ددې ماره ژمي لاسونه دتوتیانو بچي

له شنوخوبو(ونو) پاڅوي

په یخ نیولو ګوتو

- د هغو ښکو(ښکرو) حرم څیرې ورنه زړونه پاسي ...(هماغه اثر، ۷ مخ)،

- زه به د شمرغوټې

- زه به د او ښکو ګلان

زه به مسرې د غزل

- زه به داماتې ماتې مړې مړې د زړګي څپرې

- داڅوریدلې هیلې

- دارتل شوې امرې

- د پسرلي په مرمریښو اوبو سینځمه...(هماغه اثر ، ۱۲۳ مخ).

- د سپا سپین لاسونه

په تورو توروا تکړو کې دهې

- هسې لاښکیل پاتې وو .

- چې لمر راو ځلېده
او اتکړي اوبه شوې
- د توري شپې څوته هم پرانیستل شوه !
... (فردا : د ګلپانو پرخې ، ۷۰ مخ) ،
- شپونکیه وخانده او
ښه وخانده ،
- خانده و رشو کې له رموسره دي
- چې پسرلي کې یه شپونکیه د خندا ورځې دي ... (هماغه اثر ۷۹ مخ)
- ستر ګې مې پټې شوې چې:
ونه وینم
ژبه مې پرې شوله چې:
ونه وایم ... (هماغه اثر، ۸۷ مخ)،
- زه د تورتم له څپو ي
سوی سکاره، تتدي سي مات او څاپښ وتلي راغلم
- سر تر پښو په ښه بوینو کې سور
- له یري لندې څپلي وینې څکمه ... (عارف خزان : د سحر په څپو کې، ۲۳ مخ)،
- زمونږ د کلي ...
په دې تنګو او په خړو کوڅو
- چې تاو راتاو دي ، غاړه وتي دي یو بل ته سره
- او د پرون د خوسر کښو او یاغي اسونو
- په وحشي منډ واو ځغستلو سره
- په سپیرو دوړو او ګردونو کې لا

- نوری هم تنګی او سپیری ښکاری ... (هاغه اثر، ۲۹ مخ)،
- زیاد ستر ګواوښکی
- چی می د زړه وینی دی
- د خوبجانان په نظر
ښودپا وان ځاڅکی دی ... (هماغه اثر، ۱۸ مخ).
- د زما نی قا صده
- زما غږو رسوه :
- د دغی ګر دی د نیا
- د بشریت غوږ وته ... (خاموش ۷۹ مخ)،
- لکه سپیلی چی :
- د رنا -
- او د سیاه راتلوونکی راوړی،
- (او) پالکه لمرچی ،
- خوروی خپلی زرینی وړانګی،
- دغسی (ته) :
- زما د ژوند به شپوګی و ځلیدی ،
- دغسی (تا) ،
- زما د خوالی دنیا روښا نه کړه
توده دی کړله ... (هماغه اثر، ۱۱۳ مخ).

دغه پیلګه له اتو مسرو رغیدلی ده، د سر اود پای هغه له دوو دوواو منځنۍ شپږ و اوله یوې توټی څخه جوړی شوی دی. په دریمه مسره کی (او) زیاتی راغلی او د اتمی مسری (زما) که یو څپیز ولو ستل شی، تول وتال بی پرځای کیږي او د نوروبسرو غولدی بی لوسری خج پرځلو رمه څپه را څي.

-زما دوریښی مینې سوی سینه
- چې د چا ناز او دخندا په خاطر
- د تو پانی غم د لمبو تنو ر کې
تاوه را تاوه شوه
او وریته شوله
- ستا د زوجت د سمندر له تله
- ستا دقلم د څڅوبی له لیکو
- ستا د حساس له تو پانی زړګی نه
- دخپل پرهرد ر څیدو په خاطر
- دخپل ستی عشق دخوښی په امید
- دارو درمل غوارمه
- دارو درمل غوارمه ! ... (اسماعیل یون ، ناچاپ).
- تاکې زما دشعر څوتی وخندل
تاکې حیاد پښتو نوالې وینم
- تارپولې د ، شمله دخامو
- تا دوطن دناوه کې پرتیده
- له خولو سرو وینونه خال ایښې دی. .. (صفیه صدیقی : زمالویته) ،
- مادسپوږمۍ پاکې مینې لمبې
-راوړی تالره څولی ګلونه
- بیا می ګیدی له سرو ګلونو جوړې
- ستا په پښکی او خپل وربل کې پردمه ... (همامخه اثر)،
-زما شهیدو اوښکو
په سره دولی به سره کفن کې می ژن

ـ دیار دګلی پرلور
ـ یکی دانه
ـ نیمه خو اناوګی
ـ داسمان حوری پراوړو ګرځوی ... (هماغه اثر)
ـ مه ورانوه دالیم و دانه حاله
ـ یکی پراته دی څوی سپکه کوچنی
ـ مه سوځومی دامید جونګړه
ـ یکی ژړوی بوری ورازی میندی ... (باری ، ناچاپ) ،
ـ آ دزرتشت دکور لرغونی نغری
ـ پټ دبارو توبه مکرو توکی سو
ـ او دخیام دجام دشوندو پرسر
ـ دوینوسره یټری له ورایه ښکاری ... (هماغه شاعر) ،
ـ زه دی تصویر جوړوم
ـ د تصور په قلم
ـ دزړه دتخت دپاسه
ـ د محبت په ګوتو
ـ په خپلو وینو بانډی
ـ خو ، په دی نه پوهیږم
ـ چی ستا مغرور ښایست ته
ـ دیو بیوزلی زړ ګی
ـ دا پو نیمګړی انځور
ـ وره دالی هی که نه ! (هماغه شاعر).

۵-۵: په ازاد شعر کې

ښويدنې او تېروتنې

۵-۵: له قافيه وال شعر سره د نوي ازاد شعر ښويدنې او تېروتنې پرازې د تولېز سېلاېو تونېك قانون له پلوه هرنګې لري او هغه داچې د هرې مسرې د پېل يا لومړي څجنه ترپايه پورا ز دريځ (موقعيت) ولري، پر لومړي څجنه څپه يا دويمه، دريمه اويا څلورمه څجنه څپه پېل ومومي او وروسي دري ، دري څپې وروسته څجنه څپه را شي، نور د مسرو او پړدوالي اولنډوالي كوم و يار (عيب) نه ګڼل کېږي. يو مسره کېداى شي، له يوې څپې نيولې ترڅلو پښتو څپو ورسي، البته يو څپېزه، دوه څپېزه، درې څپېزه او يا څلور څپېزه مسرې هله کېدون پېدا کوي چې اروند شعر په لومړي، دويمه، دريمه يا څلورمه څجنه څپه پېل شوې وي ، په بله وينا که د شعر لومړي پېل پر لومړي څجنه څپه شوي وي، بيا کېداى شي ، هغه او نورې وروسته مسرې هغه داسې يو څپېزې را شي . که پېل يې پر دويمه څجنه څپه وو، نو هره مسره تر دوه څپېزو الې پورې لنډه پداى شي، که پېل پر دريمه څجنه څپه و، نو هره مسره تر درو څپو کوچنۍ کېداى شي

او که پیل پرڅلاو رمه‌ځنځه ځپه شوی و، نو هره مسره څلور ځپیزه کېدای شي په قافیه والو شعرونو کې لکه چې اتیزه مسره اووه ځپیزه او اوپوده ترینه‌یي شپاړس ځپیزه ده، وګړني شعرهم همداسې دروا خله، دلته بیاداپي توپیره ده چې لومړی ځج پرکومه ځپه راغلی دی دمسري پای ته تردرو ناځجاو ځپو غورځیدنه دګړنیو او لیکلو شعرونو ځوندې په ازادو شعرونو کې هم کومه وته نه راوړي، پدې آړ(شرط) چې هماغه‌وروستي ځج کمزوری نه شي. هرګوره پدې دواړو شعري دولونو کې ترڅلور ډېرو اخواله دلومړي ځج ټیري تولیز سیلابوتونیك قانون ویجاړوي اوله‌دې سره بنستیز آړ (شرط) چې هغه «وزن» یا «ریتم» دی، له منځه ځي او شعرله شعري تخنیکه راوځي چې زن سبا داسې بې وزنه ازادشعرته «سپین» شعر(۶ - ۱) وایي. د قافیه وال شعر د اسې ځانې بېلګې هم شته چې کښې قافیې لري او ځپیز انډول یې هم سره‌سم وي. مګو دمثلی دریځ په ناپا مې سره بیا هم شعرنه بلل کیږي، که څه هم پرعربي عروضو تلل شوی وي، لکه واخلی دمسندرد پدر شو هغه.

۵-۵-۱: سیلابوتونیك (ځپیز - ځجیز) آر چې د پښتو شعر تولیز(عام) بنسټ بلل کېږي، پرازادشعرکې بیا په ځانګړي دول بنستیز ارزښت لري. که څه هم د لته ځپیز ویارونه (عیبونه) یا ځپیز کمي‌زیاتی پوازی اوپوازی دځج په اړوندی ترپام لاندې را ځي. داپوه دپالکتیکي اړوندی بلل کیږي. دځج ځنځاپوالی هروسرو له ځپیزي نااندولي یا کمي زیاتي څخه سرچینه اخلي او دغه راز په سرچپه دول ځپیزه نااندولي یا کمي زیاتي له ځجیزي نااندولي یا په بله وینا کمي زیاتي او ځنځاپوالی څخه رازیږي او هغه د اچې له پیل او پای څخه پرته هرچیری باید دری د رګه ځپې و وسته ځج

راشي. کومې څيزې نانښولي او بېلودي چې په ګړنيو شعرونو يا په بله وېناو ګړنيو شعر و کې پېښېږي، د ليکنۍ هغه غوندې په اړ ا د شعر کې هم پېښېدای نه شي او کومه ښېل کېدونکي ګڼا نه ګڼل کېږي څکه بنسټېز آر (وزن) ته و ته رسوي. و ګړنی شعر څکه نه تاواني کوي چه پېلا پېلی بر خی (مسري) يې پېلا پېلی لار ښي (وقفې) (مات شعرونه ۳-۵) او پېلا پېل سند رېږدولو نه (طرزونه) لري يا په بله وينا له آره شعرونه نه، بلکې سندرې دي. په قاعده وال ليکنۍ شعر کې هم کيداى شي څېزه پا په شوره وېنا وزني نانښولي په قاعده او ر د پغو کې پوښه سپکوالي ومومي، لکه و اخلی يا کوتانی (شوروي) شعرچې په لوستلو او بوللو (خواندن) کې تول زو رپړقانيه اچول کېږي او ده چاخبره وزني تشي او نيمګړ تياوې پرې د کېږي .

۵-۵-۱-۱: «زخه» د زوږو دود پېډو نکوا ز ا. وشعر و لوږوراز و پار (عيب) ګڼل کېږي. د غه رازېي و زنو ويار جنو شعر و ته «زحن» شعرونه وايي. «زخه» دامې منځته راځي چې شاعر يې دلته او هلته د پېلا پېلو وړو وړو توتو په بڼه ياد چا خبره ، د مثر ضه توتو په تو ګه ځېدونېد ونو په پېل کې يې له کومې ژبنې اړ تيا اچوي او يې له دې چې د وزن له پلوه ور ته له لورو سرو سره څېزيا په بله وېنا توليز سمون ور کړي . دا توتې کله يو څپرزي وي ، لکه « او ... »، «هو ... » ، « لو ... » او کله څو څپرزي وي لکه پرېږده ، تر څو چې ، لکه وطن مې ... څو ګه وغورځول شي ، شعري متن او مانا اوله دې سره وزن ته کومه و تدنه پېښېږي - که پښه شي هغه بيازخه نه ، بلکې ويار جن شعر ، دى :

او ...
ځېنود وينوپه سرو ستورو

«توره شپه» وويشته

چې ...
زه او ته
دواړه په ګډه سره
ساحل ته
ورسیدو (کاروان: سورغی، ۱۲۹ مخ).

په دغه برخه کې چې د یوه شعر وروستۍ برخه ده او له آره یې په څلورمه څپنه څپه مسرې پیل شوې دی «او ...» زخمه بلل کیږي ځکه نه ځانته مسره جوړولای شي او نه له مخکې یا وروسته مسرو سره یوځای کیدای شي، ځانته په دې چې لنډه یوه څپه ده او د روڼو روڼ څپو ته اړتیا لري چې پر څلورمه یې خج ځای ونیولای شي او له مخکې وروسته سره هم نه شي ملګری کیدای، په دې مانا چې له یوځای کېدو یا یوځای لوستلو سره یې هغه مسرې خپل څپیز انډول او وزن له لاسه ورکوي.

مګر «چې ...» له وروستۍ توټې «زه او ته» سره یوځای کیدای شي او ور سره څلور څپیز مسره جوړوي، داسې چې څلورمه څپه د دغه شعر له ټولیز وزن سره سمه خجنه راځي، په بله وینا «چې ...» نه یوازې زخمه یا ویارنه ګڼل کیږي بلکې د یوې یوازینۍ مسرې رغنده توک (متشکله جز) دی او هسې شاعر د خپلې سلیقې له مخې له آرې توټې څخه جلا کښلې ده. د کاروان د همدغه اثر په یوه بل ازاد شعر (۱۳۵ مخ) کې چې د هغه پیل څوندی پر څلورمه خجنه څپه پیل سوی، د «وطن مې» توټه «زخمه» بلل کیږي:

وطن مې
دامریکا په زهرجنه توره
زخمي شو او په وینو ککړ

وطن مې

دا قهرمان او غيرتي وطن مې

د (لوى شيطان) د نيو نګو نو په اور

دسرمايې په سوزوونکو لمبو

سوی ستې شو لکه سوی وېتنام

که دلته يې په «وطن مې» پورې يو څو نور څپې نښلولې وای، لکه «يا»، نو يو څپلوا که سره کېده او ټول يې له ټول شعر سره برابر يده.

د همدغه شعر د وروستي بند په سر کې (خو...) هم زخه پالل کېږي:

خو...

دا سوزېدلی او زخمي وطن مې

وروستي پل «خو...» يا له اړوند بند سره يو ځای کېدای شي، مګر دوه ځلې نور «وطن مې» يا هم «زخه» پاتي کېږي. په دې توګه دغه ټول شعر د ټول وتال له پلوه زيانمن شوی، مګر کېدای شي د څه زخمي تري هيسته وغوړځول شي، بې له دې چې پاتې شعر ته کومه ستره وته پېښه شي.

په دغه بله بېلګه کې چې همدا راز پر څلورمه څپه پای مومي، «پرېږدې!» «لکه» او «او» له ځکې وروسته تو توسره څپل څپې زيانمنول جوړوي، مګر يوازې (چې:) زخه پاتې کېږي، لکه:

پرېږدې

چې دا نا غوړېدلې غوټۍ

وږمې ته خوله پرانيزي...

لکه

پخوا په شانې

زما د پاکو ارمانو لونړ ګه

دستر توفان له لاسه وژغوري
شي پر کلک پښاخ بدله
او ،
دساړه سیوري له لاندې لهیي
شي کاروانو ته دمه ... (مواج : پامیر ۱۹-۹-۶۶)

همدارنګه د ننګیال پهدې وروستۍ ورته بیلګه کې «او» دور پسې سری توك ګرځېدلی شي :

او ،
ددې لوی دریاب په غاړه کې
دحسن پر کوز
دشنو او بود سپینو سپینو اینوده پاسه
دسرو لمر ونو،
طلایي ماهیانو ولامبلي (هغههغېبې هغه کلونه ، مخ) .

خاموش (۱۲۰ مخ کهځه هم (او) له یوې اوږدې توتې سره یو ځای کښېلی دی، مګر بیاهم (ځکه) بال کېږي او پهتو لیږدول پهځلورمه څجنه څپه پیلېدونکي شعر پهدغه برخه کې بیو زنه کوي :
(او) تاهم پههغپلواوښکو

ـ دشنړي څمکي ...

سخت رګونه ار مول

اود ګلبو تو اوبه خوردي کاوه.

د«او» په څورځولو سره له لوړی توتي ځلو اکه سره جوړ بوی، مګر وروسیدزی وارږه تو تي په ګډه یوه سره زامنځته کوي دهمدغه شعر پهځلورم بند کې «خوږاو» ترڅوڅي :» دوارې توتې نه ځانته ځانته او نه په ګډه سره کومه داسې سره جوړوي چې څلورمه څپه ولري او بیاهم

واخیستلای شي او له را تلونکې مسرې سره هم پټلېز پیدا ی نه شي، نو مسون
یې دا سې کېدای شي چې «تر» او «چې» تري وغورځول شي :

لکه:

(تر) څو (چې)،
زما په ټټر کې وینه څښه دي (ده)

مګر وروسته (ترڅوچې) کومه سرباري توته (زځه) نه بلل کېږي
ځکه له را تلونکې سره پټلېز پیدای شي ، لکه:

ترڅوچې،
سترګو کې اوښکې وچې شوي نه دي.

سرباري توټې چې له مخکې او ورو سته مسرو سره پیوند پیدا ی له
شي، په لاندې نو آرو (څرطو کې) څپلوا کې مسرې کېدای شي:

۱- که ږ ولنده توته یوه یو از ینې څجنه څپه وي او په دا سې
شعر کې را شلې وي چې لو مړی څپه یې ځجنه وي. په دې تو ګه څنګه
توته د شعر کوچنی ترینه خپلوا که مسره بلل کیږي او «زځه» له ده.

۲- که ا ږ ونده توته دوه څپېزه وي او دو یمه څپه یې څج واخیستلای
شي او بیا په دا سې شعر کې راشلې وي چې لو مړی څج یې پردو یمه
څپه وي، په دې ډول څه توته (زځه) نه ، بلکې د هما غه شعر کو چنی
ترینه څپلوا که مسره ګڼل کیږ ی .

۳- که سرباري توته د ر ی څپېزه وي او د ر یمه څپه څجنه ، او
په دا سې شعر ا ره و لر ي ، چې په د ر یمه څجنه څپه پیل شوي وي
دا ږ وند شعر کوچنی ترینه خپلوا که مسره بلل کیږي .

۴- هدا رنګه سرباري څلور څپېزه توتـه چې پر څلورمه څپه څج
واخیستلای شي او په دا سې شعرا ره ولري چې هغې هم په څلورمه څجنه
څپه پیل شوي وي، د هغه شعر کو چنی ترینه خپلوا که مسره بلل کیږي.

۵-۵-۱-۲: تولیز (عمومي) ښکلا یو تولیک ویاړونه چې دا زاد شعر په څېړنو «تمرینې» بېلګو کې لیدل کېږي :

(زه) لکــه ازاده مرغه

له قفسو او دامونو نه لوړ

بالو تم او پرواز ونه مې کړل

او د ښکاري ګوتو ته له ورتلم

. . .

(او) زه دې د مینې تور کې ښکېل کړم اخر... (خاموش ۱۰-۱-۰۲ مخ)

دغه شعر د شاعر زیاتروالی ادو بېلګو غوندې په ځلورمه څپه وېـل شوې دي، مګر د «زه» او وروستي «او» په ورزیاتولو یې په ازاد مسرو کې وزن ویجاړتیا موندلې ده، ځکــه هیڅ له څلورمې څپې څخه پنځمې ته لېږدول او لکــه پاس چې ورته څوڅـله نغوته وشوه، په هیڅ ډول پښتو شعر کې لومړې څخ له څلورمې څپې تېرې نه کوي، داچې په دغه پورتنۍ بېلګه کې «زه» او «او» په غوږ کوله ما نیوه پرله پسې تیا (انسجام) له منځه څې او څرګندنې هواک یې نه مکړې کېږي، نو «زه» ورته هم ویلای نه شو، ځکــه زه هغه ډول ویار (عیب) دی چې په غوږ کېدنه یې د شعر وزن ته ورته تاوان رسي «بالو تم او پرواز ونه مې کړل» مسره که څه هم د څپو زیاتوالي له پلوه سمه ده، مګر د «په» بېځای را تګه یې ژبنی جوړه پېښو نه کوي .

دغه شاعر په بله ازاده بېلګه کې «پهوراندې ځي» که څه هم د نورو شعرونو غوندې څلورمه څپه په څپه «ځي» لري مګر که وروستی وه، دوه یادري ناخپنۍ څپې زیاتې شي، دغه څج په نورهم بیاوړې شي، لکه واخلي «نوسبا» یاداسې نور، د اسماعیل یون: دیوه شعر

همداسې یوه تکرار په دوهمې مسره د څلورمې څپې د لا جوړتیا او پیاوړتیا لپاره لږ ترلږه نوې ملې تاڅجنې څپې ته اړتیا لري :

آره پښه :

دارو درمل غواړي

دارو درمل غواړي

سمه شوې پښه :

دارو د درمل غواړمه

دارو د درمل غواړمه .

۵-۵-۱-۳ : تولونج (وزن بدلون) داسې چې په یوه نوازیږې شعر کې ځینې مسرې په یوه وزن او ځینې په بل وزن ویل شوې وي ، لکه د پروانه دا شعر چې تکور یې ځینې مسرې موزونې او ځینې یې ای وزنه بللې دي :

سینه په څړو خاور ومږې

ګډوداله وه د پرېږو

(پوهند : مولی ، د سر بڼی «۸۵» مخ) .

دغه‌هسوار مشکروال او حنیف پکتاش په آزادو پیلګو کې دغه راز کړنې او کوږدې دیر لیدل کیږي . د هما غه یوه شعر یوه مسره په څلورمه څچه پیلوي او بله یې په دریمه ، دو یمه یا لومړۍ .

بې تولي (بې وزني) : په دغه لړ کې دغه آزاد شعرونه راځي چې ځای ځای له تولې (وزنه) وتلي وي لکه د غني د پیدایښ ، (۶۳ مخ) نومې شعر کې چې نژدې سم نیم یې تولې دی . د تولو پخوانو ترڅنګه دغه رازې تولې دغني په قافیه والو او نیم آزاد ویلګو کې هم لیږی نه دي .

په دغسې ځایونو کې چې د څپې د لاجوړتیا او پیاوړتیا اړه را

منځته کیږي ، د شپو کمی زیاتی یواځې‌زمن نهٔ لو بولای شي که نه‌تش څپېژاندول له پښتنوز و ارتیاو و څخه نه کېنل کېږي .

۵ - ۵ - ۱ - ۴ : مسرو ترمنځ دبرید تتوالی :

په آزاد شعر کی کله کله د مسرو بریدونه په اسانه نه‌پېژاندل کیږی، لکه د ګاوون په لاندی تو ته کی :

تن په سی اورونه راوړی
سر په سی شورونه راوړی
وینی پسی سری شی
داسری وینی په ګلونه راوړی
بیا به نود اسره ګلونه
ستا مینه ژوندی‌و ساتی
ته به رانه هیرو نه‌شی (سپرلی ۹۰ مخ)

که دلته ځلورمه مسره له‌دریمی سره یوځای ونه لوستل شی ، تول یی‌سم نه راځی یا په بله وینا څپلوا که مسری کیدای نه‌شی.

همدا راز د ننګیال په پیغام نومی (۱۰۵ مخ) شعر کی د سرو بریدونه پېدی تت ریښی چی جلاژ بنی (ګراسری) پوالی ور سره سمون نه لری :

شپه بیا ،
په څپلو تورو وینولاسبی
ساحل ته ورته د شپو شپو
سفرنو پېری
اود ځنګله ،
په هنوږ مو کی
د زیتونو لیالګی
دلمر باران ته
د بلبلو

پېغامو له لېږ (د) ی.

دلته لومړی دوې ټوټې سره هم د وزن له پلوه یووالی جوړوی او هم د ګرامر له پلوه ځکه یوه غونډله (جمله) ده. مګر دریمه او څلورمه ټوټه سره سره یوازې وزنی یووالی جوړوی او ګرامری نه، ځکه نابشپړه غونډله ده. همدا راز وروستی دری ټوټې هم د روا خله. وروستۍ دری ټوټې بیا البته د لومړیو دوو ټوټو غوندې هم وزنی یووالی لری او هم ګرامری. له همدغه کبله د ډېرو لوستونکو ته چې له نوی شعر سره نا بلده یا نا بلدی دی، د غه بړیدونه سره پېلولای نه شی، نو له دی کبله یې سم لوستلای هم نه شی او د بې وزنه شعر په توګه ورته ګوته نیسی. همدا بړیدتتوالی دی چې انځور په خپله سریزه کی د فرداد هوروسته شعر د وزن له پلوه ځانګړی ښوونی دی:

شپو لکیه وخاندهاو
په وخاند.
خانده ورشو کی له رموسره دی
چې پسرلی کی یه شپو لکیه
د ختلداورځی دی

که نه په دغه ټوټه کی د وزن ځانګړ تیا هېڅ نشته مګر دا چې په لیکنه کی یې په ښکاره توګه بړیدونه سره لت بېلې، ښایی د ډېرو لوستونکی په شك اوارنکك کی و اچوی. هسی خو په لوڅېر سره لیدای شو چې دغه شعر ټولی دری مسری جوړوی، لومړی خج یې پرڅلورمه، دویمه یې پرا تمه او دریم یې پر دولسمه څپه راغلی.

که ازاد شعر بېر همدا اسی ورځ پر ورځ پرمخ ولاړ شی بیا کیدای شی دغه بړید تتوالی، کوم تتوالی و نه ګڼل شی. البته همدا لاسه هر ازاد شاعر ته په کار ده دېلا پېلو شعری ټوټو په اودن کی پوره پام وکړی او د پره پېلتیا یکی رانه وړی.

د خزان په یوه تازه شعر کې کله الاندې درې توتې سره ګډې کړی شي، نو یوه مسره بدلیږی او په دې توګه یې وزن نی نیمګړتیا یې هسته کېږی:

ستا د هر نثر د الفت و یسی

(او) ستاد یاغی ستونی دچغو فریاد

(د) یوې لیږزی لهشا

که دغه درې واړه توتې سره پر یوه مسره بدلی نه شي، یوازې لومړی مسره خپلواکه مسره یاتې کېدای شي، او وروسته توتې د «او» او «د» له کبله خپږه ویجاړتیا را منځته کېږی او وزن له لاسه ورکوی. دلته داسې برېښي چې شاعر درې واړه توتې جلا جلا مسرې ګڼلې دي، که نه لږ تر لږه یې د لومړی توتې پای ته زنګنې (ویرګول) نه کېښو او دغه ځای یې «او» ته ورکړی وای او یا خو یې دغه سرباری خپه ځانته کښلی وای، همداسې د دریمې توتې سرباری خپه «د» هم در واخله. هر کوره دریمه توته په یوه بل چم خپلواکه مسره کېدای شي چې «یوې» په ورد ګی ګردود یو خپیزو کارول شي او ولوستل شي.

د همدغه یوه شعر دوې نورې توتې هم د شاعر له خوا د زنګنیو په کارونه جلا جلا مسرې انګیرلې، حال دا چې که دواړه د یوې مسرې په توګه یو ځای ونه لوستل شي، یوازې لومړی توته خپلواکه مسره کېدای شي او دویمه هغه بې برخلیکه پاتې کېږی.

د کاوون د «سپرغۍ» په یوه شعر کې چې په څلورمه څپه خپه یې ل موسي، یوه دوه خپیزه توته «هغوی د» د ری ځای د یادونو په سر کې راغلې، بې له دې چې خپلواکه مسره ورله وویلا شواویا یې له لورو مسرو سره ملګری کړای شو، همداسې بې برخلیکه پاتې کېږی او د

(زغې) په توګه یې څو رغونه هم ژبنی ځرګند تیاو یچا روی، په دې دول شاعر باید هغه دسرلیك «هغوی څپو کسه وو» په پښپړه بڼه کار- ولی‌وای ، لکه څنګه یې چې یوځل د پای بند په سر کې همداسې کارولی هم‌دی . په دغه بېلګه کې یې «نر» یا هم «زغه» پلل کېږي، کله څه هم په څورغونه یې متنې برله ښښتیا (انسجام) پوځه ویچار تیاموسې نـو

ماته له هر څه ګران دی

زه یې نمانځنه کوم

دزیار ایستونکی در در یدلی انسان (کاوون : سپرغی ۱۲ مخ) .

دېشپړ ازاد شعرمانا داده چې شاعر پر ځان باندې په لوی لاس قافیې بندیزونه لګوی او یاهم دموزنې شعر غوندې دېلا بېلومسرو څپېز برابری ، که‌ نه په نا اګاها نه یا په پله ویښا په نـا ویلاریـزه (ځیرارادی) توګه یوه، نیمـه همځپېزه او قافیه و اله مسره کوم ویا رنه کنول کېږي . کله کله یوازاد شعرد ی لپاره پر یوه قافیه وال بیت یا څومسروپای ته رسول کېږي چې شاعر غواړي خپل پیغام او یا څوښتنې ته لوستونکی بېرته را وګکوی اوله‌دې سرمسره د ټول شعر ای ګچه پېچلتیا اوپو پلتیا یوځه بر بڼه ګرای‌شی، لکه:

... یود هېلو دبریو پسرلی په‌توګېدو دی

پرلمنو ، ښارونوړ ګو

هدیرو، غرواو سېرو کې

یو‌ سور پرك دسرو غاتو لود رپیو

یو‌ بهیر د ښاځلمیا نود جند ودی!(اورا وونې ۷۰-۷۱مخ)

چوره پسونه پېلاس د ګرد ا کیانو

د «ناپاک» له «کډراپاده»
د «چینی - امریکنی مسلما نانو!» (هماغه اثر ۸۱ مخ)
... هو،
هیڅکله شوی نه دی
هسی شان ناشونی کار
چی په یو گل پسرلی شی
ټول جهان پری گلالی شی؟! (هما غه اثر ۹۱ مخ)
... یوه ځنده د جنت د نورانی اهور ایانو
یو ځنده د دوزخ د طاغو تی اهریمنانو! (هاغه اثر ۱۲۵ مخ)
... له بی امانه پاڅو نو نو سره
له سرو پا تکیزو غو رځنگو نو سره! (هما غه اثر ۱۴۱ مخ)،
... چی سکنی له خپلو سرو شهید و وینو نه کفن خپل،
او پروی ځان په زمزم در نواو شکو د وطن خپل!.
(هماغه اثر ۱۴۹ مخ).
... زه به هم خلکو سره خاندم ترانی به لیکم
د خپلی مینی د دردو نوا فسانی به لیکم (کاوون: سپرغی، ۱۰۱ مخ)

ه ـ ه ـ ا ـ ه: «غیرارادی» قافیی، هر وسرو ټول قافیی ځانګر تیاوی نه لری او کیدای شی یوازی ردیفونه یی ځای ونیسی. په آزادو شعرونو کی کله کله داهم پیښیږی چی د سریوه برخه پابند پای ته بیارا ورل شی یاد لوستونکی او اورو ونکی له خوا په خپل سری توگه تکرار شی. دغه کارنه یوازی و یار (عیب) نه گڼل کیږی چی شعر لا خوندو روی او اغیزه منوی، لکه:

تیریه شی
دامنی نور
راپه شی

ځړ مڼی نور ...
و په چلی سا
په سرور کو کی
د ګلپا نو
د سرو ګلو
د ګلپڼ
دبرم ویلاړ زما !!! (اورا وویڼی ۲۳-۲۶ مخ) ،

دغه را ژتکرار داز اد شعرد هربند په سر یا پای کی هم دود لری ، لکه :

ښه دی وینم ...
ښه دی وینم ...
ښه دی وینم ... (هماغه اثر ۹۷ - ۹۸) ،
مه سیزی ...
مه سیزی ...
مه وژنی ... (هماغه اثر ۱۲۹ - ۱۳۴ مخ)

همدا رنګه دهر بند په سر کی ځینی وړی وړی توتی تکرارول پو څوره دوددی ، لکه پری ! پرېږده ، اوه ، نخو ، وری ! ، راشی پیر ته راشی ...

۵ - ۵ - ۱ - ۶ تکرار او کرشیږ لوځا (ابتذال) ، په دی مانا چی پواز ادشعر باید له ژبنی ، هنری او منځپانګیز پلوه له هر از کرغیړ نتیا وژغورل شی ، جاج او جولی (مفهوم او مشکل) هسی بی ځایه تکرار له کرغیړ نوزړ و کالبیو نظمو نو سره دنوی ازادشعر برید او پوله بېلوالی نه شی . په نوی از ادشعر کی تل پر دی ډېرزوراچول کیږی چی لومړی د ژبنی او هنری جولی او بیا دمنځپانګی

ترمنځ د بشپړې دیالکتیکي سمبا لتیا له مخې پر هر ژبني توک اوآر (نورم) ، انځور اوخیال ما نیزاوو لو لیز (عاطفي) اړخ پوره پوره څورو شي او دچا خبره پو ټکي هم بې مسو و لیته و نه کښل شي .

د ازاد شعر لاروي باید تر نورو ز یاته پاملرنه او کره ژبه ولري او تل یکي سم څورچاڼ (گلچین) وکړي . او پرځپله لنډه لنگه گړدو دي پښتو بسیا پاتې نه شي . نه یوازې دو یېو زوله تکرار ډډه وکړي بلکې له معیا ري ، درون و ینگو ، بد لگېد و نکو او بد آهنگو هغو څخه هم باید تل ځا ن و ژغو ري .

په کر ځېدونو (مبتذلو) بورو یېو نو کې یوازې، حسن وعشق، هجروهجران وفراق، وصل ، و صال ،وصلت،دیدن، دیدار نکار، گلبدن، گل اندام ، دلارام ، صنم ، پری،محبوب ، محبوبا ، شیدا ،معشوق یامعشوقه ، عاشق ، عشاق ، جگرخون ، خون جگر ، چشم ، چشمان ، رخسا ر ، زلفې ، کاکل ، گل وبلبل ، لاله او سنبل، جانان ، دلبر ، دلدار ، یاردلازار،خرام ، نازوادا ،نخري او کرشمې ، جفا ، اووفا ، مجنون او لیلا ، پیمانه ،جام ، شراب ساقي ، قاصد ،ربیار ، رقیب، غماز ،مې، میخانه ، بتخانه میکده خمار ، نشه ،اوداسې نورو ر ته و یېونه راځي چې له پېړیو پېړیو را هیسې یې پري غربي ، پارسي ، پښتو ، اردو .. شعرو نو شخوندوهلی او نوریې خوند با یللی دی ، بلکې اوسني علمي - تخنیکي پاسیاسي ژور نالیستیك ویېونه لکه ماشین ، کمپیوتر ، کنفرانس ، فابریکه گاډی (موټر) ، تیلفون ، تلگراف ، حکومت ، سیاست ، قانون ، اقتصاد ، تجار ت، کوز ، دوډی ، کالې ،تولید ، صنعت ،سپورت ورزش پاد جغرافیا یې نور ، لیکلړ(لست) اوان د کار گر ،انقلاب اوبتون ، پاڅون ، غورځنگ جنگ اوسولي،دیمو کراسي ، پرولتاراو

پرولتاریا، تولنه، خدمت، خدمتګار، پرمختګ، ترقي، ابادي میړاني، غیرت، پت، ننګ و ناموس، پښتون، پښتو، پښتونولي پښتونواله، رښتینولي، وروري، برابري، کتاب، پوهې، پوهنې لیك ولوست، مبارزې، وطن، هیواد، ولس، ملیت، تبر، (لویې) جرګې غونډې ژوندانړي او کتور ویپو نه هم د نوي ازاد شعر له ژبې سره کوم ارخ لګولای نه شي، په نوي ازاد شعر کې چا یې دغه تول چاچونه (مفاهیم) ځای و لري مګر یې له دې چې په همدې نوسونو (لفظونو) یې یادونه او څرګند ونه وشي د سولې او انقلاب شاعرانه ستاینه به همداوې چې سمبولیزه انځور یزه او اناسطوره یې جامه وراغوستل شي، نه داچي پخپله همدغه ویپونه کټ مټ راوړل شي.

لوړه او دا نګ پیلې ژبه یوازې ناستو و ګړنیو ترګنو، زیار کښانو او دښوو نخیوا و د لیك ولوست دزده کړو څیود نظمونو او ترانو لپاره کار یدای شي یالبوترلپوه ساده ولسي اهنګونو لپاره چې هم داړوند ونالو ستویا نیم لوستو سندرغاړو ته دسهنې وړدي او هم همداسې اوریدونکو ته

نوي ازاد شعر د مبارزې او پاڅون، شهیدو قرباني یا جنګ و سولې لپاره دسرچانونو پهیرو له، دغا تولوا و رید یو سره بیرغونه، شنې هېبې، اوراو وینې، دسرپو او پولاد و ویلو بونه او دباروتولوګې یا په بله و ینا د لمر پسید وسپا او رڼا سمبولونه پر کار اچوي.

مګر دغه سمبولونه هم که دیرو کارول شي او ژور نالستیکي او ګړنې ژبې ته لارپیدا کړي، بیانو خپل سمبولیك یا انځو ریز او شاعرانه نوښت له لاسه ور کوي او بر عادي ژبه بدلیږي، لکه واخلي

«کوتره» چې د سولې د سمبول په توګه یې ان سپا خپل لو سړ نی سمبولیک هنري چاج له لاسه ورکړی دی.

د نو میالي انځورګر پیکا سو د «سرې کوترې» انځور هماغه لومړی ځل خپل چاد ویی اغیزو ښود، هغه هم د «سرې» د نښا یتوم په ملتیا مګر را و روسته ورته نه په انځورګری کې کوم هنري سمبو لیک رنګ پاتې شو، نه په شعر او نورو هنرونو کې.

په دغه لاندې ازاد شعر کې (د سولې سولې) پر له پسې راو ړ نه ډیره بې خونده بریښي، ځکه تش وزن یې پری پوره کړی دی:

... او س روان شوی یو ځو
له سر و ګلو نو سره
د سر و ګلو نو په لور
د سولې سولې کورته
د سولې سولې ښارته...
د سولې، سولې وراته
د سولې سولې خواته...

خالق رشید: ګلپا نګهایی برای صلح و سپیده
(۸۲-۷ مخ)

په ازاد شعر کې باید ژبنې رنګا ونګې هیڅکله هېر ه نه شي، زما په اند په دغه لاندې بیلګه کې را غلې تکرا د و مره خو ند ور نه بریښي

او س زما د وطن کانې
او س زما د وطن بوټې
اوس زما د وطن ښرونه
هم سیندونه د وطن سی...

فردا: د ګلپا نو برخې، ۱۲۷ مخ)

محبوب سنګر په قافیه والو، از ادوا و نیم از ادو شعر و نو کی
د تول پوره کولو لپاره له غبر ګو ن او تکراره ډیر کار اخلی

... داتور راغه داتور راغه...
داپرموږ پوردی پوردی..
(محبوب سنګر: زوږ ۱۰۷-۱۰۹ مخ)

...سینده سینده کونړیه ...
راتاو یږه راتاو یږه..
وغړ سیږه وغړ سیږه
مه چو پیږه مه چو یږه
ته دی زړه خوره ته دی زړه خوره
ماتوه یی ماتوه یی
ورا نوه یی ورا نوه یی
نړوه یی نړوه یی
چیرا ویش شی چیراو یش شی... (هماغه اثر ۱۱۳-۱۱۵ مخ)

.. همک سپیځلی او تک شین و
او تک شین و
تک شین لمر پکی ورا نګین
او ورا نګین و ...
بی رنګیني وی لمنی
او لمنی ... (هماغه اثر ۱۱۶-۱۱۸ مخ) .

شکلی غبر ګون (تکرار احسن) البته کله کله د از اد شعر عاطفی
خواږ یسر. پیاوړی کوی او لا زیات را کښون وریښي، لکه:
...و خندی ځانګونه سو
ورا نیزی وزرو نه سو

والوزی را رالوزی... (اوراو وینې ۸ مخ)،
... و تره ده
نن وتره ده
دذهن کرو نده زماه. (خزان: دسحر په غیږ کی ۴۸ مخ)
... بارانه وو ریږه، وو ریږه
چې سا رایې کلونه
دو چکالی شپږو ورژول
او دغوټیو هو ندې
دمرو تنګا کو په ځولیو کی تا لونه وهی.
بارانه وو ریږه، وو ریږه. (ننګیال: هغه شپې هغه کلونه ۳۸-۳۹ مخ)

بې ګچه ساده ګی او بربنډ تیاد نویواز اد وشعرونو له ځانګړ تیاوو څخه ده کښل کیږي، دغه ځانګړ تیا په هماغو قافیه وال و نظمونو پوری اړه لري چې ددغې پوهې له پیله یې تر اوسه پښتو شاعري د کرغېړ نتیا (ابتذال) تر بریده رسولې او دا وسنی ازاد شعر غورځنګ هم له آره دهغو پرضد را منځته شوی دی. دازاد شعر لا رویانو هم زیا تره له هغه داسې ساده نظمونو څخه راپیل کړې ده او د چاخپره د هغو ساده نالوستو وګړولپاره یې خپله ونډه ادا کړې ده. نو ربه بایدځان او پښتو شعر دودی او پر مختیاار تیا هم پام کې و نیسي.

۵-۵-۱-۶: ناکره ژبه، نوی ازاد شعر د یوه کره شعر په توګه باید تل له کره ژبې سره کارولری. هسې خو تولیز ادب یو ژبنی هنر دی، دا مانا چې که دساری په توګه د پژسازی (پیکرسازی) او مه لوکی شکه، ګچ، ډبره، سمنټ، لرګی، فلز.. دی او یا دانځور ګری هغه رنګونه دی، نو دادب هغه ژبه ده. په دی توګه د شعر اومه توکی هم د پژسازی یا انځور ګری هغه غو ندی یو بی ساخیزنه

دی ، بلکې ژبه هم پر خپل وار یوه ژوندۍ پدیده ده او د هر هنر غوندې د انسان له ذهني ذوق سره نه شلېدونکې اړیکې لري ، یا په بله وینا د ټولنیزې اګاهۍ یوه بڼه ده او د پېژندنې د تیورۍ له پلوه د انسان د اندېښنو لپاره لوړترین پوړ پورې اړه لري. همدا ژبه وه چې د یوې مادي استرې په توګه یې انسان ته اندېښنه (تفکر) کې مرسته وکړه او د چا چونو (مفاهیمو) اړتیا یې ور کړه کړه له دې کبله هغه چلند چې د نورو هنرو له اومو توکو سره کېږي، د ادب له توکو سره یې په هر ډول توپیر لري. ادبي ژبې ویالو ته پکار ده په ژبه باندې هماغومره لاسبری ولري، لکه څومره چې ورته پر ادبپوهنه او اړوند و تخنیکي پوښتنو اړین (ضروري) دی . په تېره د شعر ژبه خو تر نورو ادبي ژانرو څخه لوړې باید ډېره پراخه ، پخه ، پښوره ، ټکه او کره اوسي او بیا کیفیکلي خوند وره او اهنګینه .

دغه لاندې مونږ ډوله ازاد شعر زیاته ګردو دي بڼه لري او بېلګې تو ګه ژبه نا کره والی رامنځه کوي لکه د «د» او «له»، «نه» او «څخه»، «کړلو او «کړ» ... سره ګډول یاد او ښتي او ناوښتي پېرونو (اصلي او مغیره حالتونو) نه توپیرول یا سربلونه غورځول او داسې نور :

ما د پټمن بزګرنه
ما د ښاري جوالي نه
ما د سپین غرله څپو نه
ما یو زیار کښ کارګرنه
ما د هیواد زلمي نه
ما د شهید له مورنه
داسې تپوس وکړلو

چې ژوند کې څه شي غواړي
دا مرګ او ژوبله ښه ده
کډ وکړو سوله کې ژوند
ټولو دا یوه چغه کړه
جنګ دې وي ورك نړۍ کې
موږ نور هیڅ نه غواړو
سوله دې وي نړۍ کې . . . (افضل ټکور : ګلپانګهايي براى
صلح وسپېده ۹۸مخ)

د ګړ دودي پښتو یوه بله بېلګه :
دعقاب پنجو کې کبنوزی
دا دنړۍ بام به
دهیچا پښو کې پرېنوزي ... (خاموش: منزلونه او منزلونه ۹مخ)

«دلته کښې له ونې» ، او « په پښو کې» باید کښل شوي وای.
دفاروق فراد (دګلپانو پرخې) په ازادو بیلګو کې ځای ځای
ګړدو دي او سیمه ییزه پښتو را څرګندېږي او په دې توګه شعري
جوله څه ناڅه پېخونده کوي :

« نړیږي» دوه ځای (۷۲ مخ) په همدې لیکدود ښه کښل
شوي دي. یا «شولي د« شوي » پرځای په ۹۲ ، ۹۳ او ۱۷۷ مخونو کې
همدار از «څکم » د (څښم) پرځای په ۱۲۹ ، « بچولي د«مچولای»
او « نیوي » د «نیوای پر ځای په ۱۳۰ مخ کې . هودله (۱۳۴ مخ)
او هغه هم «له ښکلایي تازه ګې ښو دله » غوندې دري دوله چاپير
يال کې د شاعردېروهڅېدلو شعرونو ته زيان رسولی دی .
اسحق ننګیال (هغه شپې هغه ګلونه ۱ ، ۱ ، ۵ ، ۹۹ مخونه)
د نورو لغمانيو شاعرانوغوندې د ښوپر تير مهال دریم بوګړي وګ

(د مطلق ماضي دریم مفرد فعل « ـ ي » پای ته رسولي ، لکه « و لا مېلې » په دې کړ دو دی پښتو سره شعري ژبه زیاتوي

ژبې سپېڅلتیا هم د نوي ازاد شعر په ځانګړ تیاوو او نوښتونو کې راځي . دلته دا ضرور نه دی چې بېخي ته پورو ویونه او هغه هم لکه پاس (۳ - ٦ - ۴) یې چې یادونه وشوه ، کرغېړن (مبتذل) ویونه وکاروي ځکه کوم د څپېز انډول او قافیې ـ ردیف بند پروونه یې په مخ کې لشته او په امرنه (انتخاب) کې پوره ازادي لري . وګورئ په دې لاندې بېلګو کې نا پښتو ویونه څومره ګچه ښکاري:

یارانو ګورئ
له قندي مرمه
د ساقي خوا کې
د مینا څنګ ته
هېڅ نه پوهېږم
دا ویرانه ده که میخانه ده !
خوا به حرام وو
ترخې او به هم
په ما حرام شوې
بده قسمته . . . (ځزان : د سحر په څپو کې ۱٦ مخ)

. . . د خپل جانان په نظر
څو د باران څاڅکي دي . . . (هماغه اثر ۳۱ مخ)
. . . د پسرلي د مجنون په د ګلزارونو په شان
قد پورته کړی دی آر هسکه پوری
د درناوي او عبادت په عنوان
دیو څو پاکو مومنانو په څېر

ستا دښایست پښو ته
دتعظیم سردی ټیټ نهولی در کوع په ډول
چې نه دسر پورته کیدوتاب لری
او نه په (پر) ځمکه دخپل سرد ایښودلو قدرت
څه ښکلی پاك یادونه!
څومره سپیڅلی مقدس عبادت!
کاشکی چې ستا دحسن
دمغرور خیال دربار کی
شی مستجاب او قبول ! . . . (هماغه اثر ۵۷-۵۸ مخ)
-دلته دپیریو دسکون او انجماد
- په ضد
لام دی تړل شوی او تودی
را پاڅیدلی دی
«دلته دزمانی او ښتون
- په مکانو نو کی
ټولی زړی باری ،خالی باری
نړیدلی دی»
خلك راخلاص شوی دوهمونو
له طلسم نه
اوس چې له ستم اوجهالت سره
وداع کوی ...(خاموش:منزلو نهاومنزلوته ۱۰۹-
۱۱۰ مخ) .
که څوك وغواړی ډیر کرغیړن (مبتذل) ویونه له کرغیړلتیا
(ابتذال) څخه وژغوری ،یوه لاره یې همداوی چې نکه پښوالد

ولونه ورته وګورئ، لکه د وطن پر ځای هیواد او د هیواد پر ځای ټاټوبی، خاوره، مینه یا اوبجه، د هجر، هجران، فراق پر ځای بېلتون یا جدايي، د صنم معشوق، محبوب، محبوبه، دلدار، نګار، ګل اندام، دلارام، جانان ... پر ځای ښکلې، ګلې، مینه وړې، زړه وړې، زړګوټی، زړګی، ګرانه یا ګران، مینه، ګلمخې ... د عاشق شیدا ... پر ځای مین، لېوال، ژوبل، نیمه خوا ... د مجنون او لیلا پر ځای، شهي او شهو یا ادم و درخو د نازو ادا پر ځای ګنج و مکېز، د جفا کار او ستمکار پر ځای بې لوره، بې مینې، د خلک پر ځای وګړي، د قاصد پر ځای ځري، استازی، د پیمانې پر ځای اړی، د زلفو پر ځای څڼې او کوڅې، د حسن او جمال پر ځای ښایست او ښکلا، د عشق و محبت پر ځای مینه، لېوالتیا او داسې نور بې شمېره وییونه. دا زاد شعر له انګېزو او پیاګټو څخه یوه دا هم ده چې د کرغېړنو او زنګ خوړلو قافیو او ردیفو کړیو ترڅنګه کرغېړن وییونه تر نګونه (ترکیبونه) او انځورونه هم نور د تاریخ ارتیالځي (زباله دان) ته ورغورځول شي، هنري او اندیز (فکري) نوښت یوازې په ژبه کې نوښت سره رامنځته کېدای شي. د همدغه تینګې دیالکتیکي اړوندي له مخې په سبکپوهنه او کره کتنه «ژبـ ـښکلاییز» او (ژبـ اندیز) نوموني نوې دود شوې دي (پواخیم بیز: کامپرسوو کل ۵۳-۷۷ مخ) دا مانا چې د یوه ادبي اثر په کره کتنه او ارزونه کې ژبه او ښکلا او پیاژبه او اندیزې منځپانګه (فکري محتوی) سره همزمان او پرتلیز ترڅېړنې لاندې نیول کېږي، ژبنۍ اړخ او هنري اړخ او بیا ژبني اړخ او اندیز اړخ یو له بل څخه جلا جلا څېړل یوناشوني کار ګڼل کېږي ځکه هیڅ داسې هنري انځور نه وي چې بې ژبنۍ څرګندونې هستي ولرلای شي او همدارنګه په هیڅ داسې اند (فکر) نه وي چې بې د ژبې

له مرستې څرګندېدنه ومومي، پر همدې آر يوازې، نګه او ښکلي ويېونه کولای شي، نوي، نګه او ښکلي ادبي انځورونه او پاخه اندونه او خيالونه څرګند کړي. په دې کې هم شك نشته چې پياوړي تخيل او تفکر هم پر خپل وار کولای شي، له خورا ساده او کرغېړنو ويېونو څخه خورا نو ښېګړانه ښکلي او زړه راکښونکي ادبي انځورونه ورڅوي، مګر کېدای هم نه وي او هغه هم نه، بيا نادا چې هم ويېونه او نور ژبني توکونه او آرونه ښکلي، نګه او معياري نوي او پياوړي تخيل او تفکر هم نه وي، نو هرومرو کرغېړنتيا (ابتذال) رامنځته کيږي، ژبنې ښکلا او سپېڅلتيا يا په بله وينا ژبني نګه والی، نويوالی او پخوالی کولای شي، لېتر لېره دهغو جوړي کرغېړنتيا راتېټه کړي او د چا خبره يوڅه ادبي خوندي لوور کاندي.

وګورئ، دغه وروسته ازاد شعر په يوه کرغېړن بوړ و يې «صنم» سره انځور يزراکښون او اند يز نوښت زياتمن کړی نه دی؟

ستا خبرې مې

ـ د ذهن په کوڅو کې ـ

د انګړی غوندې خپرېږي ،

ـ تکرارېږي ـ

ته چې يو ځل

ـ مينه ـ

ياده کړې صنمه!

نو غبرګون يې اورم :

مينه ، مينه، مينه... (خاموش : مزلونه او منزلونه، ۱۲۳ مخ).

پاد «جانان» غوندې يو بل کرغېړن بوړ و يې په دغه لاندې شعر کې څومره په غوندې ور ښيي :

زما د سترګو اوښکې
چې مې د زړه وينې دي،
د خوږ «جانان» په نظر
څود باران څاڅکي دي
اوښکې نه دي.
او بيا کومې اوښکې توی کم؟
چې د «جانان» په نظر
د باران څاڅکي نه وي! (خزان: د سحر په څير کې ۲۱۴ مخ).

په يوه بل از اد شعر کې چې نوم يو «روين» هم راغلی، هغه هم لکه «سکوت» چې په پښتو شعر کې لاد و مره ډير کاريدلی نه دی، د لوړ خيال اوژور فکر په مرسته بيا هم دومره په زيان پريوتلی نه دی او بوره باوردی چې څنګه پښتو انډول «چوپتيا» يې لا نوښت زيات دی، هغه دار از «پر واز ورکوم» د روا څله:

زه د تر څه «سکوت» ډ ډره له شانه
زه د نا کامو ار مانونو دا پرو له څنګه
دوير و ونکو تورو شپو په زړه کې
د شعر کې تروته «پر واز ورکوم»
زه سکوت نه پيژنم
زما د شعر ژبه سکوت نه مني
زه په د شپې څنګل په ستورو با ندې وولم
څوچې «سکوت» مات شي
څو چې تياری و تښتي
څوچې رسوا شي په څنګله کې.

خوروونکی لیوان... (کاوون: موزغی، ۱۰۱ مخ)

یا په دغه بله ازاده ټوټه کی د «سحر»، «حسن» او «دریاب» غوندی ډیر کارېدلی توروی دیوه پښاوری هنری انځور او غوری اندیزی منځپانګی (فکری محتوا) په مرسته لکه د اغزو غوندی په ګلپانو کی نغښتی بریښی:

سحر اوچت شو

د لمارولمن یی خوری کړله

او سپرلیو ورمو

ددی شیلکی آسمان په دښتو کی

په سرو منګو لو

باغ د نارنجو جوړ کړ.

او

ددی لوی دریاب په غاړه کی

د حسن په (ہر) کور

د هنو وابود سپینو سپینو ابینو د پاسه

د سرو لعزونو

طلایی ماهیانو لامبلی.. (زنګیال: هغه شپی هغه کلونه، لومړی مخ)،

او بوه داسی ټوټه چی هم یی ژبه خوږه او ګکه ده او هم یی خیال وفکر رنګین او پیاوری:

ستا پرمخ د سرو یاقوتو

د باران لړ څو څڅوا کو،

کانی زړه د لطو د سار اهم

لکه موم شو.

پرشنیو دانګیو دمهال
را وړغښتلي،
ستا د پرندو پرندو سترګو میننه ورو
دخوږیو مرغاری ،
ستا دلمر مخ پلوشو ترسیوری لاندی
لکه پرخی د ګلپانو پروږمکیو...
څه که رڼری او رارغړی
پربستر دسپاوون
دګلکڅو زما د شعر ،
ستا دسری سپینی کوکی
دخواږه خیال
سورکی خالونه،
په دواړ زما د زړه کی
جوړ دوینی اودمینی
خوږولي الحورونه !!

که نوی آزاد شعر په دی تورن کړو چی ګوندی د قافیی اوردیف په هیسته غورځوله یی له خپل تاریخ او فرهنګه سره اړیکی شلولی دی، ولی داسی ونه وایو چی په دی توګه د پښتو شعر له پښو څخه د پردی ښکیلاك زولنی ماتی شوی او بیرته آزاد شو، هو، هغه هڅی زموږ په تاریخ اوفرهنګ پوری رښتیا اړه لیسی، هغه ژبی، انځو ریزه اواندیزه خواده، لکه په پاسنی شعر کی (پرندی سترګی)، (سره سپینه کوکی) ، (سورکی خالونه) ... کانی زړه موم کوندل، پربستر... وغښتل رارغښتل اوداسی نور .

که څه هم په نوي آزاد شعر کې پر سمبولو ، انځورو او اسطورو ډېر زور اچول کېږي مګر زیاته هڅه کیږي ، لومړی ورته له ټول تاریخ او فرهنګ سره پیوند ور کړي او بیا له ګډه نړیواله هڅه سره . دا هورا او اهریمن تر څنګه یوناني زیوس ، پرومیتس یا دارا-کولا ته ځای ور کول کیږي ، د لیکوال کې « کاغذي ښامار » نومي شعر (اورا و وینې ، ۱۰۶ مخ) هغه داسې یوه بېلګه کیدای شي .

۶- څپرکی

سپین شعر (شعری اړانه)

۶-۱ : دغه نوموونه له اروپایي نوموونو آره اخیستي ده، په انګریزي (blank verse)، په فرانسوي (blanc)او الماني يې (Freie Rythmen) (آزاد وزنونه) بولي . دا داسې شعرونه دي چې وزن لري او قافیه نه او په ریتمیك ډول د ډېرو ټوټه شویو «بیت جملو» په بڼه کښل کیږي ، چې زیاتره یې حدري یا خلور رانګي لوړتیاوې لري، یې له دې چې پر پیلا پیلو بندونو باندې ویشل شوي وي . د نورو اروپایي ژبو ځوندي په الماني کې د دغه راز شعرونو پیلامه تراتلسمې پېړۍ پر شاځي . کلوپ شتوك د یوه الماني شاعر په توګه پر ۱۷۵۹ کال «د پسرلي جشن» تر نامه لاندې د یوه شعر په ورانډې کولو سره پر سپین شعر بشپړ لاسبري ومونده او وروسته ګویټې هم دغه لاره ونیوه، چې د ۱۷۷۲ کال د «ګرځندوی توفاني سندرې» شعر یې لومړی پیلکه وه. همدارنګه زدنو والس «شپې ته سرود ونه» چې پر ۱۷۹۷ کال یې ویلي وو. وروسته د هولډرلین «د راین پر ازیدې سندرې»، د هاینې «شمالي سندرګې»... د همدې لړۍ شعرونه بلل کیږي . نوچې، ریلکې ، شټټلر، ویرفیل او داسې نور هم د دغه لار

تړلی ده او ورته پاملرنه یې راړېښې دي. (اوتوپوست: داد بي چاچوتو لاسلیکې، ۸۵ مخ - لویدیځ آلمان ۱۹۷۲).

په پای کې څرګندوي چې دغه نوښت «سپین» له اوسني ازاد پښتو شعر سره توپیر لګوي، نه له «سپین» پښتو شعر سره، پښتو سپین شعر په ریښتیني توګه له اروپایي ناقافیه لي (منثور) شعر او له پارسي شعري اوزانو (طرحو) یا انځورو سره سمون درلودای شي. پارسي «شعر سپید» هغه ډول شعر بلل شوی دی چې د خلیل بن احمد له عربي عروضو (مفاعیلو) سره تړل شوی او تقطیع کېدای نه شي، بلکې د پښتو د ازاد شعر غوندې یې تول و تال د څپو او «ضربو» له مخې معلومېږي.

خو په پښتو کې لکه چې وویل شول د «سپین شعر» نومونه یوازې او یوازې د «شعري اوزانو» لپاره کارول. اوزانه یا انځور د ازاد شعر پر خلاف کوم تول و تال نه لري بلکې په ډېرو لنډو او یو دوو جملو کې یو بشپړ انځور، مفهوم او یا استوره را اخلي او فکري منځپانګه (محتوا) یې هم ډېره لوړه او په زړه پورې وي، چې کېدای شي، له یو څه ارتیا او تول و تال سره پر ازاد شعر بدل نه شي او که ارتیا هم ونه پوري او وزن یې ور برابر شي، بیا نو اړینه نه یا سپین شعر نه، بلکې ازاد شعر بلل کېږي.

د سپین شعر انځور یا اوزانې (طرحې) بېلګې:

- که د ګناه څوري
په منګول سر ولو یا کېدای
نو اوس به:
مخ د چا نو مخې وای!؟
- په تشو پښو

نه وېنا زده کړې
او نه کار ره...
که نه ترتوتی په بل ژبو ر نه وای
او تر بيزو په بل کار ړيګر !!؟

(زنداني نغمې، ۳۰ - ۳۱ مخ).

ـ ما پرېوده چې :
ستا دمخ په باغ کې وګرځېږم
اوهم ستاد سينې ګل شم !!؟

(وينه او سينه ۱۱۲ مخ).

که سپين شعر همداسې بې تول و تاله ارتيا و موسيقۍ يا لو تکل (داستاني افسانه) او يا ادبي ټوټه نومول کېږي. د ځينو ليکوالو او په دې لړ کې د محمدين ژواک د غه راز يوګڼ شعر بې تول وتاله نا پېلي ټوټې يا نه په تکلو نو کې راځي او نه په سپينو شعرونو کې، بلکې ـ که ادبي ټوټه بوژانر و مو، نو به په هماغه ژانر پورې اړه ولري، که څه هم دې يې پخپله «سپين شعر» بولي چې دوه يې سرو بوله ادعا باطل کېږي.

داچې انځور د نادر نادرپور په حواله ادبي ټوټه ګرد سره ردوي او د اروپايي شعرونو د ژباړو پښې يې بولي، ښايي دا سانا او نه لري چې ادبي ټوټه په تول او زدول ګرد سره بوژانر نه دی او په ځانګړي ډول يا په پښتو کې کوم ژانري ارزښت نه لري د دوره څرګندتيا لپاره: (انځور، زرين: شعر و نه او تالد ونه ۹۸ - ۱۱۵ مخ پورې).

۲ - ۶ : هغه څه چې په اروپايي ژبو کې آزاد شعر بولي، د پښتو له نيم آزاد و شعرونو او يا ازادو کالبونو (۲ - ۳) سره سمون خوري، لکه واخلې د غني، اجمل، لايق، زيار، پيوند، ستګر،

کاوون ، خاموش ، رفیح ... بولې شعرونه چې په خپله خوښه یې ځانته یو ډول پابل ډول کالبونه په کاراچولي دي ، هر بند یې له بوڅوالند واوبوی یادوو اوږدو مسروڅخه رغښت موسي او لږودبر له قافیو او ردیفو څخههم کاراخلي، یا یې لږتر لږه دبندونو پایلې په هم قافیه مسرو پای ته رسېږي . په اروپای نو مونه پیا دغه راز خپل څوښیو اژاد و قا ابو نو ته ازاد بیتو نه وایي : فرانسي Verse libre ، المانی Freie Verse ، انګریزي free verse

یو المانی پوه (او تو بیست ،۸۴ مخ) ددغه را زشعر پېژند ګلوی داسي کوي :

«دغه ډول شعر چې د مسر و یا تو تو او ږد و الي يې په خپله خوښه وي مګر له یو را زقافیې ا و څپېز شمیر سره ،چې ګلیرت ، لیسینګ ، ویلاند ... یې استازي دي ،را ور وسته دغه راز شعر دڅپو برا بري هم له لاسه ورکوي اوله « ازاد وزني » یا «سپین» شعر سره یې پوازي په قافیه بېلتون راغلي دي .

په پښتو کې ددغه راز « نیم ازاد و شعرو نو » بېلګې دمخه (۳ - ۲ - ۱) وړا ندې شوې .

۷- څپرکی

د پښتو شعر څلورګوني ویش :

ولسي - نیم ولسي - کره

او نوی ازاد شعر

د هرې دود يالې (مهذبې) ټولنې ادب ترڅنګه مخکې پر ګړنۍ او ليکنۍ ادب ويشنه مومي :

۷-۱ : ګړنی (شفاهي) ولسي يا وګړنی (فولکلوري) ادب د هرې ټولنې په هماغه لومړ نيوبشپړ تبايي پړاوو نواړه اړي چې ليک يې لا نه درلود خو داسې استعداد ونه يکې پيدا کيدل چې د خپل ذهني هنر وزيږوي او د نثر يا نظم په بڼه يې يو بل ته خوله پر خوله او سينه پر سينه وليږدوي او له دې سره يې زيږندوی يا ويونکی د زماني له ياده ووځي ، بيا نو دا ړوندې ټولنې يا ولس ګډ مال شي او کوم ټاکلی يوګړی (فرد) يې په خپل نامه نومولای نه شي . کله چې ټولنه د ليك ولوست پړاو ته ورګډيږي او ورو ورو ليکنی ادب وده مومي نو ګړني ادب ورسره هماغومره ورو ورو له ده لويږي او د انځکه

چې د ټولنې فرهنګي ارتيا او ادبي تنده زياتره په دادويم ډول ادب خړوبتيا مومي او ګړنې هغه يې ور سره هسې په څرمه ډول خپلنې ژوانده شتو الي ار مخ بياني او پخواني برم ورته دومره نه پاتېږي، نو څرګنده ده چې نوربي زېږېدنه هم را ټټېږي او په پای کې د خپې ټولنې د فرهنګ يو تاريخي ټوک ګرځي . زموږ په پښتنې ټولنه کې چې لا ټول غړي يې په ليک لوست نه پوهېږي ، د ګړني ادب زېږېدنه لا لږ و ډېره شته دی او په ځينو سيمو کې تراوسه ياتر پرونه يوازېنی ادبي پنه پاتې شوې ده. د ساري په توګه شل د يرش کاله د مخه د پکتيا او پکتيکا په سيمو کې د ليکني ادب څرک هيڅ نه لګېده او يوازې ولسي يا ګړني ادب واکمن و ، لکه واخلي «شېدران» چې په سملاسي (في البديهه) ډول يې له ټنګ ټکور سره شعرونه او بدلې ويلې (او يا يې وابي) او داچې نا ليک لوستي وو همداسې ګړنې به پاتي کېدلې او يا به د هرچا پرته هېرېدلې . په خوست او ځاځيو کې د دې راز شېدران د يو لړ نويو راپيدا شويو ليک لوست والا شاعرانو ترڅنګه لا تر اوسه هماغه پخواني ګرانښت او منښت لري .

ډېر ليدل شوې دی، په هغو پښتنې سيمو کې چې ښوونه روزنه لا په ټيټه کچه کې ده ، تر ډېر مختلفو سيمو زياتره ولسي ادبي ژانرونه دود لري او آن تر دې چې هره خبره يې له لنډۍ يا متل سره وي او ياد کوم ولسي شاعر له يو نيم بيت سره . په پښتو کې بيا ګړني، ولسي يا وګړني (فولکوري) شعر يو بشپړتيا يي پړاو هم لري چې په نيم ليکه لوستو شاعرانو اړه لري او له دې کبله يې ډېر نکي څرګند اوجوت وي ، لکه واخلي : زرجان، سيد کمال ، ميرا ، توکل ، ملنګ جان ، خانمير هلالي، خاطر اپريدي ، خسرو، ډېراني ، غريبي باقي بانډوال، محمدنور، محمدين، عبدالخالق ، عبدالصمد ، عيسی

کندهاري، حاجي نورا حمدفراهي، حکيم نور، بسم الله (ځاځی)، محمد حسين، سالم (ډېرو)، صنم ګل، وزير ګل، خلقي بابا او داسې نور.

«په ډېرو ورو ستو پاتې ښکلاوو کې د پېړکيل انسان پېر ابتدايي تصورات افکار او احساسات د هغه د ژوند انه د مادي او معنوي چاپېريال انعکاس دي. ضرورت هغه ديته را بولي چې ګومان وکړي تصورا و حدس ووهي و انګېري او خپلو رواني تما يلاتو ته هنري بڼه ورکړي» (کرګر: څو ادبي يادوني ٥٤ مخ).

٧ - ٢: دويم ډول ادب ليکني ادب دی، په دې ما ناچې دليک لوست او زده کړه و ار لوله خوا ز ېږول کېږي. د دې ډول کره هم دوکړني ادب پرښست ټيکاو لري، مګر له هره پلوه په يوه پرمختللې پړاو کې راځي. ليکني ادب له ټو او فرهنګي پرمختګ سره سم يو څه چټك بشپړ تيا پيدا کړي لري، له يوه مهال څخه بل ته بدلون موسي اوله دې کبله پر بېلا بېلو تاريخي پړاونو او پړاونو د لېند ي کېږي، خو په تو ليز ډول بيا پرتېر مهالي (کلاسيك) او نومهالي پېر (معاصر) ويشنه موسي. همدا رنګه له هرنګېز (کيفي) پلوه دواړه ليکني ډ و له پرکره (معيا ري) او ناکره (نامعياري) هم ويشل کېدای شي.

دساري په ډول د نوچي هم په پښتو کلاسيك او هم په اوسني ادب کې دواړې بېلګې شته او له دې سره سم ديك او متود له پلوه هم له رازرازو پښنوسره کار لرو.

پښتو شعر د ادب د يوه څوره او مثلي ژا نرپه توګه هم له دغو تولوډ لبنه يو څخه لري يا پيدای نه شي. په تېر مهال يا کلاسيك پېر کې چې زموږ د ادبي تاريخ د مځکني پېرپه نامه ياديږي، دخوشال

د پر مختللي او ژور لری شعر تر څنګه هم د رحمان بابا تصوفي شعرونه، هم د حمید او شیدا الوړ شعري اوروما نتیک هڅي اوهم را وروسته د حافظ الپوري او میا نورالله حصارکي جلال ابادي هسې تش نظمونه چې د استاد حبیبي خبره پښتو شعریې د مضمضې، استنجا او استنشاق ګڼې ته رسولي دی (حبیبي: ۳مخ). او همدارنګه په وسهال پېر (معاصر) پېرکې دواړه دوله شعرونه لرو، په بله وینا کره (معیاري) اونا کره (نا معیاري) چې د دود له مخې دې یوه دول ته «شعرونه» وا یې اودې بل دول ته «نظمونه» او بل ویلای «دو دیز وال» او «نوی ازاد» یا پسه لنډه و پنا «قافیه وال» او ازاد شعر دی.

۷ - ۳: دود یزوال هغه شعر دی چې د زړو (کلا سیکو) شعرونو په لاروې په پېلا پېلو وزنو او، قالبو نو، قافیو اورد یفونو بل کېږي چې دا هم پرخپل وار له هرنګیز (کیفي) پلوه په نا کره (نامعیاري) او کره (معیاري)، په بله وینا پر نظمونو «او شعرونو» ویشنه موسي او له دې سره یې ویو نکي هم پر «ناظمانو» او «شاعرانو». خوزما په اند لومړي دول شعرونه او شاعران «ولسي دود یزوال» یا «نیم ولسي» ومول غوره بریښي.

۷ - ۴: ولسي دودیز وال او کره دود یزوال یا په لنډو نومو «نیم ولسي» او «کره» شعرونه او شاعران په اروپایي نوښو نوښته کې هم د نوي او ازاد شعرو شاعر په وړاندې ګارول کېږي مګر ولسي دود یزوال وګړنی (پاپولر) بو لی. دا چې ولی دی په پښتو کې «ولسي دودیزوال» یا «نیم ولسي» وبلل شي، لاسوندیې دا دی چې هم «ولسي» ځانګړې تیاوې لري اوهم «کلا سیکې» لکه په لاندې دول:

۷ - ۵ له ولسي (ګړنی، وګړنی یا فولکلوري) شعرسره د ولسي دود یزوال یانیم ولسي شعر پر تله:

۷ - ۵ - ۱: له ژبنی پلوه دواړه دوله ساده ګړنی (محاوروی) او ګړدودی (لهجوی) رنګ لري داسی چی بی لیك ولوستونه او نیم لیك لوستونه یا په بلهوینایی زده کړي او کم زده کړي ولسی پرګنی پری پوه پوهیږي.

۷- ۵- ۲: نیم ولسی شعر د زړو کلاسیکو «دیوانی» شعر و د ډېرو ترڅنګه ولسی کالبونه او تول وتال هم ډېر کاروی او له دی پلوه هم دعا مو ولسی پرګنو خوښیږی او هم ورسره ولسی (نالوستی او کم لوستی) سندرغاړی لیوالتیا لري، څکه دهر دول (غزل، مقام، لوبی، ټکۍ، داستان، چاربیتی ...) موسیقی آهنګ (کمپوز) پیژنی او سورو تال یی په اسانه پیدا کولای شی.

۷ - ۵ - ۳: دبدیعی یاهنري اړخ له پلوه نیم ولسی شعر (که ویی لري) له ولسی هغه سره ډېرور توالی لري او کله کلمه یی بیخی دکاپی رنګ لري. انځورونه یی له ساده او بیاځلی (تکراری) تشبیه ګانو تیری نه کوی او له خولنی وتنګو یو نو څخه کار اخلی لکه: حسن، ښایست، عشق، عاشق، معشوق، مینه، مین، یار، دلبر، دلربا، خوبان، اشنا، بیلتون، هجر، هجران، فراق، جدایی، مخ، یا رخو، اننګی، رخسار، ګوشی، څڼی، زلفی، زلفان، زلفانی، وربل، کاکل، سترګی، چشمان، بانه، مژګان، وروځی، آبرو، خوله، شونډی لبان، خولګی، بوسه، نازو ادا، کرشمی، نخری، مکیز، وصل وصال، د بدن، کلی، کوڅه، ګودر، منګی، پلو، سالو... چی البته دغه ویونه او انځورونه له دیوانی هغوی سره هم لیو ډېر ګډون لري.

۷ - ۵ - ۴ پدانګه او منځپانګی (فکرومحتوا)، ارمان او پیغام له پلوه له ولسی هغه سره ډېر نژدی والی لري. که څه هم ناګاها له

شاته‌توب لنډيز رنګ هم ولري. شاعران زیاتره د مینې پر ناکامۍ او بې برخۍ ژړا شروع، بې له دې چې د علیت او عینیت له مخې پکې تو لنډيز او پا تکيزار پېچو نه په سمه توګه راو نغاړي. علت ومعلول سره زیاتره ګډوي ـ هر څه له خپل ځانګړي بخت او بر ځایيك څخه انګېري، یا په بله وینا، فتالېزم (برخلیکوالي ـ تقدیر ګرایي) ته پناوړي او په دې توګه خپل ساده ازمان او ردیدلي احساس او کرومونه څرګندوي. دغې ډلې شاعر از فرهنګي کچه، لید توګه او نوي لید د مرحالرته ورشو نه لري چې د خیال او اند نیلي پکې هرهواو ځغلوي ر او ځغلوي او څه داسې نوي څېزونه و ځلوي چې له فرهنګي پلوه تيتنيو پوړونو څخه لوړو دود یالو او روښاندو پوړو نوته هم دمنني او څو زدا څیستني ورشي.

ځینې نیم ولسي شاعران که څه هم د لوړ وزده کړو اوله‌دی سره د پرمختللي لید توګي، نوي لید او اند پوهي ځښتنان دي او ارمان او پیغام یې هم پوره لوړ او اګاهانه وي، مګر بیا یې هم شعر د هنر له پلوه له نو ووولسي‌هغو سر کوم تو پیر نه لري اولا کله تري ښايي بيخي وروسته هم وي، لکه په انقلابي پېرکې چې یې شعره پیلګي ولېدل شوي، داسې چې له وزن وقافيې پرته پکې نور د شعریت هيڅ څرك نه لګېږي. ددغه راز انقلابي شاعرا نو یا لاظم‌انو تش په نامه شعرونه ښايي دیوه‌ما ده لوځ او بر بنه تبلیغي شعار په توګه، هغه هم د موسيقي په ملتیا ساده پر کنو ته خپل دا نګ پيلي پیغام ولیږدوي، خو اغیزښند نه يې په شك کي ځکه ده چې کوم هنري را کښون نه لري او روښاندي (روشنفکره) پوړ څوورته یې له هغي کوم ارزښت نه ورکوي.

۷ - ٦ : له کره شعر سره د نیم و لسي شعر پر تله :

۷ - ٦ - ۱ : تردا مخ لومړی کره شا ګر تیاغا ویه وا لی ده او دواړه دوله لمدود یزو شعری څیلونو (غزل، مثنوی ، بوللی، څلوریزی ترجیع بند ، ترکیب بند ...) سره کار لری .

۷ - ٦ - ۲ : نیم ولسي شعر پر پور ته یو ولسي شعری څیلو نو (ژ انرونو) سر بېره ځینی ولسي هغه هم را اخلی ، لکه لوبه ، بګتی ، چاربیته، داستان، ترانه ...

۷ - ٦ - ۳ - نیم ولسي شعر د مو سیقی له پلوه زیاتره پر ولسي اهنګو نو ږدو ه لګوی او لیږ وا د ید د غزل په بر خه کی په کره دود یزو ال هغه پسی هم ځی .

۷ - ٦ : ۴ په ژب - ښکلا یزه برخه کی لکه د ښه چی وویل شول زیا تره د نیم ولسي د ود یزوال شعر تر اغیز لاندی تیکاو لری او همدا راز یی ژبه - الد یزه یا منځوا ځګوزه خو اهم د روا شله چی له غاد نو ، ستا یڼو ، و یار لوښښه نه راوځي . کره شعر یوا زی د شعری تخنیك او څیل له مخی په پخو زرو (کلاسیکو) شعر و لو پسی نه ځی ، بلکه ترڅنګه یې ژب ښکلایزه لا روی هم کوی او پر دی سر بېره بری خپل لو ښتو نه اواز سیجتو نه هم ور زیاتوی اوله همدغه پلوه له نیم ولسي شعر سر ه جوت بر یله چوړوی . که څه هم ښا ئی په یولړ دو دیزو تکراری ویینو نو ، قافیو ، رد یفونو او انځورونو کی ور سره ګډ ون و لری ، خو په خو ا کی یې د نو ی ا ز ادشعر اغیزمننه کیدای شی ، دغه که بوت تر سیو ری لاندی را ولی او د چاپېر م سکیندہ (جبران) یې کېږ ی .

داوسنی کره شعر څوری پیلګی د څه غسی یو ګډ وه (سنتیز) زېږنده ده ، لکه واخلی داستاد حمزه، رسا ، مفتون ، خیال ، اجمل

ختک، قلندر مومند، اعظم، مراد، زاهد، سلیم، امین، اندیش
سایل اوراوړ لایق، پسرلی، شپون، فاراني، جهاني، کمین
کاوون، ننګیال، اسد، بهاند، کامران، خزان، پوهاند، مسلک
ژړه سواند، صفي، پروین ملال، تکور، شیرزاد اغېز، اسماعیل یون
هادي، تکل، ارمان، هغه (چې په دې ډله کې ځینې د نوي ازاد
شعر امتیازي هم دي).

د ولسي او نیم ولسي شعر ترمنځ بریده تاکنه کله کله په ډېره ګرانه وي
چې لږ و ډېر یو د بل ځانګړنه ورننوځي، د ساري په توګه د الفت،
خادم، بېنوا، پژواک، ش. مجروح په ګڼه کره شعر دلته او هلته
ډېرې مستې ځانګړې هم لري او هغه اسې ځوان پښت هغه هم د رواخله
خو دلته باید دا په پام کې ونیول شي چې د یوه تاکلي شاعر د شعر
ټوله کومې خواته درنه ده او د دغه راز کچ ومیچ لپاره له دې
پرته بله لیار نشته چې هره ځانګړه یې بېلا بېله تر ارزونې لاندې
ونیول شي او په پای کې یې چې کوم ډول شعر ونه ډېر وختل،
د هماغو له مخې به یا نیم ولسي شاعر بلل کېږي او یا کره شاعر
د ځانګړې په توګه الفت، خادم، بېنوا او داسې نور شاعران کولای
شي د کره شاعرانو په لړ کې و دروو، ځکه د ولسي دود پزوالي شعري
ځانګړې یې تر رو هغو زیاتي نه راځي. په سرچپه ډول د نیم ولسي
شاعرانو په شعر کې هم شا یې داسې ځانګړې و مومو چې له کره
هغه سره ډغري ووهلای شي مګر د اچې دغه ځانګړې یې لږه کې برخه
جوړوي، نو لاچاره یې په نیم ولسي شاعرانو کې شمېر و، لکه واخلی
یوسنا، پښتانه نسي، غرز نه، قتیل، یا حافظ چې ورم کال
یې سا په یوه هو ښه، کې یوه لنډه ارزونه وراندې

کړه (مباوون : سلواله ١٣٦٦ پښتمه ګڼه)، که له ځايه د حافظ
په نيم ولسي شعر کې دومره کره بېلګې راچاپ کړای شوچې د ساري
په ډول د کمين يا زړه سواند له پرمختللو بېلګو څخه څومره بيزه
(کمي) تيري وکړي او د کمين بازړه سواند په برخه کې د دا ډول
سرچينه بريښي څکه د وازو په ګډه د نصرالله حافظ هومره شعرونه نه
دي ويلي . همداسي کيداي شي سيلاب ساپي ، فناساي ، دوست ،
ممنون او داسي نور شاعران هم د شعر د لړوالي په برکت له پېنا
قتول يا حافظ څخه خپل برید راجلا کړای شي او د کمين، امداوزره
سواند په لړ کې ځای ونيسي . داخبره هم د لته د يادولو وړده چې
ځيني ځوان شاعران داوسنيو څخو اوديزم او پرمختايي لوځي
سره سم داسي بريښي چې د نوي آزاد شعر په لا روي خپله لیارله
نيم ولسي او کره شاعرانو څخه را بيله کړای شي ، لکه واحلي :
ځل، سنګروال، کلهوال، چکړ، مواج، سپال کاکړ، رازق، ياري،
راسا ، روښن .. او يا ځيني نور چيا ليې ترايره د بوه تا کلي ژانر
لکه «غزل» د مبالوني له لاري له نيم ولسي شاعرانو څخه ځانونه
راجلا کړي، لکه : کاموال ، غزولي ، سميع ، رازقي ، شرفيار .
د نوي او آزاد شعر لاروپان همچايي ځيني داسي مسقط قافيه وال
شعرونه لري چې د ولسي څخو تر ګڼي پوري ورسي ، مګر دا چې
يوځوايي د شه بېلګې د شعر په لومړنيو تقليدي او ازمېښتي ګامونو
اړه لري او را وروسته يې دومره نوي او ازاد شعرونه ويلي چې
د څومره والي له پلوه يې تر لومړنيو څخو تيري کوي، نوکه وغواړو
او نه غواړو، د نوي او ازاد شعر دا ستا زيو په دله کې يې شمېر و
او يا په ټوره چې ورځ تر ورځ يې پرمختيايي بڼې په خپلو سترګو ګورو.

٧ - ٧ : له نوي آزاد شعر سره د دود پرزوال شعر پرتله :

دلته کیدای شي، یوازې کره شعر له نوي آزاد شعر سره په تله کې واچوو، خو ولسي (دودیزوال) هغه خوور سره په هیڅ ډول د پرتلې وړ کیدای نه شي، لکه څنګه چې پورې د هغه رڼا واچول شوه.

۷ - ۷ - ۱ : نوی آزاد شعر د (کره) او دودیزوال هغه غوندې د قافیې، ردیف، عروض الدول او نورو راز راز کلاسیکو قالبونو او څېلوانو په کړ یو کې شکول نه دی او یوازې د پښتو په تاګلي شعري تخنیک (سیلابوتونیک) کې ورسره تړون لري چې دلته ورسره ولسي هغه هم په یوه لړ کې راځي .

۷ - ۷ - ۲ : د نوي آزاد شعر ژبنۍ جوله (بڼه) تر (کره) او دودیزوال هغې لوړه او معیاري ادبي ده . له نویو نویو وییونو او ترنګونو (لغتونو او ترکیبونو) سره کار لري. داسې چې یې له یوه تاګلي شعر کې له هر راز بې ځایه تکرار څخه ډډه کیږي او له دې سره له لنډون او سپما څخه کار اخیستل کیږي او هغه وییونه او ترنګونه یا ګړلي (محاورې) یا ستلونه چې شعري جوله بېخونده کوي، پرېښوول کیږي، حال دا چې په قافیه وال (دودیزوال) شعر کې لږ تر لږه قافیه او ردیف تر پایه بیا بیا راځي او هغه هم چې له نورو شاعرانو سره ګډون ولري او د (ابتذال) تر بریده رسیدلي وي .

۷ - ۷ - ۳ : د نوي او آزاد شعر هنري یا شکلاییز اړخ له هره پلوه تر (کره) او دودیزوال هغه نوی پیاوړی او زړه راکښونکی دی. دلته د نویو تشبیهي انځورونو ترڅنګه پر نویو نویو استعارو ډېر زور اچول کیږي، که په ښکاره له (کره) دودیزوال شعر سره ګډون هم ولري، مګر د دې برو باریکو تشبیهي او استعاري اړخونو (وجوهو) په کارونې سره یوه تازه ساه ور کوي. له بله پلوه له انځورنې

(تمثيل) تخييل ، اسطورو او سمبولونو څخه هم د ډېر کار اخيستل کېږي او په دې توګه په ډېره لږه ژبنۍ جوله کې ډېر څه رانغاړي او له دې پلوه چې کوم لنډون (ايجاز) او پېچلتيا (ابهام) رامنځته کېږي، له اوسني آر (اصل) سره سم د شعر يو ضروري آر (شرط) پرځای کوي حال دا چې (کره) دوديزوال ورسره په دغه هنري پېچلتيا او لنډون کې سيالي نه شي کولای . ترڅو يا څرګندتيا (صراحت) او پرېنه تياله شعري ښکلتوڅخه زه ګيل کېږي، ځکه شعر يوه ناسيده څرګند ونه ده، نه يوه عادي ژبنۍ څرګندونه چې اورېدونکي يا لوستونکي دي پرې هرو مرو سم له سمولي پوه شي، بلکې په سرچپه ډول څومره چې پکې ډوب شي او تمرکز کړي ، هو مره تری خوند او اغېز ډېر اخلي، په دغه ډول د نوي او آزاد شعر ژبنۍ او هنري جوله د رنګا رنګتيا نوښتونو او پېچلتيا ترڅنګه يو په زړه پوري پياوړتيا او ژورتيا لري او له دې سره تري مخاطب لوري په ډېر څه عاطفي انداز کې اغېزمن کېږي لکه پخوا له ويونکي يي چې پکې د ويلو پروخت تېکاو درلود . نو ښکاره ده چې په داسې توګه نغاړلي پېغام يې هم په ټرا اغېزاو نفوذ کوي، يي له دې چې سونګې ډېرې مخکې له مخکې پوه شي او له منځه يې ووړه وکړي چې هر ګوره يو اړي څومني ډېر پاخه پرېښتلي (کره) دوديزوال شعرونه لېږوه يرله دغه توګه ونلای شي .

دغېږنو ويونو ډېر ما نه زوالي چې هر مهال هر راز ما نا (تعبير) کېدای شي، دنوي آزاد شعر له همدغې هنري پېچلتيا او يا په سرچپه ډول له اسهل ممتنع څخه سرچپه نه اخلي او په دې ډول د شعر په تلپا-تېوالي (ابديت) کې مټر اغېز لري ، په بله وينا د زمانو پر شعر اوړي . په (کره) دوديزوالو شاعرانو کې د حمزه په ګېر شاعر کولای

شي، د شعر ځانګړتیاوې روزي او وپالي، لکه چې وايي اکه پرېږده چې لفظونه د درو خوږو رښتیا کړم۔ ته راته صبا سبا کوزه پهېګا کړم.

۲-۲-۳: د انداو ښکلا یانګې له پلوه نوی آزاد شعر تل مضمون نی نوښتیالري، ډېری ږوچلي پدیدې راخلي او ډېر ژوراو پېچونه دعاطفت او عینیت په رڼاکې رانغاړي او له دې سره ګله له عادي شاعرانه څرګندولې (بیان)، فلسفي څرګندونې ته لوار پیدا کوي الفاظ ژور احساس بې باوري او لهجې لکه منداره پاك او سپیڅلي وي او له دې تولو سره سره یې پیغام په پوره شاعرانه، هنري، فلسفي او تولنیز توکونه (اجزاء) لري .

له ډېرو عادي ورځنیو پېښو سره د و سره تړانه لري، بلکې زیات تر کلمت او واقعیت ډډه لګوي او چاوپداني جوله پیدا کوي. مګر یو دوه بزوال یا قافیه وال شعر د لنډو تنګو قافیو، ردیفو، قالبو بندو، بیتو او مسرو له کلابه له شي کولای، د غه پری ترلاسه کړي او که بیا یې ترلاسه هم کړي، هغه به چېرې په کوم بیت نیم کې وي، نه په تول شعر کې . په لنډ ډول یو ازې او پواز یې نوی او آزاد شعر کولای شي د شعر له اوښنی منل شو ی پېژند (تعریف) سره سم پښپې ارخ ولګوي« شعر په کره کېښکلې او اهنګینه ژبه کې د خیال و فکر عاطفې ترون دی». اوس اوس د غه راز شعر زیاتره د انقلابي او ژمنو شاعرانو له خوا زیاته دود تیا موس. په دغه برخه کې یو کره کتونکې وايي: «... د دغه نسل د شعرونو او اثارو ځانګړنه دا ده چې دوی زیات د انقلابي بدلونو او پېښو تر اغېزې لاندې دی. دوی په خپلو اثارو کې د وخت د انسان خوښتنه ډېره ژوره ځای کړې ده او ژمنه او تعهد هم پکې ډېر پیاوړی دی . د دې نسل د شعرونو بله ځانګړنه دا هم ده چې تصویر او تخیل هم پکې ډېر پیاوړی او څرګند دی او د مز-

ظرف او په اصطلاح «شعر» په وړاندې هم پکې يو عصيان او سرغړاوی ليدل کېږي .

پاڅونو شعر ونو اوس زموږ په فرهنګي غونډو کې د پوهنې پوهنځي شکل غوره کړی دی او د دې باور هم شته چې د دې پوهانو په وړاندې راتلونکې موجوده ده او لکه څنګه چې د ژوندون ټولنيزو قالب ماتېدلو اثر پکې شته ، د شعر ازد څواني په وړاندې کې هم په ښکاره توګه کوي . . » (کرګر: خپرد بي پادوني ۱۹ مخ) (له پوهنځي څخه چاپ د کره کتونکي «بهير» سو څه و ي څکه پوره نخسي په ايزم اړه لري) . په دغه ليکنه کې له تپا کلي وينې سره سم د نوي ازاد يا پرمختللي (کره) دود يزوال شعر له بېلګو څخه تر پېړو او پو ازې پرته ولسي يا (ولسي) دود يزوالو څخو اس راوړو :

۱ — ستا محبت کې خوار و زاريمه
اوس پوښتنې ته بيا ريمه
لکه مجنون تل څګر خون ګرځمه
چې جدا شوې له خپل ياريمه
ساد اپاس په خندا مه خولوه
له ډېره غمه ناقراريمه
په نزاکت او په نخره سره يار
زمستي کړی په انګاريمه
واپي قرباد چې زړه سي تاله درګړ
ددې غمو نو سزاواريمه
۲ — سالو مې را که موري يارسي روان دي
غم دوطن چګړي تدامي ارمان دي
چې دوطن په سينه خپل مال و سرور کوي

مور جانې د امې ځلمي په ما ډېر ګران دی ...

۳- دا زموږ ه لاره ده

موږ په دې لاره مسـزل کـړو

څو به خپل هدف ته

رسېدو په اور تکل کړو ... (فریاد پډیوی) .

۴ - یووه رځ مې د ډاکتر سره څه کار و

کار مې څه و چې وروستی مې بیمار و

نو زهم د هر خلك را وستی ضرو رت و

په هغو کې څوك نا روغ او څوك صحت و

چا راوړی و احوال د ناروغانو

چا ترې پوښته کوله د رنځورانو

څوك راغلی هدایت ته د درو و

د دوا بوتل په لاس لیولی وروو

چا راوړی عکس وله اکسویژه

چې څه رنځ یې دا کتر له هره شېژه

هم د وینې نتیجه د چا سره وه

ځدای خبرو چې منفي وه که ګره وه

څو ك ځوا ناڼ و څوك سپین ږیری څوك وازه وو

څوك رالغستی و کرسی د چا سازه وو

هم راغلی پوښتنه زنانه وی

